# دافغانستان توقیف ځایونوکی دمنازعی اړوند توقیفیانو سره چلند

**دافغانستان لپاره دملگرو ملتونومرستندویه پلاوی**

**دبشرحقونو لپاره دمگرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر**

**اکتوبر ۲۰۱۱**

**کابل ـ افغانستان**

## فهرست

داصطلاحاتو قاموس........................................................................... iii

دیوناما دنده او دتوقیف ځایونو څخه لیدنی پروګرام........................................ iv

د ارزونی کړندود (میتودولوژی) ................................................................ vi

۱- لنډیز ......................................................................................... 1
اساسی سپارښتنی.............................................................................. 9

۲- تاریخچه..................................................................................... 12
د ملی امنیت ریاست او ملی پولیسو نقش .................................................. 12
د ملی امنیت ریاست ........................................................................ 12
د افغان ملی پولیس........................................................................... 13

۳- د ملی امنیت ریاست کی شکنجی ........................................................ 13
الف. عمومی نظر ............................................................................. 14
ب. د ملی امنیت تروریزم ضد مبارزی ۹۰/۱۲۴ ریاست کی شکنجی ....................... 14
ت. دکندهار ملی امنیت کی شکنجه.......................................................... 19
ج. دهرات ملی امنیت کی شکنجه............................................................ 23
د. د خوست ملی امنیت کی شکنجه.......................................................... 25
ر. د لغمان ملی امنیت کی شکنجه .......................................................... 29
ز. د ملی امنیت نورو توقیف خانوکی چال چلند............................................. 30

۴- دافغان ملی پواسطه شکنجه او ظالمانه،غیرانسانی یا تحقیر کوونکی چلند ............... 31

۵- د نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا د توقیفیانو استول ملی امنیت او ملی پولیسو ته............. 33

۶- د ملی امنیت او ملی پولیسو د توقیفیانو د شکنجی او سؤاستفادی حساب ورکونه .............. 36
الف- د ملی امنیت د مسؤلینو د حساب ورکونی تدابیر ...................................... 36
ب- د ملی پولیسو مسؤلینو د حساب ورکونی تدابیر ......................................... 37

۷- قانونی طی مراحل څخه سرغړونه او خپل سری توقیف ................................... 38

۸- دحکومت او نړیوالو غبرګون (ځواب)........................................................ 42

۹- پایله (حل) .................................................................................. 43

۱۰- سپارښتنی.................................................................................. 45

ضمیمه :۱ د تطبیق وړ قانون................................................................... 48

ضمیمه ۲: د افغانستان توقیف ځایونوکی دمنازعی اړوند توقیفیانو سره چلند په باب د یوناما راپور په اړه د افغانستان دولت، د ملی امنیت ریاست او د داخلی وزارت نظریی (اصلی متن چی په دری ژبه یوناما ته استول شوی دی) .......................................................... 52

## داصطلاحاتو قاموس

لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ایساف | نړیوال مرستندویه امنیتی ځواکونه |
| یوناما | دافغانستان لپاره دملګروملتونومرستندویه پلاوی |
| لوټفا | وجهی صندوق دافغانستان قانون او نظم لپاره |

# دیوناما دنده او دتوقیف ځایونو څخه لیدنی پروګرام

**دیوناما دنده**

د ۲۰۰۴ کال راهیسی، دملګرو ملتونو دامنیت شورا په افغانستان کی دملګروملتونو مرستندیویه پلاوی (یوناما) ته دنده سپارلی چی د د محابسو د بیا رغاونی او اصلاح په شمول د یوعادلانه او روڼ عدلی سیستم رامنځته کولو ملاتړ او د قانون حاکمیت لپاره د افغانستان دولت سره مرسته وکړی.

دملګروملتونو د امنیت شورا ۱۹۷۴ شمیره پریکړه لیک (۲۰۱۱کال ) یوناما ته دنده سپاری چی په عدلی سیستم او محابسوکی بشری حقونو ته د لاندی ذکر شوو ټکو له لاری احترام زیات کړی:

۲۱— په افغانستان کی ټولو محابسو او توقیف ځایونو ته داړونده اداراتو د لاسرسی د تأمین پر اهمیت، او د نړیوالو بشر دوستانه او بشری حقونو قوانینو په شمول اړونده نړیوالو قوانینو ته د احترام پر دعوت تأکید وکړی.

۳۱— یو ځل بیا تأکید کوی چی د ټولو اړونده ارګانونو او نورو فعالینو په واسطه "د ټولو لپاره د عدالت او قانون ملی لومړیتوبونو پروګرام" بشپړ، منظم، پر وخت او همغږی تطبیق، د یو روڼ او روښانه عدلی سیستم د رامینځ ته کولو، او د معافیت له منځه وړلو په نظر کی نیولو سره، په ټول افغانستان کی د قانون حاکمیت کی برخه اخیستل ډیر ارزښت لری.

۳۲— د قانون حاکمیت او بشری حقونوته داحترام په موخه په فغانستان کی د آزادۍ د سلبولو د ځایونو پر بیارغونه او اصلاح تأکید کوی.

**له توقیف ځایونو څخه د یوناما د نظارت پروګرام**

د نومبر ۲۰۰۶ څخه تر سپتمبر ۲۰۰۷ پوری، یوناما او دافغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون دافغا نستان محابسو او دپولیسو نظارتخانو کی د خپل سری توقیفونو د تصدیق د کمپاین په ترڅ کی څه د پاسه ۲۰۰۰ توقیفیانو سره مرکی ترسره کړی. د کمپاین په بهیر کی د عدلیه وزارت او کورنیو چارو وزارت په توقیف خانوکی یی د توقیفیانو نظارت کړی. دی کمپاین په افغانستان کی د وسله والی شخړی په تړاو توقیفیان (په دی راپور کی د منازعی اړوند توقیفیانو په نامه یادیږی)، د ملی امنیت او نړیوالوځواکونوله خوا توقیف شویو په شمول، تر پوښښ لاندی نه وو راوستلی. دی کمپاین "په افغانستان کی خپل سری توقیف: د اجراآتو لپاره غږ" تر عنوان لاندی یو عامه راپور خپور کړ، چی په هغی کی ښودل شوی وو چی وه افغانان د پولیسو، څارنوالانو، قاضیانو او د توقیف خانو دمسؤلینو له خوا تل او په مداوم شکل په سیستماتیک او بیلابیلو شکلونو په خپل سر توقیف کیږی. دی ریپورټ د خپل سری توقیف د ختمولو په موخه اړونده مقاماتو ته اته سپارښتنی وړاندیکړی.[1]

اما په ټول افغانستان کی د محابسو ، توقیف خانو، دماشومانو داصلاح او تربیی مرکزونو، او د ملی امنیت او ملی پولیسو دتوقیف خانوڅخه خپلو لیدنو ته دوام ورکړی. یوناما د توقیف خانو مسؤلینو، امنیتی چارواکو، قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو او نورو ذیدخله اړخونو سره د توقیفیانو سره چنلد ښه والی په موخه خبری اتری کړی ترڅو د امنیتی کارکونکو او پولیسو له خوا د قانونی طی مراحلو د تضمیناتو احترام وشی.

---

۱په افغانستان کی خپل سری توقیفونه : د اجراآتو لپاره غږ. (۱) د وګړو د حقونو څخه د بشپړ قانونی تحفظ په موخه دی د هیواد د حقوقی دستګاه بیا کتنه وشی. (۲) نظارت او حساب ورکونه دی روښانه او پیاوړی کړای شی. (۳) د ولسوالیو، ولایاتو او مرکز په کچه د بیلابیلو بنسټونو تر منځ د همکاری پراخوالی لپاره دی هڅی وشی. (۴) ترینننګ او ظرفیت لوړولو ابتکارونه دی داسی تنظیم کړای شی چی د عدالت په هکله مختلفی نظریی روښانه کړی او د هغی لپاره مناسبو افزارو ته وده ورکړی. (۵) د عامو خلکو او بندیانو لپاره دی د توقیفیانو د حقوقو په هکله د عامه پوهاوی یو ملی پروګرام په لاره واچول شی. (۶) د مدافع وکیلانو روزنه او ترینننګ، د حقوقی مرستو یو ملی پروګرام او د ولسوالیو د ضرورت په اساس د حقوقی همکارانو لیږلو ته وده ورکړی او پیاوړی یی کړی. (۷) د ابتکارونو د تطبیق په موخه د بودجی او نورو منابعو تخصیص. (۸) د داخله وزارت او عدلیی وزارت د توقیف ځایونو او محابسو مسؤلینو، د پولیسو مأمورینو، څارنوالانو او قاضیانو ته چی د توقیف شوو د بشری حقونو او قانونی طی مراحلو او نورو حقوقی مکلفیتونو ته په احترام کی پاتی راغلی وی، انضباطی جزا او عدلی تعقیب لاندی راوستل شی.

دټول افغانستان په کچه دمنازعی اړند توقیفیانو سره د بد چلند په هکله دټولنی لخوا د ګڼ شمیر اندیښنو ښکاره کولو په ځواب کی یوناما د افغان دولت او اړوند اړخونو په سلا مشوره، د۲۰۱۰ کال اکتوبر میاشت کی دتوقیف خانوڅخه د نظارت پروګرام پیل کړ. دپروګرام خاصه توجه د هغه توقیفیانو دحالت په هکله وه چی دافغانستان د وسله والی شخړی سره په تړاو نیول شوی وو. دغه راپور د ۲۰۱۰ اکتوبر څخه ۲۰۱۱ کال اګست پوری د یوناما د یاد شوی نظارت موندنی وړاندی کوی. دولتی مسؤلینو د ملی پولیسو، ملی امنیت، عدلیه وزارت او نورو اړوندو اداراتو د یوناما دتوقیف خانو څخه نظارت په برخه کی بشپړه همکاری او مرسته کړی ترڅو ټولو د ازادی سلبولو ځایونوته لاس رسی پیداکړی. د کاپیسا دملی امنیت ولایتی توقیف خانی او په کابل کی د تروریزم سره د مبارزی توقیف خانی ۹۰ ریاست (فعلا د ۱۲۴ ریاست په نامه یادیږی) [2]

په استثنا، د ملی امنیت مشرتابه په ځانګړی توګه مرسته وکړه ترڅو د یوناما لاسرسی د ملی امینت ټولو توقیفیانو ته یقینی کړی. په دغه دوو توقیف خانوکی د توقیف یانو سره چلند په هکله په نورو توقیف خانوکی دهغه توقیفیانو سره د مرکو پربنسټ اټکل شوی چی په تیر وخت کی د کاپیسا د ملی امنیت ولایتی توقیف خانه او یا ۹۰/۱۲۴ ریاست کی توقیف وو.

[2] د ۲۰۱۱ کال په لمړیو کی دملی امنیت ریاست دخپلو ریاستونو شمیری بدلی کړی . پدی راپورکی پخوانیو شمیرو ترڅنګ نوی شمیری هم یادی شوی .

## د ارزونې کړندود (میتودولوژی)

د ۲۰۱۰ اکتوبر څخه د ۲۰۱۱ تر اګسټ پورې، د ۲۲ ولایتونو په ۴۷ توقیف خانو کې د افغان ملي پولیس په نظارتخانو، د ملي امنیت ریاست په توقیف ځایونو، د عدلیې وزارت په محبسونو او د ماشومانو د اصلاح او تربیې په مرکزونو کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د ۳۷۹ د محاکمې څخه مخکې توقیفیانو او محکوم شویو محبوسینو سره په ۲۲ ولایتونو کې مرکې ترسره کړې[3]. څرنګه چې ځینې توقیفیانو د ولایاتو ترمنځ انتقال شوی وو، نو دا مرکې د ۲۴ ولایتونو د تو قیفیانو سره وشوې.[4]

په دې مختلفو توقیف خانو کې، یوناما د توقیف خانو د مسؤلینو او نورو اړوند دولتي چاروا‌کو سره لیدلې، د توقیف خانو له ټولو برخو څخه یې لیدنه کړې، د راجستر کتاب یې کتلی او په تصادفي توګه یې توقیفیان د مرکې لپاره انتخاب کړي او ورسره یې په یواځیتوب کې مرکې کړې.

د ۳۷۹ څخه ۳۲۴ تنه توقیفیان چې یوناما لخوا ورسره مرکه شوې د وسله والو شخړو اړوند مظنونین یاهم محکومین وو.[5] دغه ډول توقیفیان عموماً د ۱۹۷۶ کال جزا قانون[6]، د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت د داخلي او خارجي امنیت ضد جرایمو قانون (۱۹۸۷)، یا د تروریزم ضد قانون (۲۰۰۸) له مخې د دولت ضد جرایمو په جرم تورن کیږي. یوناما وموندله چې ۳۲۴ تنو د وسله والو شخړ اړوند توقیفیانو له جملې څخه ۴۸ سلنه یې د دولت ضد وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن وو، ۲۰ سلنه یې د چاودیدونکو یا نورو وژونکو موادو په درلودلو متهم وو،او ۱۱ سلنه یې په ناکامه ځان وژونکو بریدونوکې ګډون په درلودلو تورن وو. ۲۱ سلنه د قضیو متهمین نه پوهیدل چې دوی په کوم جرم نیول شوي .

د۳۲۴ څخه ۲۷۳ تنه توقیفیان د ملي امنیت ریاست په توقیف خانوکې ساتل شوي وو (۱۹۶ تنه یواځې دملي امنیت ریاست له خوا، ۶۹ تنه دملي امنیت ریاست او پولیس له خوا، ۸ تنه د ملي امنیت ریاست او افغان ملي اردو له خوا)، ۱۱۷ تنه د افغان ملي پولیسو په نظارت خانوکې ساتل شوي وو (۴۷ تنه یواځې د افغان ملي پولیسو له خوا، ۶۹ تنه د افغان ملي پولیس او ملي امنیت ریاست له خوا او یوتن د افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو له خوا) او ۱۲ تنه د افغان ملي اردو په نظارت خانوکې ساتل شوي وو (۳ تنه یواځې د افغان ملي اردو له خوا، ۸ تنه د افغان ملي اردو او ملي امنیت ریاست له خوا او یوتن د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو له خوا).[7]

د ۳۲۴ تنو وسله والو شخړو اړوند توقیفیانو له جملې څخه چې یوناما له خوا ورسره مکه شوې، ۱۲۶ تنه یواځې د ملي امنیت ریاست لخوا نیول شوي وو، ۸۴ تنه یواځې د افغان ملي پولیس لخوا، ۸۹ تنه د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا (یواځې یاهم د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په ګډه) نیول شوي، ۱۰ تنه یواځې د افغان ملي اردو له خوا نیول شوي، او د نورو له خوا (لکه افغان محلي پولیس، د داخلي وزارت د جنایي جرمونو سره د مبارزې ریاست، او یا هم د محلي قوماندانان) ۸ تنه نیول شوي وه . د ۳۲۴ تنو له جملې څخه ۷ تنه نه پوهیدل چه دچا لخوا نیول شوي وه.[8] د ۸۹ تنو توقیفیانو له جملې څخه چې یواځې د نړیوالو ځواکونو لخوا یاهم د افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډه نیول شوي وه، ۵۵ تنه یې په لمړۍ مرحله کې د ملي امنیت ریاست توقیف ته لیږل شوي وه،

---

[3] دغه ولایتونه غبارت دی له بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ،بامیان،دایکندی،فراه،هرات،کابل، کندهار، کاپیسا، خوست، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پکتیا، سمنګان، سری پل، تخار، ارزګان، او زابل

[۴] بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندی، فراه، هلمند، هرات، کابل، کندهار، کاپیسا، خوست، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پکتیا، سمنګان، سر پل، تخار، ارزګان، وردګ او زابل.

[5]دیوناما لخوا مصاحبه شوی ۳۷۹ توقیفیانو څخه ۵۵ تنه دجنای جرایمو پراساس نیول شوی وه که څه هم یوناما د منازعې سره په تړاو توقیفیانو څخه په غیرمنظم توګه مصاحبې لپاره انتخاب کړیوه ولې د ملي پولیسو او عدلیه وزارت اړوند محبسونوکې ځینې وخت ډیر مشکل دی چې مخکې له مصاحبې تشخیص شي چې توقیفي منازعې په تړاو نیول شوی یا جنای جرم لري.

۶ رسمي جریده شمیره .۳۴۷ (۷ اکتوبر ۱۹۷۶). د مسلحانه منازعې سره په تړاو توقیفیان اکثرا د دوم جلد ، لمړی برخه ، دوم فصل (ماده ۲۰۴ – ۲۵۳ ) سره مجازات کیږي ، کوم چې ددولت داخلي امنیت سره تړاو لري ؛ ولې همدارنګه د غیر مجاز سلاح لرو د احکامو سره هم راتلای شي سلاح (۳۴۶ ماده ) او چاودیدونکی مواد (۳۶۲ ماده ).

[7]مجموع شمیره ۴۰۲ده (۳۲۴ نده) ځکه چې ۷۸ تنه دملي امنیت او ملي پولیسو دواړو له خوا یا هم د ملي پولیسو له خوا توقیف شوي وو.

[8]په ځینو مواردو کې توقیفیان نړیوال نظامي ځواکونه د هغو ځواکونو څخه وپیژندل چې په فزیکي ډول توقیفیان نیولي دی. په ځینو نورو مواردو کې افغان ملي ځواکه چې له نړیوال نظامي ځواکونو سره ګډ عملیات درولود نیوني ترسره کړې دی. په ځینو نورو موادو کې توقیفي اصلاً په دې پوه شوي نه دي چې د چا له خوا نیول شوي دي، ځکه چې دا ځواکونه مشخص یونیفورم نه درلودل، مخونه یې پټ وو، د شپې بریدونو او تیاره هوا له کبله ونه شوای کولای نیوونکي ځواکونه وپیژني، او یا هو مخکې له دې چې نیوونکي ځواکونه وپیژنې د توقیفي مخ پټ شوي و.

۲۸ تنه یی د افغان ملی پولیسو نظارت خانی ته استول شوی وه او پنځه تنه یی دعدلیی وزارت محبس ته لیږل شوی وه.

د ۳۲۴ تنو منازعی اړوند توقیفیانو سره د مرکو په جریان کی د یوناما اساسی تمرکز د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیسو له خوا د توقیفیانو سره پر چلند او د حکومت کړنی د توقیفیانو د قضیو په اړه د قانونی طی مراحل د ضمانتونو پر بنسټ چی دافغانستان او نړیوال بشری حقونو د قانون پراساس تضمین شوی، و.

یوناما د هغو توقیفیانو سره چی د وسله والی نښتی سره په تړاو نیول شوی وو او د مرکو لپاره په تصادفی توګه انتخاب شوی وو، مورنی ژبه (پښتو یا دری) و یواځیتوب کی (پرته د توقیف خانی د مسؤولینو، دولتی کارمندانو او نورو زندانیانو د موجودیت څخه) مرکی کړی. مرکی د ټولو توقیفیانو سره د هغوی په خوښه او رضایت سر ته رسول شوی دی.

د یوناما ټول مرکه کوونکی په معیاری ډول روزل شوی وو، پوره لارښوو ورته شوی وه چی څرنګه مرکه ترسره کړی، د معلوماتو د صحت ارزونه وکړی، محرمیت وساتی او د یوناما د بشری حقونو څانګی د متخصصینو او امرینو تر نظارت لاندی د توقیف، شکنجی او بدرفتاری په اړوند معلوماتو صحت ثابت کړی. مرکه کوونکو د نقل ورکوونکو سوالونو څخه ډډه کوله او له توقیفیانو څخه یی غوښتل چی د خپلی قضیی کیسه په ازاده توګه واوروی (مرکو د نیم ساعت څخه تر یونیم ساعت پوری دوام پیدا کاوه او ځینی توقیفیان د څو ځلو لپاره هم مرکه شوی). د بدرفتاری او د قانونی طی مراحلو د وضاحت لپاره مرکه کوونکو پوښتنی مطرح کړی او د توقیفیانو څخه د لاس ته راغلو معلوماتو د صحت او تصدیق لپاره یی هڅه کړی چی د توقیفیانو د خپلوانو، مدافع وکیلانو، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون کارمندانو او کارپوهانو، د بشردوستانه مرستو د ادارو کارمندانو، روغتیایی کارمندانو او نورو سره مرکی وکړی.

په ځینو مواردو کی د یوناما مرکه کوونکو د ټپونو، نښو، داغونو، بنداژونو او طبی درملنی نښی (چی ښایی د شکنجی او بدرفتاری له امله منځ ته راغلی وی) او همدارنګه د شکنجی د وسایلو نښی (لکه پلاستیکی پایپونو) چی د توقیفیانو له خوا بیان شوی دی، کتلی دی. د ملی امنیت ریاست د هدایاتو سره سم یوناما نه شو کولای چی د توقیفیانو سره د مرکی په دوران کی عکاسی او ویدیویی کمری، موبایل ټیلیفونونه او د اواز د ثبتولو وسیلی له ځان سره ولری، چی دغه هدایات د یوناما له خوا رعایت شوی دی.

د خپل نظارت په دوران کی یوناما هیڅ ښځینه توقیفی پیدا نکړه چی د وسله والو شخړو په تړاو نیول شوی وی. په عمومی ډول مسؤولین ډیری لږ شمیر ښځی د وسله والو شخړو په تړاو توقیف کوی. د افغانستان په محبسونو کی د ښځینه بندیانو اکثریت هغه ښځی جوړوی چی د شرعی احکامو یا عرفی قوانینو څخه د سرغړونی او اخلاقی جرمونو په تور توقیف یا محکومی شوی دی.[9]

په مجموعی توګه یوناما د ۳۷ توقیفیانو سره مرکه کړی چی د توقیف په دوران کی د دوی عمرونه له ۱۸ کلونو څخه کم و.[10]

د یوناما مرکزی دفتر د بشری حقونو څانګی څخه تحلیل کوونکو ټول راټول شوی معلومات او موندنی سره یو ځای کړی او د صحت او کیفیت یی ډاډمن کړی.

د توقیف خانو څخه د نظارت پروګرام د پلان جوړولو او د نظارت په دوران کی زیاتو دولتی او نړیوالو مراجعو دا اندیښنه څرګنده کړه چی احتمال لری د توقیفیانو له خوا د شکنجی او بدرفتاری په باب بی بنسټه او درواغ

---

[9] په افغانستان کی خپل سری توقیفونه: د عمل لپاره یو غږ (UNAMA/OHCHR، جنوری، ۲۰۰۹). د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرایمو پرضد مبارزی دفتر(UNODC) تحقیقات دا موندلی چی د افغانستان په توقیف خانو کی د ښځینه بندیانو ۵۰ سلنه یی د "اخلاقی جرمونو" په تور؛ ۲۸,۵ سلنه یی د قتل د قضیو په تور او ۱۲,۵ سلنه یی د اختطاف په جرم توقیف شوی دی. افغانستان: ښځینه بندیانی او په ټولنه کی دهغوی بیا یوځای کیدنه (UNODC، مارچ، ۲۰۰۷) . همدارنګه په افغانستان کی ناوړه دو دونه او دښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع دقانون تطبیق هم وګوری (یوناما، دسمبر ۲۰۱۰).

[10] د ماشومانو د حقونو د نړیوال کنوانسیون پراساس د ماشوم حقوقی تعریف دا دی: ماشوم هغه کس دی چی عمر یی له ۱۸ کلونو څخه کم وی ( ۰ – ۱۷ کلونو).

ادعاګانې وارد شي. په دې معنی چې ځینې یاغیان د دې لپاره روزل کیږي چې د بدرفتارۍ دغه درواغ او بې بنسټه ادعاګانو په کارولو سره د دولت ضد تبلیغات خپاره کړي.

د نظارت او تحلیل پروګرام د طرح کولو په دوران کې دغه اندیښنې هم په نظر کې نیول شوې وې. دا د ناوړه چلند ادعا ګانې په عموم ډول او په ځانګړو توقیف خانو کې د یوناما له خوا په جدي توګه تحلیل شوې چې روښانه کوي چې په ځانګړو توقیف خانو کې ناوړه چلند موجود و او د بې بنسټه او جعلي ادعا ګانو امکان د لاندې دلایلو پر بنا معمول نه ګڼي:

- په هغه توقیف خانو کې چې یوناما ورځخه لیدنه او نظارت کړی تر زیات حده پورې کوښښ شوی چې د توقیفیانو د غیرحقیقي داستان جوړونې څخه مخنیوی وشي، (ځینې وخت د توقیفیانو یوه ډله خپلې حقیقي کیسې او یا هم د بدرفتارۍ په هکله افواهات په قصدي او یا غیراختیاري ډول له یو بل سره شریکوي چې په پای کې ورڅخه یوه ګډه ویناا و کیسه جوړیږي). د ملي امنیت ریاست په توقیف خانو کې کله چې یوناما مرکې تر سره کولې، نو د یوناما کارکوونکې په دې پوهیدل چې په توقیف خانه کې دننه توقیفیان له یو بل څخه جلا ساتل کیږي. په دې توګه یوناما په دې ډاډه وه چې هغه توقیفیان چې یو شانته کیسې بیانوي دې توقیف خانې ته د رسیدلو راهیسې یې دا فرصت نه دی درلودلی چې یو بل سره وګوري او درواغ خبرې جوړې کړي.

- یوناما په مختلفو توقیف خانو کې له توقیفیانو سره مرکې کړې دي چې مخکې له دې چې نورې توقیف خانې ته منتقل شي، په مختلفو وختونو کې د ملي امنیت د عین ادارې له خوا نیول شوي وو نو له دې کبله د دې احتمال ډیر کم دی چې دغه توقیفیان په ډله ایزه توګه یوشانته کیسې جوړې کړي.

- یوناما په مختلفو توقیف خانو کې له توقیفیانو سره مرکې کړې دي چې مخکې له دې چې نورې توقیف خانې ته منتقل شي، په مختلفو وختونو کې د ملي امنیت د عین ادارې له خوا نیول شوي وو نو له دې کبله د دې احتمال ډیر کم دی چې دغه توقیفیان په ډله ایزه یا انفرادي توګه یوشانته کیسې جوړې کړي.

- د ټول هیواد په کچه د اتهاماتو کومې نمونې چې لاس ته راغلې دومره له زیات توپیر لري چې د دې امکان نه لیدل کیږي چې توقیفیان دې له مخکې نه روزل شوي وي چې د توقیف په وخت کې د شکنجې درواغ ادعا وکړي. دغه نمونې درې ځانګړتیاوې لري: اول، په راپور ورکړل شوو بدرفتاریو کې ډیر فرق موجود و او دغه ادعاوې زیاتې یوې ځانګړې توقیف خانې پورې تړلې وې. له دې کبله دا نا شوونې ده چې مخالفین دې مخکې له مخکې د هرې توقیف خانې په سیمه کې خپل خلک روزلي وي. دویم، دا دې چې دهرې توقیف خانې په هکله د مختلفو ګروپونو اړوند توقیفیانو (لکه محلي اختطاف ګرې ډلې او د یاغیانو مختلفې ډلې) یوشانته ادعاګانې کړې دي. نو د دې امکان نه شته چې دغه ټولې مختلفې ډلې دې مخکې له مخکې روزل شوي وي. دریم، د اتهاماتو لاس ته راغلي بیلګې د کوم ځانګړې اډیالوژۍ یا اجنډا سره تړاو نه لري.

د امنیتي او محرمیت د دلایلو په خاطر، په دغه راپور کې توقیفي د قضیې د نمبر په اساس پیژندل کیږي. د دې راپور په متن کې د "توقیفي" اصطلاح ټولو هغو کسانو ته کارول شوې چې په یو جرم باندې مظنون، تورن او یا محکوم وي.

یوناما په دې رپورټ کې د تحلیل شوو معلوماتو او ارقامو د احصائیوي دقت د بیان لپاره په دې ډول توضیح ورکوي. د یوناما د مرکو لپاره چې د ملي امنیت توقیف خانو او ملي پولیسو نظارتخانو کې ۳۷۹ تنه په تصادفي ډول انتخاب شوي وو، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۱ کال د آګست (۱۱ میاشتې) وخت پورې اړه لري. په دې بیلګه یا نمونه کې یوه فرعي نمونه چې ۲۷۳ تنه کیږي د وسله والو نښتو سره تړاو لري چې د ملي امنیت له

خوا نیول شوی وو. ۱۱۷ نور یې د ملي پولیس له خوا نیول شوي وو (ځینې یې د دواړو پولیس او ملي امنیت له خوا نیول شوي وو).

یوناما د ملي امنیت له خوا نیول شوو وګړو شمیر په دې دوره کې د ۱۵۰۰ تنو په حدودو کې تخمینوي، په داسې حال کې چې ملي پولیسو به ۱۰۰۰ تنه توقیفي درلودلي وي. د ملي امنیت ریاست په دې اړه کوم ارقام نه دي وړاندې کړي او یا نشر کړي. همدا راز هغه د پولیسو په نظارتخانو کې د توقیفیانو د شمیر په هکله موجوده معلومات لږ اعتبار اعتبار لري.

د دې محدودیتونو د منلو سره سره، یوناما په دې توانیدلې چې په دې رپورټ کې د ارقامو د تحلیل لپاره یو با اعتباره تخمین وړاندې کړي. په احصائیه کې د نمونې د اخیستلو طبیعت داسې دی چې که د مطالعې لاندې نفوس کې له کم رقم (لکه ۱۰۰۰) څخه پورته ارقامو (لکه ۵۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰) کې تغییر راځي، د نمونې په اعتبار کې چندان فرق نه راځي. نو د دې پر اساس په مجموع کې د تحلیل په خطا یا خبط کې به زیات تغییر نه راځي. داسې چې که د توقیفیانو شمیر په دغه موده کې ۷۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ پورې وي، په دې نمونه اخیستلو او د هغې په فرعي نمونو کې په مجموعي خبط یا خطا کې ډیر فرق نه راځي او داسې تخمین شوي چې د ۳۷۹ د عمومي نمونې لپاره به دغه د خبط اندازه (مثبت منفي ۹,۴ سلنه)، د د وسله والې نښتې سره تړلو ۳۲۴ تنو فرعي نمونې لپاره به (مثبت منفي ۴,۵ سلنه)، د ۲۷۳ فرعي نمونې چې د وسله والې نښتې اړوند هغه توقیفیان دي چې د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې دي، لپاره (مثبت منفي ۸,۵ سلنه)، او د ۱۱۷ تنو د وسله والې نښتې اړوند هغه توقیفیانو فرعي نمونې لپاره چې د ملي پولیسو نظارتخانو کې دي، (مثبت منفي ۹,۸ سلنه) څخه نه اوړي. د دې هرې نمونې لپاره خبط یا د تحلیل خطا د ۹۵ سلنه معیاري انحراف یا د ډاډ کچې په اندازه تخمین شوې.

## ۱- لنډیز

*وروسته له دوه ورځو (د کندهارد ملی امنیت ریاست له یوی ځانګی څخه ) بیا د کندهار ملی امنیت ریاست ته انتقال شوم. ما یوه شپه می په برنډه کی تیره کړه. په سبا ورځ د تحقیق شعبی ته د یوکارمند له خوا وغوښتل شوم. هغه له ما څخه وپوښتل چه آیا زه د دغه دفتر نوم پیژنم. ما وویل چی "خاد" (د ملی امنیت پخوانی نوم). هغه وویل: " ته باید پر هرهغه څه چی تا تیر وخت کی د طالب په صفت ترسره کړی اقرار وکړی. دلته تیری هم اقرار کوی." نوموړی په لمړیو دوو ورځو کی په دی ټینګار کاوه چه باید اقرار وکړم خو ما اقرار ونکړ. وروسته له دوه ورځو څخه هغه ځما لاسونه شاته وتړل او د برق په کیبل یی ځما په وهلو پیل وکړ. هغه په خپلو لاسونو هم ووهلم، چی په شا یی په لاسونو وهلم او په پښو او لاسونو یی په کیبل وهلم. سره له دی چی هغه زه ډیر په سختی وهلم خو ما اقرار ونکړ. د همغی ورځی په شپه یوبل کارمند راغی او تحقیق یی وکړ، هغه وویل: "یا اقرار وکړه یا مرګ ته تیار شه. زه به دی مړ کړم." ما ورته وویل د دی پر ځای چی ماته د مرګ تهدید راکوی زما پر ضد شواهد وړاندی کړه. هغه بیا د برق کیبل واخیست او په لاسونو یی سخت ووهلم. د دغی شپی تحقیق او وهلو د دریو څخه تر څلورو ساعتونو پوری دوام وکړ او دوه ځلی یی بیا زما سپکاوی وکړ. دوی پوښتل چه آیا زه په کندهار کی کوم طالب قوماندان پیژنم. ما ورته وویل چه نه زه یی نه پیژنم. د اخرنی تحقیق په ترڅ کی دوی زه په جبر باندی مجبور کړم چه یو کاغذ لاسلیک کړم. زه نه پوهیدم چه دوی څه لیکلی وه او ماته یی د لوستلو اجازه رانکړه.*

**- توقیفی نمبر ۳۷۱ ، دکندهار ملی امنیت توقیف خانه ، می ۲۰۱۱**[11]

د ۲۰۱۰ د اکتوبر څخه ۲۰۱۱ کال د اګست پوری، یوناما له ۳۷۹ تنو له محاکمی څخه وړاندی او یا محکوم شوو توقیفیانو سره په ۴۷ توقیف ځایونو کی د افغانستان په ۲۲ ولایتونو کی مرکی کړی. په مجموع کی، له ۳۷۹ تنو څخه ۳۲۴ تنه یی هغه بندیان وو چی د ملی امنیت یا هم د افغان ملی پولیسو له خوا د ملی امنیت ضد جرایمو (مشکوک طالب جنګیالی، د ځانوژونکو بریدونو تسهیل کوونکی، د چاودیدونکو توکو تولیدوونکی او یاهم د افغانستان د وسله والی شخړی په تړاو د نورو جرایمو په تور نیول شوی).

یادی مرکی د ملی امنیت او ملی پولیسو توقیف خانو، د عدلیی وزارت اړوند محابسو او د اصلاح مراکزو کی تر سره شوی دی. د توقیفیانو د انتقال په سبب، دی مرکو په ۲۴ توقیف ځایونو کی د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه توقیفیانو سره سر او کار درلود.[12] په استثناء د دوو ځایونو څخه ملی پولیسو، د ملی امنیت ریاست، د عدلیی وزارت او د نورور اړوندو ارګانونو چارواکو له یوناما سره بشپړه همکاری کړی او توقیفیانو او توقیف خانو ته یی د لاسرسی زمینه برابره کړی ده.[13]

د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیس دافغانستان اساسی امنیتی ځواکونه دی چی د وسله والو شخړو په تړاو نیونی او توقیفونی ترسره کوی او د ملی امنیت په جرمونو باندی د تورنو توقیفیانو تحقیق او پلټنه د ملی امنیت ریاست مسؤولیت دی. د ملی امنیت ریاست دهیواد اصلی کورنی او بهرنی استخباراتی ارګان دی چی امنیتی او دقانون د تطبیق کړنی فعالیتونه ترسره کوی ترڅو د استخباراتی معلوماتو د راټولو له لاری د عامه ګټو پرضد د جرایمو څخه مخنیوی وکړی. په داسی حال کی چی د هیواد د پولیسو ځواک (افغان ملی پولیس) جنایی او وسله والو شخړو پوری مربوط جرایمو ته رسیدګی کوی. نړیوال امنیتی ځواکونه هم د وسله والو شخړو پوری مربوط جرایمو په توقیفونو کی د پام وړ رول لوبوی.[14]

---

[11] . هغه تاریخونه چی د توقیفیانو په هکله ذکر شوی د هغوی د توقیف موده ښیی نه د یوناما سره د مرکی وخت.
[12] . د وسله والی شخړی په تړاو ۳۲۴ د یوناما له خوا مرکه شوو توقیفیانو له جملی څخه ۲۷۳ تنه یی د ملی امنیت توقیف خانو کی، ۱۱۷ تنه یی د ملی پولیسو نظارت خانو کی او ۱۲ تنه یی د ملی اردو په نظارت خانو کی ساتل شوی وو. له ۳۲۴ تنو څخه ۷۸ تنه یی د دواړو ملی امنیت او ملی پولیسو له خوا توقیف شوی وو. د دی ریپورټ په برخه کی د یوناما میتودولوژی په اړه زیاتو معلوماتو لپاره د دی ریپورټ میتودولوژی ته دی مراجعه وشی.
[13] . په کابل کی د ملی امنیت د تروریزم ضد ریاست ۹۰/۱۲۴ او د کاپیسا ولایتی توقیف خانو ته یوناما ته د ملی امنیت د مسئولینو له خوا اجازه ورنه کړای شوه.
[14]

د یوناما په ریسرچ کی زیات تمرکز د ملی امنیت ریاست او په دوهمه درجه د ملی پولیسو پر توقیفونو باندی شوی دی. د یوناما مرکو کی د توقیفیانو سره د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو پر چلند او د افغانستان د دولت د موثری رجوع د حق مراعات چی د افغانستان او نړیوالو بشری حقونو قوانینو کی تضمین شوی، تمرکز شوی دی.[15]

**د ملی امنیت او ملی پولیسو له خوا د توقیفیانو شکنجه او ناوړه چلند**

د توقیف خانو څخه د یوناما نظارت داسی شواهد موندلی دی چی د ۲۷۳ تنو مصاحبه شوو توقیفیانو له جملی څخه ۱۲۵ تنه (۴۶ فیصده) یی چی د ملی امنیت ریاست تر توقیف لاندی دی د ملی امنیت ریاست د کارمندانو له خوا د تحقیق هغه تخنیکونو سره مخ شوی چی په کی شکنجه کی راځی او دا شکنجی په هیواد کی د ملی امنیت ریاست په ځینو توقیف خانو کی په سیستماتیک ډول پلی کیږی. د ملی امنیت له خوا تقریباً ټولو شکنجه شوی توقیفیانو چی د تحقیق په موده کی یی د ناوړه چلند راپور ورکړی، موخه یی د اقرار اخیستل او یا د معلوماتو ترلاسه کول وو. په اکثرو قضیوکی کله چی تورنو په لګول شوی اتهام اقرار کړی او یا هم یی مطلوبه معلومات وړاندی کړی، کارمندانو د دوی شکنجه کول درولی دی. همدارنګه یوناما دا هم موندلی چی د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ماشومان هم د ملی امنیت کارمندانو لخوا شکنجه شوی دی.[16]

د افغان ملی پولیسو د توقیف لاندی ۱۱۷ توقیفیانو له جملی څخه چی یوناما ورسره مرکه کړی تقریباً له دریو څخه یی یوه برخه یی د شکنجی یا نورو ظالمانه، غیرانسانی او تحقیرونکی چلند سره مخ شوی دی.[17]

په ټولو هغه حالاتو کی چی مظنونین او متهمین د دولت ضد جرایمو باندی تورن وو، د تحقیق جریان د اقرار تر لاسه کولو په موخه د شکنجی او ناوړه چلند شکل اختیار کړی دی. مستند شوی اعمال د شکنجی نړیوال تعریف لاندی راځی. شکنجه هغه وخت واقع کیږی چی دولتی چاراوکی د رسمی دندو د ترسره کولو پر مهال د اقرار یا معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه یو کس ته فزیکی یا روانی صدمه وروړسوی، یا یی امر ورکړی او یا ورسره په منفعله توګه موافقه وښیی او یا شخص مجازات کړی او یا یی پر وړاندی له تبعیض څخه کار واخلی.[18] داسی اعمال چی د شکنجی حد ته رسیږی، د نړیوالو قوانینو پر اساس له بشری حقونو څخه جدی سرغړونه ګڼل کیږی او همدا رنګه د افغانستان د قوانینو له مخی جرم دی او د افغان او نړیوالو قوانینو له خوا په جدی توګه منع کړای شوی دی.[19]

توقیفیانو خپلی شکنجی د ګڼ شمیر اعمالو په شکل لکه د ځوړندولو (دیوال، چت، اوسپنیزو میلو او یا نورو ثابتو شیانو پوری د اوږدی مودی لپاره د لاسونو له بندونو څخه د ځنځیر او یا نورو شیانو په وسیله ځوړندول)، او

---

[15]. د افغانستان په توقیف خانو کی د شکنجی، ناوړه چلند او خپل سره توقیفونو رپورټونه کومه نوی خبره نه ده. (د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۹ کال د اپریل د میاشتی رپورټ: "د قانون تطبیقونو اداراتو کی د شکنجی دلایل" انټرنټی پته: http://www.aihrc.org.af/2010_eng/Eng_pages/reports/Thematic/Research_cause_of_Torture_2009_April.pdf
;
د په افغانستان کی د بشری حقونو د وضعیت په اړوند د ملګرو ملتونو د بشری حقونو لپاره د عالی کمیشنری د جنوری ۲۰۰۹ د لسمی غونډی رپورټ: http://daccess-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/G09/103/68/PDF/G0910368.pdf?OpenElement;
"د بشری حقونو د کړنو په اړه د ۲۰۱۰ کال د هیوادونو رپورټ" ، ۲۰۱۱ کال د اپریل ۸مه: http://www.state.gov/documents/organizations/160445.pdf
"د بشری حقونو د کړنو په اړه د ۲۰۰۹ کال د هیوادونو رپورټ" د امریکی د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت، مارچ ۲۰۱۰: http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2009/sca/136084.htm

[16]. یوناما د ملی امنیت او پولیسو توقیف خانو کی د ۳۷ ماشومانو سره مرکی کړی. له دی ۳۷ څخه، ۲۳ تنو یی د شکنجی او ناوړه چلند رپورټ ورکړی چی ۱۹ تنه یی د امنیت ملی له خوا او ۴ تنه یی د ملی پولیسو له خوا د شکنجی یا ناوړه چلند سره مخ شوی.

[17]. یوناما د ملی پولیسو په توقیف خانو کی ۵۵ تنو جنایی جرمونو باندی متهمو سره مرکه کړی. له دی ۵۵ څخه ۱۳ تنو (۲۵ سلنه) یی د ملی پولیس له خوا د شکنجی او ناوړه چلند رپورټ ورکړی دی.

[18] دشکنجی او نورظالمانه ،غیرانسانی، توهین امیز رفتار یا مجازاتو ضد کنوانسیون (CAT)، ۱ ماده

[19] د افغانستان اساسی قانون ۲۹ ماده وایی" "هیڅوک نه شی کولای چی له بل شخص څخه حتی دحقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم ترتعقیب، نیونی یا توقیف لاندی وی اویا په جزامحکوم وی، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړی یا یی د تعذیب امر ورکړی." د جزاقانون هم شکنجه جرم ګڼلی او په ۲۷۵ ماده کی وایی: :که چیری د عامه خدمتونو چاراوکی (په شمول د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس کارکوونکی) تورن د اعتراف اخستلو په منظور شکنجه کوی، له ۵ څخه تر ۱۵ کلونو په حبس محکومیږی.

وهلو ټکولو، په ځانګړی توګه د پلاستیکی پایپونو، برقی کیبلونو او سیمونو او یا هم د لرګیو او لښتو په واسطه چی اکثراً د توقیفیانو د پښو په تلو استعمالیږی، برقی شاک، د تناسلی آلی تاوول، بیضو (هګیو) ته فشار ورکول، د پښو د نوکانو ویستل، سخت وضعیت کی راوستل لکه په جبر درول، او په جنسی تیری تهدیدولو په توګه بیان کړی دی. همدارنګه د سترګو تړل، پر سر کڅوړه اچول او صحی خدماتو ته لاسرسی څخه منع کول هم په ګوته شوی دی. یوناما د ۲۰۱۱ کال د اپریل په میاشت کی د کندهار ولایت د ملی پولیسو او ملی امنیت په نظارتخانه کی د شکنجی له امله د یو توقیفی د مړینی قضیه مستند کړی ده.

یوناما قوی او معتبر معلومات ترلاسه کړی چی د ملی امنیت کارکوونکو د نوموړی اداری په پنځو مختلفو توقیف خانوکی په سیستماتیکه توګه توقیفیان شکنجه کړی ترڅو د هغو څخه اقرار او معلومات ترلاسه کړی.[20] دغه توقیف ځایونه په هرات، کندهار، خوست او لغمان کی د ملی امنیت ولایتی توقیف خانی او په مرکز کی د ملی امنیت ریاست د تروریزم ضد ځانګی توقیف خانه، چی د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست په نامه پیژندل کیږی، دی. یوناما په کاپیسا او تخار ولایتونو کی د ملی امنیت ریاست په توقیف خانو کی د شکنجی په هکله د څو بااعتبارو ادعاګانو معلومات ترلاسه کړی. یوناما د ارزګان او پکتیا په ولایتونو کی د ملی امنیت له توقیفخانوڅخه د نظارت په بهیر کی د شکنجی په هکله کوم معلومات ترلاسه کړی نه دی.

یوناما په نورو ۱۵ ځایونو کی چی د ملی امنیت ۱۷ توقیفخانی په کی شاملی دی، د شکنجی ګڼ شمیر اتهامونه ترلاسه کړی دی[21]. په یادو ۱۷ ځایونو کی د مرکه شوو ۲۵ سلنه خلکو د شکنجی ادعا کړی ده. د دی رپورټ د لیکلو تر وخته یوناما نه ده توانیدلی چی د دی مرکو پر اساس د دی اتهامونو اعتبار وښیی او په قانع کوونکی توګه دا اتهامونه ثابت کړی.[22] د یادو شوو ادعا ګانو په هکله د یوناما پلټنی لا دوام لری.

د افغان ملی پولیسو تر نظارت لاندی توقیفیان راپور ورکړی چی ناوړه چلند په مختلفو حالاتو کی په پراخه اندزاه ترسره کیږی. د ناوړه چلند ځینی روښونه د شکنجی څخه عبارت دی په داسی حال کی چی ځینی نور یی ظالمانه، غیرانسانی یا توهینوونکی چلندونه دی. د افغان ملی پولیسو له د ناوړی چلند روښونه په لاندی ډول ښودل شوی دی: د نیونی پرمهال، په چک پوستونو کی، امنیه قوماندانیو او د حوزی په امریتونو کی د پولیس افسرانو له خوا بد چلند.

د افغانستان قانون او د شکنجی او نورو ظالمانه،غیرانسانی یا توهین آمیزه رفتار یا مجازاتو ضد کنوانسیون پراساس د افغانستان دولت مکلف دی چی د شکنجی او بد رفتاری ټولی پیښی ژر تر ژره بررسی او مسؤولین یی عدلی تعقیب لاندی ونیسی، قربانی ته د خساری جبران ورکړی او د شکنجی د تکرار څخه مخنیوی وکړی. دا د دولت مکلفیت دی چی په هر حالت کی د منع شکنجی حکم ته احترام وکړی او شکنجی ته په هیڅ حالت کی مشروعیت ورنکړی ولو که د جنګ یا د جنګ د تهدید، کورنی سیاسی بی ثباتی او یا هم اضطراری حالت هم وی. یوناما د افغانستان پرچاراواکو باندی غږ کوی چی د شکنجی د ختمولو او منع کولو لپاره ممکنه ګامونه پورته کړی او د شکنجی د ټولو اعمالو لپاره د حساب وروکونی زمینه برابره کړی.

**دنړیوالو قواو له خوا ملی امنیت او ملی پولیسو ته د توقیفیانو سپارل**

---

[20]. په دی رپورټ کی یوناما په سیستماتیکه توګه د شکنجی استعمال داسی تعریفوی: د تحقیق د یو میتود په توګه په یو محل کی د شکنجی تطبیق دی چی د وسله والی شخړی اړوند توقیفیانو په برخه کی د یوی پالیسی او معیاری پروسیجر په توګه ورڅخه استفاده کیږی. له دی کبله چی د وسله والی شخړی اړوند ټول توقیفیان چی مرکه ورسره شوی د تحقیق داسی میتودونو سره مخ شوی چی حد یی شکنجی ته رسیږی، او د تسهیل کارکوونکی او مدیریت دواړه باید په دی خبر وی، هغه یی عملی کړی وی یا یی امر ورکړی وی او یا هم ورسره موافق وی. په دی توګه داسی نتیجه اخیستل کیږی چی شکنجه د مربوطه تسهیل یوه بنیادی پالیسی او طرزالعل دی او یواځی د یو څو «خرابو خلکو» خلکو له خوا په انفرادی قضایاو کی او کله کله ورڅخه استفاده نه کیږی.

[21] په دی کی د ملی امنیت ریاست دغه ولایتی توقیف خانی شامل دی: بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، دایکندی، فراه، هلمند، کنر، کندز، ننګرهار، سمنګان، سر پل، وردګ، زابل او کابل (ریاست ۱۷/۴۰، ریاست ۱۸/۳۴ او ریاست اول).

[22]. د شکنجی پر ضد نړیوال کنوانسیون ۳ مه ماده حکومتونه مکلفوی چی هیڅ شخص بل هیواد ته چی هلته یی د شکنجی احتمال موجود وی، ونه سپاری. که چیری لازمی وی چی یو شخص دی کوم شخص یا کومی بلی اداری ته انتقال یا وسپارل شی چی هغه په شکنجه او ناوړه سلوک کی دخیل وی، او یا په کافی اندازه مصونیت یی نه وی تآمین کړی، نو دا دولت مکلفیت لری او چاراوکی یی د سزا وړ ګڼل کیږی چی د دولت د مکلفیت پر خلاف چی باید د شکنجی د مخنیوی لازم تدابیر ونیسی، د دی انتقال امر یی ورکړی او یا یی په دی انتقال کی ونډه اخیستی.

دیوناما د توقیف خانو کتنه کی د ۸۹ تنو توقیفیانو سره مرکی شاملی دی چی په کی دوی ویی چی د دوی په نیولو کی بهرنیو قواوو (چه ټولو ۸۹ دامریکا یانو په نامه یادولی)، ګډون درلود او بیا یی دوی ملی امنیت یا ملی پولیسو ته سپارلی دی. د توقیف په دوران کی له دی شمیر څخه ۱۹ تنو د ملی امنیت لخوا د شکنجه کیدلو او دری تنو د ملی پولیسو له خوا د ناوړه سلوک یاده کړی. د شکنجی ضد نړیوال کنوانسیون په بنسټ دولتونه له دی څخه منع کړای شوی چی توقیفیان هغه هیواد ته وسپاری چی هلته د دوی د شکنجی خطر موجود وی.[23] د آیساف اصول هم د نړیوالو قوانین سره سم په هیڅ حالت کی د یو شخص د سپارلو اجاره نه ورکوی چیرته چی د نوموړی د شکنجه کیدلو خطر موجود وی.

دا وضعیت ملی امنیت او ملی پولیسو ته د نیول شوو وګړو د سپارلو د جدی کتنی او نظارت غوښتونکی دی او دا ضروری ګڼی چی په هغه صورت کی چی توقیف خانو کی د شکنجی دقیق رپورټونه موجود وی، د سپارلو پروسه وځنډوی.[24]

د تیرو کلونو په ترڅ کی په مختلفو وختونو کی بریتانیا او کاناډا په کندهار او کابل کی د ملی امنیت توقیفخانو ته د توقیفیانو سپارل د توقیفیانو سره د سلوک په اړه د تشویش پر بنسټ څو واری درولی دی. دی هیوادونو له انتقال څخه وروسته د نظارت پروګرامونه تطبیق کړی دی چی دوی ته اجازه ورکوی چی د هغه توقیفیانو سره سلوک تعقیب کړی چی د دوی نظامیانو افغان چارواکو ته سپارلی دی. د امریکی سفارت په دی وروستیو کی د انتقال څخه وروسته نظارت لپاره یو پروګرام جوړ کړی او د افغانستان دولت ته یی د هغوی د ارزونی لپاره وړاندی کړی دی[25]. سفارت یوناما ته توضیح ورکړی چی دا پروګرام د امریکی دولت لپاره یو مثبت ګام دی چی د افغانستان حکومت سره کار وکړی تر څو ډاډمنه کړی چی د دوی د توقیف سیستم مصون، مطمین او انسانی دی.[26]

د۲۰۱۱ کال جولای په لمړیو کی امریکا او ایساف په کندهار، زابل ،ارزګان، او دایکندی ولایتونوکی دهغه راپورونو پراساس چی یادو ولایتونوکی  دشکنجی په هکله موجود وو دبندیانو سپارل او انتقالول ملی امنیت او ملی پولیسو ته بند کړل.[27]

د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په اوایلو کی د دی رپورټ د موندنو پر بنسټ آیساف وویل چی دوی د توقیفیانو د انتقال پروسه د مخنیوی د اقداماتو د تدابیرو په توګه درولی ده.[28]

د ملی امنیت او د ملی پولیسو په واسطه شکنجه او ناوړه سلوک د "Leahy Law" تطبیق ته اجازه ورکوی چی د هغی پر اساس د امریکا متحده ایالات له دی څخه منع کوی چی د بل هیواد هغه امنیتی ځواکونو واحدونو ته فنډ، وسله او ټریننګ ورکړی چی پر وړاندی یی د امریکا د کورنیو چارو وزارت سره د نوموړو ځواکونو د بشری حقونو څخه د تخطیو معتبر شواهد موجود وی. [29] دا قانون د کورنیو چارو وزارت یا د دفاع وزارت مکلفوی چی ټول معتبره شواهدو ته بیا کتنه وکړی، او د دی سازمانونو سره خپل عملیات ودروی، او مخکی له دی چی دی واحدونو سره خپلی مرستی بیا له سره پیل کړی، باید د اصلاحی اقداماتو حمایت وکړی. د افغانستان په قضیه کی

---

[23]. د دی رپورټ پنځم فصل وګورئ.

[24]. د امریکی د جمهوری ریاست د یوی ځانګړی امریی پر بنسټ (۱۳۴۹۱/د ۲۰۰۹ کال د جنوری ۲۲ مه) د تحقیقاتو او انتقال د پالیسی ځانګړی کاری ډلی سپارښتنه کړی چی باید متحده ایالات د انتقال څخه وروسته د بندیانو د نظارت یو پروګرام جوړ او پلی کړی چی رئیس جمهور اوباما یی هم امر ورکړی.

[25] د یوناما مرکه د امریکا د دولت چارواکو سره، د ۲۰۱۱ کال د اګست ۲۹ مه، کابل.

[26]. د یوناما لیدنی د ۲۰۱۱ کال د اګست په میاشت کی د آیساف د چارواکو سره او د اګست په ۲۱مه د کندهار ولایت د ملی امنیت معاون ډګروال عبدالوهاب سره. د توقیفیانو د انتقال ځنډول د ۲۰۱۱ کال د جولای د ۱۲ می نیټی د امریکایی ځواکونو لپاره د یوی انفرادی امریی (FRAGO) پر اساس شوی دی.

[27]. په کابل کی د یوناما لیدنی د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کی د آیساف د چارواکو سره او د ایساف ویاند (جنرال کارستین جکوبسن) د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۷ نیټی اعلامیه.

[28]. د آیساف د چاروا‌کو سره د یوناما کتنه: د ۲۰۱۱ کال سپتمبر، کابل. د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر د ۷ می نیټی د آیساف د قواوو د ویاند څرګندونی: "مونږ خبر یو چی د ملګرو ملتونو یو رپورټ به خپور شی چی په مونږ به هغی رپورټ ته په کتلو سره د ټولو توقیفیانو انتقال نه دروو بلکه د ځانګړو توقیفیانو انتقال به ودرولای شی."

[29]. د "Leahy Law" د بهرنیو عملیاتونو د اختصاص د قانون ځانګړی برخی دی. (د رپورټ د انګلیسی متن مربوط مآخذ ته دی مراجعه وشی).

دا قانون به د امریکی متحده ایالات مکلف کړی چې د افغانستان چارواکو ته د توقیفیانو انتقال هغه مهال له سره پیل کړی چې د افغانستان دولت اصلاحی اقدامات تر لاس لاندی ونیسی او د ملی امنیت او ملی پولیسو هغه چارواکی چې پر شکنجې او ناوړه سلوک تورن دی، محاکمی ته راکاږی.

**د توقیفیانو سره بدچلند او شکنجې په اړوند د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو د احتساب نشتوالی**

یوناما دا موندلی چې شکنجې او بدچلند په هکله د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس د مسؤولینو حساب ورکونه ډیره ضعیفه او غیرشفافه ده او په ډیره کمه کچه تطبیقیږی. پر افغان ملی پولیسو او ملی امنیت د ادارو په حیث، او د دوی پر جرایمو او تخلفاتو، د ناوړه چلند او شکنجې په شمول، ډیر محدود خپلواک قضایی یا بهرنی نظارت موجود دی.

د جنایی یا بدرفتاری غیرمسلکی چلند اکثره قضیو ته د ملی امنیت ریاست د مسؤولینو له خوا په داخلی شکل رسیدگی شوی. د ملی امنیت ریاست لوړپوړی چارواکی یوناما ته وویل چې یوازی دوه قضیی د ملی امنیت ریاست له خوا څیړل شوی دی چې یو یی هم پر مظنون باندی وارد شوی اتهام نه دی تعقیب کړی.

د ۲۰۱۰ کال په دسمبر کی، د ملی امنیت ریاست یوداخلی نظارتی کمیسیون جوړ کړ ترڅو د توقیفیانو په وړاندی د بدرفتاری، د طی مراحل قانونی مسئلی او توقیف خانو د معیشتی حالت ارزونه وکړی. وروسته له هغی چې نوموړی کمیسیون د ملی امنیت څو توقیف خانو څخه په جنوری کی لیدنه وکړه، باید خپل راپور یی د ملی امنیت عمومی ریاست ته وړاندی کړای وای. یوناما هم د ملی امنیت ریاست له دغو کتنو څخه نظارت وکړ چې د نوموړی کمیسیون د څیړنی د کیفیت او پراخوالی په هکله یی اندیښنی درلودلی. سره له دی چې دا په اول سر کی یو مثبت اقدام ګڼل کیږی، لکه څنګه چې د دی راپور موندنی څرګندوی، د شکنجې، بدرفتاری او په خپل سر توقیف ته د رسیدګی لپاره داسی ښکاری چې دغه نظارتی ډله تر اوسه پوری موثره نه وه.

د افغان ملی پولیسو د جنایی کړنو لپاره د حساب ورکونی داخلی او بهرنی میکانیزمونه شتون لری چې د داخلی وزارت له خوا په داخلی توګه اکثرو قضیو ته رسیدګی شوی. د افغان ملی پولیس له خوا د ترسره شوو جرمونو ادعا ګانی باید د لوی څارنوالی د نظامی چارو ریاست ته واستول شی ترڅو د نظامی څارنوال له خوا نظامی محکمه کی ورته رسیدګی وشی. که څه هم خلک کولای شی چې د پولیسو ناوړه چلند یا جرایمو په هکله د کورنیو چارو د یوی برخی له لاری شکایت وکړی، چې دغه ادعا ګانی د داخلی وزارت له دری ګونو برخو څخه یوی برخی له لاری تعقیبیږی، خو ډیرو لږو قضیو ته د دی میکانیزم له خوا رسیده ګی شوی ده.

**د طی مراحل قانونی څخه سرغړونی او په خپل سر توقیف**

په افغانستان کی تقریباً په ټولو جنایی قضیو کی دوسیه د مدعی علیه د اقرار پر بنسټ اقامه کیږی، چې په محکمه کی نه یوازی قانع کوونکی بلکه د مدعی علیه د جرم لپاره نهایی هم ګڼل کیږی. په محکمو کی د اقرار مفصل څیړنه په ندرت سره کیږی او په ډیرو کمو پیښو کی د قاضیانو یا مدافع وکیلانو له خوا چلینج کیږی.

د افغانستان قانون پر اساس غیر قانونی اقرار (لکه د شکنجې په واسطه اقرار) باید په محکمه کی بی اعتباره وګڼل شی. خو که حتی مدافع وکیلان په قضیو کی د جبری او تر شکنجې لاندی اقرار مسئله هم راپورته کړی بیا هم محکمه نوموړی ادعا رد کوی او اجازه ورکوی چې دغه اقرار د مدرک په توګه وکارول شی. د مدارکو د وړاندی کولو دغه روش په څرګنده توګه د قانون د متن او محتوا څخه تخطی ده او همدارنګه تخصصی مطالعاتو ښکاره کړی ده چې هغه معلومات چې د شکنجې پر اساس ترلاسه شوی د یو شخص د مجرم والی یا بی ګناهی په هکله اعتبار نلری.[30]

---

[30] دشکنجې او نورظالمانه ،غیرانسانی، توهین امیز رفتار یا مجازاتو ضد په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړی راپورتر، جین ی. میندیز، راپور ته مراجعه وکړی چې د ۲۰۱۱ کال په فبروری کی د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا ته وړاندی شوی "د استخباراتو، معلومات راټولو او د قانون د تنفیذ لپاره شکنجه او بدرفتاری د یوه غیرموثر روش او وسیله ثابته شوی او په اینده کی به هم بی ګټه وی." هغه اقرارونه او ویناوی چې د شکنجې په واسطه ترلاسه شوی وی بی اعتبار ګڼل کیږی او اکثرا د قانون د تنفیذ اوا د تحقیق د کارکوونکی

یوناما د قانونی طی مراحل څخه نوری سرغړونی مستند کړی چی د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس کارکوونکو له خوا ترسره شوی. په دی کی معمول د ټاکل شوی وخت نه مراعات، چی د محاکمی څخه دمخه د جنایی تحقیقاتو او د نظارت سلسلی مختلفی مرحلی مشخص کوی، د توقیفوونکو مسولینو د رول د وضاحت نشتوالی، او د محاکمی څخه د مخه توقیف باندی د محکمی د نظارت نشتوالی او یا هم په آخر کی یی شتون شاملیږی. له دی کبله چی د وسله والی منازعی اړوند توقیفیان ډیر په ندرت سره مدافع وکیلانو او د خپلو حقونو په هکله معلوماتو ته لاسرسی لری، د شخص لپاره د دی مصئونو پروسیجرونو نشتوالی د دی باعث کیږی چی توقیفیان نه شی کولای چی د خپل توقیف پر قانونی والی اعتراض وکړی، یا معتبره دفاعیه آماده کړی یا هم د شکنجی او د زور له استفادی څخه مصئونیت وغواړی.

د افغانستان د جزایی اجراآتو د موقت قانون له مخی نظارتخانه کی ساتل د جنایی جرایمو د مرحلو پوری اړه لری. پولیس کولای شی چی یو شخص وروسته له نیونی تر ۷۲ ساعتونو پوری په نظارت کی وساتی. همدارنګه کولای شی چی ابتدایی تحقیقات وکړی، اتهام وارد کړی او قضیه ابتدائیه څارنوال ته وسپاری چی هغه کولای شی چی دا اتهامات د یاد شوی شخص د توقیف لپاره تصدیق کړی.[31] څارنوال کولای شی چی د نیونی له ورځی څخه تر ۳۰ ورځو پوری خپل تحقیقات وکړی او اتهامنامه جوړه کړی. د دغی مودی په جریان کی مظنون باید توقیف خانی ته انتقال شی چی د محابسو د عمومی ریاست له خوا اداره کیږی چی دا مهال د عدلیی وزارت پوری مربوط دی.[32]

د توقیف د صلاحیت جداوالی موخه د دی ډاډمنول دی چی مظنون د زیات وخت لپاره د مربوطه مسولینو تر نظارت لاندی پاتی نه شی تر څو له فشار او زور او ناوړه چلند څخه په امان کی وی. دا مصونیت ډیر مهم دی ځکه چی د جزایی اجراآتو موقت قانون له نیونی څخه وروسته د توقیف د قانونیت بیا کتنی ته د تحقیقاتو په لمړنیو مراحلو کی اجازه نه ورکوی. بلکه څارنوال ته دا وخت ورکوی چی د جزئی عدلی نظارت له کبله د اتهام واردیدلو څخه د توقیف موده د محاکمی د پیل پوری لنډه کړی او یا یی وغځوی.[33]

په عمل کی، ملی پولیس او د ملی امنیت چارواکی په عادی ډول دغه د وخت پابندۍ او مصونیتونه له نظره غورځوی. یوناما وموندل چی د پولیسو او ملی امنیت ۹۳ سلنه توقیفیان چی مرکه ورسره شوی ده له ۷۲ ساعتونو څخه زیاتی مودی لپاره توقیف کی ساتل شوی دی. مخکی له دی چی د عدلیی وزارت توقیف خانو ته انتقال شی، په اوسط ډول د ۲۰ ورځو لپاره یادو ادارو له خوا په توقیف کی ساتل شوی دی. زیاتو د ملی پولیسو او ملی امنیت کارکوونکو په خپل کار کی دغه ځنډ د بشری قواو کموالی، د لوژستیکی او تخنیکی ظرفیت نشتوالی او د سړکونو د خرابوالی او یا امنیت نشتوالی له امله لیری ځایونو ته د سفر مشکلاتو پوری منسوب کړل.

---

هڅی بی ګټه کوی. نو ځکه په هیواد کی د جنګی جرمونو ټولو ډولونو ته د رسیدګیو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د خشونت او بدچلند موثر بدیلونو شتون ډیر اهمیت لری. همدارنګه دی ولیدل شی: الفرید و. مک کوی "The myth of the Ticking time Bomb" The Progressive ,October 2006, http://www.progressive.org/mag_mccoy1006 (accessed Frberuary 24,2010) "پس انتخاب واضح دی. لویه لاسته راوړنه د محدوده شکنجه یو افسانه ده ، مګر دزرګونو مظنونینو ډلیزه شکنجه، چی ځینو یی ګناه کار او زیابره یی بی ګناه دی، کولای شی ګټور معلومات لاسته راوړی. دغه معلومات شاید ګټور وی ولی په کوم قیمت؟ د شکنجی د دغه جګ قیمت زغمل چی د منلو وړ نه دی دغه هیواد بی اعتبار او زیانمن کوی. د فرانسی لپاره په الجیریا کی، د امریکا لپاره په ویتنام کی،او اوس مهال د امریکا لپاره په عراق کی هغه څه چی د شکنجی پربنسټ ترلاسه شوی ډیر لویه قیمت باندی تمام شوی." ډګر جنرال جان کیمونز، په استخباراتی چارو کی د امریکای قواوو د ستر درستیز مرستیال وایی: "د شکنجی مخالفان ریښتینی وطن دوستان دی، د نیویارک ناظر (۲۵ سپتمبر،۲۰۰۶) زه په بشپړ ډول قانع شوی یم چی هیڅکله هم صحیح اوښه معلومات د سواستفادی او بدچلند له لاری نه ترلاسه کیدای شی. زه فکر کوم دا تاریخ مونږ ته وایی. زه فکر کوم د تیرو پنځو سختو کلونو مدارک او تجربی موږ ته وایی چی ...... بر سیره پر دی، هر هغه معلوماتو اعتبار تر سوال لاندی راځی چی د فشار، زور او بد رفتاری له لاری ترلاسه شوی وی. دی نه علاوه د ګټی څخه زیان په هغه وخت کی لازیاتیږی کله چی دا څرګند شی چی له زور زیاتی او بدچلند څخه کار اخیستل شوی دی. او موږ نه شو کولای چی هلته بیا ولاړ شو." ډاکټر ماروین زلمن، جنایی کړنلاره: اساسی قانون او ټولنه (۲۰۰۷)، موندنی، "سی آی ای او ایف بی آی راپورونه د غلطو او معلوماتو راټولولو او د شکنجی له لاری د غلطو اقرارونو ستونزی څرګندوی. په الجیریا، شمالی آیرلند او اسرائیل کی د شکنجی کاروول مطلوبه سیاسی نتیجی نه ده ورکړی.

" پیتر فین او جوبی واریک، "Detainee's harsh treatment foiled no plots" واشنګټن پوسټ، مارچ ۲۹، ۲۰۰۹، (http;//www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2009/03/28/AR2009032802066.html) "

[31]. رسمی جریده شمیره ۸۲۰ (۲۵ فبروی ۲۰۰۴ کال) ۳۱مه، ۳۴مه او ۳۶مه ماده.

[32]. ۲۲۱ نمبر ماخذ ته رجوع وکړئ کورنیو چارو وزارت ته د محابسو د ریاست د مسئولیت انتقال.

[33]. د جزایی اجراآتو د موقت قانون ۶ مه ماده (دریم بند)، ۸ مه ماده (۴ بند)، ۳۴ مه ماده (دوهم بند)، ۳۶مه ماده، ۳۵ مه ماده دریم بند (ب جزء)، ۸۴ مه ماده او د محابسو او د توقیف خانو د قانون ۲۲مه او ۵۱مه مادی.

یوناما وموندل چې ګڼ شمیر څارنوالان د امنیت پوری تړلو واقعاتو کی خپل د تحقیق صلاحیتونه د ملی امنیت کارمندانو ته ورکوی. وروسته له دی چی ملی امنیت خپلی پلټنی او تحقیقات تمام کړی، او توقیفی د عدلیی وزارت توقیف خانی ته وسپاری، نو بیا دوی خپل تحقیق پیل کوی چی دا پروسه څو میاشتی دوام کولای شی. په ځینو حالاتو کی څارنوال د ملی امنیت له خوا جمع شوو معلوماتو پر اساس خپله دعوی جوړوی. دا د څارنوالی د صلاحیت د انتقال سیستم د یو سریع عدلی نظارتی سیستم د نه موجودیت په صورت کی د دی سبب ګرځی چی یو توقیفی تر هغی چی قضیه یی محکمی ته محوله نه شی، نه شی کولای چی کوم قاضی وګوری، چی له نیولو څخه تر دری میاشتو پوری دوام پیدا کولای شی.[34] دا وضعیت د مدنی او سیاسی حقونو د کنوانسیون له مخی د افغانستان مکلفیت څخه سرغړونه ده چی د ټولو نیول شوو او توقیف شوو افغانانو قضاء او نورو قضایی ادارو ته وړاندی کول تأمینوی، او همدا رنګه دا د افغانستان د اساسی قانون سره هم په مخالفت کی واقع کیږی چی خپل سری توقیفونه منع کوی.[35]

د ملی امنیت ریاست په توقیف خانو کی د توقیفیانو لپاره د طرز العملی ضمانتونو بله نیمګړتیا دا ده چی توقیفیان مدافع وکیلانو ته لاس رسی نه لری. سره له دی چی د افغانستان قانون توقیفیانو ته دا حق ورکوی چی د قضیی په هره مرحله کی مدافع وکیل ولری، د ملی امنیت ریاست یا د افغان ملی پولیس په توقیف خانو کی د ۳۲۴ تنو توقیفیانو له جملی څخه چی د یوناما لخوا مصاحبه شوی د راپور په اساس یوازی یوه توقیفی مدافع وکیل ته لاس رسی درلود. تقریباً ټولو مدافع وکیلانو او حقوقی سلاکارانو یوناما ته ویلی چی دوی د ملی امنیت ریاست توقیف خانو ته محدوده لاس رسی لری ځکه چی د ملی امنیت ریاست مسؤولین په قصدی توګه د دوی مخنیوی کوی چی توقیفیانوسره ووینی.[36] د ملی امنیت کارمندانو یوناما ته وویل چی دوی له دی ویری وکیلانو ته د توقیفی سره د لیدلو اجازه نه ورکوی چی مدافع وکیل ممکن توقیفی تر تأثیر لاندی راولی او د په نتیجه کی د تحقیق جریان اوږد شی. مدافع وکیلانو ویلی چی دوی په عمومی توګه د افغان ملی پولیس توقیف خانی او توقیفیانوته لاس رسی لری ولی هغه یواځی هغه وخت چی دوسیه څارنوالی ته ولیږل شی.

که څه هم د افغانستان قانون پراساس توقیفی حق لری چی خپلی کورنی سره وګوری خو یواځی ۲۸ سلنه هغه توقیفیانو چی د ملی امنیت په توقیف خانو کی ورسره مرکی شوی وی خپلو کورنیو سره لیدلی وو.

**شکنجه او خپل سری توقیف د پخلاینی او بیاستنیدو پروسی ته زیان رسوی**

د ملی امنیت او افغان ملی پولیسو له خوا شکنجه، ظالمانه، غیر انسانی او توهینوونکی چلند او خپل سری توقیف نه یواځی د بشری حقونو څخه جدی سرغړونه ده بلکه د پخلاینی او بیا ستنیدنی پروسی ته هم صدمه رسوی چی موخه یی د افغانستان شخړی ته د پای ټکی ایښودل دی. د یوناما تحقیق د نورو کارپوهانو د ارزونو سره په ګډه (چی د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د یاغیانو د یو ځای کیدو او تقویه کیدو ارزونه یی کړی ده) دا په ګوته کوی چی په ډیرو مواردو کی دغه بدرفتاری د دی لامل شوی چی د دی اعمالو قربانیان د طالبانو او دولت ضد مخالفینو سره یوځای شی او یاهم بیرته مخالفینو سره یو ځای شی.[37]

په دی راپور کی مستند شوی حقایق دا په ګوته کوی چی د افغانستان دولت د عملی شویو پروګرامونو تر منځ چی د یاغیانو سره بیا ستنیدنه او پخلاینه تقویه کوی، ستونزی موجود دی، په ځانګړی توګه د وسله والو شخړو توقیفیانو سره د ملی امنیت او د افغان ملی پولیس چاروکو له خوا بد چلند. د دولت د سولی او پخلاینی پروګرام د

---

[34]. پورتنی مآخذ وګورئ.

[35]. د مدنی او سیاسی حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون، د افغانستان د اساسی قانون نهمه ماده، اول بند او دریمه او درویشتمه مادی اول او دریم بند، ۲۴ ماده، اول بند او ۲۷می مادی اول بند او دوهم بند. د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د شورا د قضایاو قانون بیانوی چی یو څارنوال یو مکفی مستقل د توقیف مستقل قضایی صلاحیت نه لری.

[36] د نړیوال حقوقی بنیاد- افغانستان (ILF-A) او د افغانستان د حقوقی مشورو سازمان (LAOA) څخه د مدافع وکیلانو سره د یوناما مصاحبی، جولای ۱۶، ۲۰۱۱. د ستونزمنو لاملونو څخه یو دا دی چی په افغانستان کی د مدافع وکیلانو شمیر کم دی. د افغان مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه (AIBA) پر اساس په ټول افغانستان کی ۱۲۰۰ مدافع وکیلان ثبت شوی دی. د عدلیی وزارت د مرکزی محبس ریاست د احصایی له مخی د ۲۰۱۱ کال د جون میاشتی راهیسی په ټول هیواد کی تقریباً ۲۰۷۰۰ تنه د عدلیی وزارت په توقیف خانو توقیف شوی دی.

[37]. د انګلیسی متن مربوطه مآخذ ته دی مراجعه وشی.

یاغیانو د تشویق لپاره جوړ شوی تر څو خپلی ټولی نارضایتیٔ یو خوا ته پریږدی، پخلا شی او خپلو ټولنو ته بیا راستانه شی. په عین وخت کی د ملی امنیت او افغان ملی پولیسو بدرفتاری یاغیان دی ته مجبوروی چی خپل امنیت د دولت ضد عناصرو په لاس کی ووینی او په نتیجه کی د دولت سره وجنګیږی.

برسیره پر دی، په محلی کچه کی د دولت ضد عناصرو سره د پخلاینی په اوسنی هڅو کی د خپل سری توقیفیانو د کمولو ضرورت د اعتماد په لوړولو کی یو کلیدی اقدام ګڼل کیږی. دولت د بندیانو لپاره د خلاصون څو پروګرامونه تر لاس لاندی ونیول ترڅو پردولت باندی د خلکو اعتماد او باور زیات کړی چی د خپل سری توقیفونو او د بندیانو سره د ناوړه چلنداو د زیاتو کسانو په خپل سر توقیف او د بدرفتاری قضیی په سبب رامنځ ته شوی دی. د اعتماد د لوړلو په موخه د سولی عالی شورا اوس د وسله والو شخړو اړوند توقیفیانو دوسیی تر غور لاندی نیولی چی بدون د شواهدو څخه نیول شوی دی او قضا ته لاس رسی نه لری. دغه هڅی په هغه وخت کی زیان وینی کله چی د ملی امنیت ، افغان ملی پولیس او جنایی قضایی سیستم خپلی شکنجی، د اوږدی مودی لپاره په خپل سر توقیفونو او بدرفتاریو ته دوام ورکړی.

**د دولتی چارواکو له خوا شکنجه او سوءاستفاده په ملی کچه امنیت متآثره کوی**

د پخوا راهیسی د ملګرو ملتونو دریځ دا دی چی د تروریزم ضد مبارزی په موثرو اقداماتو کی باید ټل بشری حقونه رعایت شی او هم دا چی د دولتی چارواکو له خوا د شکنجی او بدرفتاری نور ډولونه چی په دی راپور کی راغلی دی، ملی امنیت ته زیان رسوی. د ملګرو ملتونو د تروریزم ضد مبارزی نړیوال پالیسی او د عمل پلان په دی ټینګار کوی چی بشری حقونه او د قانون حاکمیت د تروریزم ضد مبارزی د اقداماتو اساسی عنصرونه جوړوی، د دی په نظر کی ونیولو سره چی د تروریزم ضد مبارزی اقدامات او د بشری حقونو د ساتنی اهداف د یو بل سره په تضاد کی نه بلکه یو د بل بشپړوونکی او پیاوړی کوونکی دی.[38] د بشری حقونو د تقویی او ساتنی او اساسی ازادی ګانو په باب د ملګرو ملتونو ځانګړی راپورتر دا په ګوته کړی چی د تروریزم سره د مبارزی په وخت کی د بشری حقونو رعایت کول نه یوازی دیوه هیواد قانونی او اخلاقی مکلفیت دی بلکه د تروریزم پر ضد د مبارزی لپاره یوه موثر لار هم ده.[39]

**کتنی یا مشاهدات**

شکنجه او خپل سری توقیف دوه ډیری د پام وړ د بشری حقونو موضوع ګانی دی چی د قانون د حاکمیت، روانی له نړیوالو وسله والو ځواکونو څخه ملی امنیتی ځواکونو ته د امنیت د مسئولیت د انتقال پروسی ، او بیا پخلاینی پروسو پروړاندی یوه مانعه ولاړوی. د توقیفیانو سره دایمی بدرفتاری او د قضا ناتوانی چی قانونی طی مراحل ته احترام ولری او مراعات یی کړی، له ډیری مودی راهیسی پر حکومت د اعتبار او اعتماد د زیان، له امنیتی ځواکونو څخه نارضایتی او د یاغیتوب د خپریدلو او زیاتیدلو سبب ګرځیدلی دی. توقیف شوی وګړی د ملی امنیت او ملی پولیسو لخوا شکنجه کیږی پرته له دی چی حساب ورکونه او سزا وجود ولری، یا فرد جبران وغوښتلای شی، پر خپل توقیف اعتراض وکړای شی، او بالاخره د هغه اقرار د طاقت پر خلاف ودریږی چی په زور او شکنجی سره اخیستل شوی.

دافغانستان اساسی قانون ، نافذه قوانین او نړیوال حقوقی مکلفیتونه یو موثر قانونی جوړښت وړاندی کوی چی هغی کی شکنجه ، ظالمانه ، غیر انسانی ، او توهین امیز اعمال منع شوی.[40] سره له دی چی لاتر اوسه هم ځینی حیاتی مصئونیتونه نه دی تأمین شوی، په ځانګړی توګه د توقیف قانونی والی باندی اعتراض کولوحق، د فعلی قوانینو موثر انفاذ کولای شی تر څو سواستفاده ودروی او د شکنجی او غیرانسانی اعمالو ترسره کوونکو سره حسابی وکړی .

---

[38] A/RES/60/288 (8 September 2006).

[39] په دغه ویب پانه کی لیدلای شی: http://www.un.org/terrorism/terrorism-hr.shml

[40]. د وضع شوو قوانینو د لنډی کتنی لپاره لومړی ضمیمه وګوریٔ.

دتوقیف خانو څخه دیوناما لیدنوښودلی چی دملی امنیت ځینو ځانګړوتوقیف خانو مسؤلین د بشری حقونو جدی سرغړونو او جرایمو مسؤول دی کوم چی یوناما لخوا مستند کړای شوی دی. د یوناما لاسته راوړنی څرګندوی چی سره له دی چی د افغانستان د ملی امنیت په ځینو توقیف خانو کی توقیفیان دمسؤولینو لخوا په سیستماتیکه توګه شکنجه شوی خو د ملی امنیت ټولو هغو توقیف خانو کی چی یوناما کتلی په سیستماتیکه توګه شکنجه نده لیدل شوی. له همدی کبله، یوناما د خپلو موندلو پراساس دی پایلی ته رسیږی چی شکنجه  دملی امنیت او دولت لخوا د کومی رسمی پالیسی نه ده چی ګوندی له لوړ پوړو مقاماتو یا دولت له خوا به یی هدایت ورکړل شوی وی. دا واقعیت او دا چی د ملی امنیت مسؤلینو د یوناما سره همکاری کړی چی د توقیف خانو څخه لیدنه وکړی، دا څرګندوی چی اصلاحات د ملی امنیت په داخل کی هم ممکن دی او هم یی غوښتنه ښکاره شوی. ددی راپور د موندنو په ځواب کی د ملی امنیت لوړپوړو چارواکو یوناما ته ویلی چی دوی به د یو محدود وخت عملی پلان پربنسټ د شکنجی راپورونه بررسی کړی او رسیدګی به ورته وکړی.

د افغانستان د حکومت د ملی امنیت او داخله وزارت له خوا د چارواکو ځواب او نظر د دی راپور په پای کی د دوهمی ضمیمی په توګه ښودل شوی دی.

د تحقیق ناوړه روشونو څخه کار اخیستل ، چی د شکنجی تر حده رسیږی، د دی اړتیا لا زیاتوی چی قضا ، څارنوالی او دقانون د تنفیذ اداراتو کی باید اصلاحات رامنځته شی. پولیس ، څارنوالان ، د ملی امنیت مسؤلین  او مستنطقین باید چی په ملی او نړیوالو قانونی معیارونو ، د تحقیق پرمختللی او معتبره روشونو کی  چی شکنجه منع کوی روزنه ووینی، چی په دی توګه د توقیفیانو او تروریستی اعمالو مظنونینو همکاری او اعتبار به په اوږده مهال کی ترلاسه کړی چی په ملی سطحه امنیت ټینګولو کی مرسته کوی. دا تخنیکونه همدارنګه د معتبره استخباراتو او د معلوماتو او مدارکو لاس ته راوړلو ته زمینه برابروی چی د هغی پر اساس محکمه فیصله وکړی او پولیس ، څارنوالی او محکمه  خپل سری توقیفونه حداقل ته ورسوی او قانونی طی مراحل محترم وګڼی او ټول هغه تضمینونه ډاډمن کړی چی حکومت پری مکلف دی ترڅویی ټولو توقیفیانو ته وړاندی کړی.

یوناما لاندنی وړاندیزونه افغان حکومت ته او دهغه نړیوالو همکارانوته وړاندی کوی ترڅو د ملی امنیت او ملی پولیسو ټولو توقیف خانو او نظارتخانو کی شکنجی او ناوړه چلند او خپل سری توقیفونو ته د پای ټکی کیږدی.

## اساسی سپاربښتنی

**د ملی امنیت ریاست ته:**

- د ملی امنیت په ټولو توقیف خانو کی باید ژرترژه داسی اقدامات ونیول شی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی بالخصوص په هغه توقیف ځایونو کی چی داسی اعمال د تحقیق د میتود په توګه کارول کیږی:
- د هرات، کندهار، خوست او لغمان ولایتی دفترونو او په کابل کی د دی ریاست د تروریزم ضد مبارزی د ۱۲۴/۹۰ ریاست په توقیف خانو کی د ملی امنیت د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله دی تحقیق وکړی. هغه کارکوونکی چی مسؤول ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب او مجازات شی. خپلواکه ناظرینو ته دی اجازه ورکړ شی تر څو له دغو تحقیقاتو څخه نظارت وکړی. د دغو تحقیقاتو د موندنو او اصلاحی اقداماتو په هکله دی په ښکاره راپور ورکړی شی.
- ژرترژره دی لارښونی صادر کړی چی په او ناوړه چلند په ټولو حالتونو کی او د ملی امنیت ریاست ټولو کارکونکو لپاره منع کړی. او هغوی او د دوی امرین دی له دی څخه خبر کړی چی د دغسی اعمالو د ارتکاب، امرورکوونی یا پټونی په صورت کی به عدلی تعقیب او مجازات کیږی.
- ټولو مستقلو ناظرینو ته، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو ته دی د ملی امنیت په ټولو توقیف ځایونو کی د بشپړ، دوامداره او بی له ځنده نظارت اجازه ورکړی.

- د ملی امنیت ریاست د فعالیتونو او د توقیف خانو څخه د نظارت د کمیسیون د کار طریقی ته دی بیا کتنه وشی، تشخیص دی کړی چی ولی دغه کمیسیون په یادو شوو توقیف خانو کی ترسره شوی شکنجی نه دی رابرسیره کړی. داسی روشونه دی خپل کړی چی په راتلونکی کی د توقیف خانو موثر نظارت تأمین کړی.

- د بهرنی احتساب یو میکانیزم دی تطبیق کړی چی د ملی امنیت په توقیف خانو کی د ناوړه چلند راپورونو په برخه کی خپلواکه او رښو تحقیقاتو ته اجازه ورکړی.

- ډاډمنه دی کړی چی د ملی امنیت ټول مستنطقین او د هغوی آمرینو ته د تحقیق د قانونی او مؤثرو کړنلارو، تحقیق د بدیلو لارو (لکه عدلی طب) په برخه کی او د داخلی او نړیوالو قوانینو په هکله چی شکنجه او ناوړه سلوک منع کوی، د نړیوالو شریکبانو په مرسته ټریننګ ورکړل شی.

- هغه پالیسی ګانی او کړنی دی تعدیل کړی چی مدافع وکیلانو ته اجازه ورکوی تر څو توقیفیانو ته لاس رسی ولری. مدافع وکیلانو ته د دی اجازه هم ورکړ شی چی له ټولو توقیف خانو څخه لیدنه وکړی او حقوقی خدمات ټولو توقیفیانوته د محاکمی په هره مرحله کی د افغانستان د قوانینو سره سم وړاندی کړی.

**دافغانستان ملی پولیس ته:**

- ژر تر ژره دی داسی اقدامات ونیسی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی:
    - د ملی پولیسو په ټولو نظارتخانو کی دی د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله تحقیق وکړی، او هغه کارکوونکی چی مسؤل ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب، اظباطی اقداماتو سره مخ او مجازات شی.
    - د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو خپلواکه ناظرینوت دی د ملی پولیسو او داخله وزارت په ټولو نظارتخانو کی د نظارت اجاره وکړی.
- داسی هدایات دی صادر او عملی کړی چی په هغو کی پولیسو ته هدایت ورکړ شی چی د جنایی تحقیقاتو د څانګی، د تروریزم سره د مبارزی څانګی او یا دی ته ورته نورو څانګو څخه یوازی یو شمیر محدود افسران کولای شی تحقیقات تر سره کړی. د قانونی او مؤثرو تحقیقاتو او د شکنجی او ناوړه چلند د منع کولو قانونی منع کیدلو په هکله دی د معیاری اجراآتو پروسیجر او لارښودونه صادر کړای شی.

**د افغانستان حکومت ته:**

- هغه قانونی چوکاټ او پروسیجرونه دی طرح کړی چی د ملی امنیت اجراآت علنی او شفافه کړی، او ډاډمنه دی کړی چی دا قانونی پروسیجرونه د شدیدو جرمی خطاګانو، د ملی امنیت له خوا د بندیانو د شکنجی او ناوړه چلند په شمول، خارجی تحقیقاتو او عدلی تعقیب او په ملکی عدلی سیستم کی رسیده ګی ته زمینه برابره کړی.

**ستری محکمی ته:**

- د ابتداییه او مرافعه محاکمو قاضیانو ته هدایت ورکړ شی چی د شکنجی او جبری اقرارونو ټولی ادعاګانی وڅیړی او څرنګه چی په اساسی قانون او د جزایی اجرااتو په موقت قانون کی تصریح شوی دی د شکنجی له لاری د معلوماتو د لاس ته راوړلو روش په جدی توګه منع کړی.

**ستری محکمی ، عدلیی وزارت ، کورنیو چارو وزارت او پارلمان ته:**

- د جزایی اجرااتو موقت قانون دی بیا وکتل شی او د توقیفی حق چی هرڅه عاجل محکمی ته وړاندی شی باید پیشبینی شی او مخکی د محکمی څخه توقیف باندی اعتراض حق دی د محکمی بیړنی حکم سره سم تضمین شی.

**هغه هیوادونو ته چی افغانستان کی سرتیری لری او نورو ذیدخله هیوادونو ته:**

- د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو توقیف خانو او مرکزونو ته چی هلته د شکنجی او ناوړه چلند ادعاګانی موجود دی د توقیفیانو انتقال دی وځنډول شی. د ملی امنیت ریاست د هغو توقیف خانو د نظارتی میکانیزم بیا کتنه دی وکړی چی توقیفیان هلته انتقالیږی او د دی ډاډ دی حاصل شی چی توقیفیان د شکنجی له خطر سره نه مخامخ کیږی.
- د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیس توقیف خانو ته د انتقال د پالیسی ګانو بیا کتنه دی وشی تر څو مناسب ضمانتونه تأمین شی او په ګډو عملیاتو کی برخه اخیستل، د مالی منابعو برابرول، د انتقال پروسه، ګډی استخباراتی اړیکی او نور روشونو څخه دی د شکنجی د مخنیوی او د پولیس او ملی امنیت د اصلاح د وسایلو په توګه استفاده وشی.
- د ملی پولیسو او ملی امنیت د پرسونل او تسهیلاتو ظرفیت ته دی د توقیفیانو پر بشری حقونو او د توقیف پر طریقو ټریننګ او تربیی له لاری د نړیوالو بشری حقونو معیارونو مطابق وده ورکړای شی.
- د ملی امنیت او ملی پولیسو ټولو مستنطقینو او د هغوی آمرینو ته دی د تحقیقاتو پر قانونی او مؤثرو میتودونو او بدیلو د تحقیق روشونو (لکه عدلی طب) ټریننګ په موخه هڅی لا زیاتی کړی.

عمومی سپارښتنی د دی راپور اخر کی لیدلای شی.

## ۲- تاریخچه

## د ملی امنیت ریاست او ملی پولیسو نقش

### د ملی امنیت ریاست

ملی امنیت ریاست د افغانستان دکورنیو او بهرنیو استخباراتو اصلی اداره ده کوم چی د امنیت ضد جرایمو د مظنونیو نیونی او تحقیق کی اساسی رول لوبوی.[41] په داسی حال کی چی اوسنی نوم یی ۲۰۰۱ کال کی وروسته د طالبانو د رژیم نسکورید څخه ترلاسه کړی، دغه د دولت یو له ډیرو تل پاتی ادارو څخه ده چی اساسی جوړښتونه، کارمندان، تسهیلات، او قانونی مقررات یی کمونستی رژیم ته رسیږی. ۱۹۷۸ کال کی، دوخت دولت د افغانستان د ګټو دساتنی اداره جوړه کړه (اګسا) ولی وروسته په کال ۱۹۷۹ کی د کارګری استخباراتو موسسی په نامه ونومه ول شوه (کام) [42]، د۱۹۸۰ کال په لومړیو کی د خدمات اطلاعات دولتی په نامه یاده شوه (خاد) ولی کله چی کال ۱۹۸۶ کی وزارت خانی سطحی ته اوچته شوه د وزارت امنیت دولتی (واد) په نامه یاده شوه [43] چی دی اداری (۱۹۷۹- ۱۹۸۹) کلونو کی پر افغانستان د روسی یرغل په دوران کی او بیا وروسته تر ۱۹۹۶ - ۱۹۹۲ کال پوری چی مجاهدین قدرت ته ورسیدل، (۱۹۹۶-۱۹۹۲ ) کلونو د کورنیو جګړو په مهال او طالبانو درژیم پرمهال د (۱۹۹۶ سپتمبر ۲۰۰۱- اکتوبر) چی بیا د افغانستان اسلامی استخباراتو په نامه یاده شوه فعالیت کاوه[44]

که څه هم دکلونو په تیریدو د ملی امنیت زیات مسؤولین، پالیسی ګانی او طرزالعملونه بدل شولُ د نورو دولتی امنیتی ځواکونو په پرتله یی زیات دوام موندلی. نن ورځ ملی امنیت د یو شمیر برخو څخه ترکیب شوی (ځینی وخت درياستونو او مدیریتونو په نامه یادیږی)، چی د امنیتی او محرمیت دلایلو له کبله په شمیرو سره پیژندل کیږی. د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کی د ملی امنیت ځانګړو څانګو شمیری بدلی کړای شوی. د دی راپور سره اړوند ریاستونو شمیری عبارت دی له ۱۷ (اوس مهال ۴۰، تحقیق )، ۱۸( اوس مهال ۳۴، داخلی نظارت )، او ۹۰ (اوس مهال ۱۲۴، تروریزم ضد). په عمومی توګه د ملی امنیت ملی جوړښت په ولایتونو کی هم تکرار شوی چی په ملی او ولایتی کچه ۴۰/۱۷ ریاست د ملی امنیت اکثره توقیفیان ساتی او تحقیق ورڅخه کوی.

د ملی امنیت د وظایفو لایحه د ملی امنیت له قانون څخه سرچینه اخلی، چی د دی دندی د کار طرز او فعالیتونه اداره کوی چی "د ملی امنیت تامین" او " دتروریزم سره مبارزه" هم په کی راځی.[45] د ملی امنیت عمومی ریس تر مشری لاند چی مستقیماً د افغانستان جمهور ریس ته راپور ورکوی، د ملی امنیت ریاست دټولو استخباراتی معلوماتو راغونډولو دنده لری چی په کی د بهرنیو استخباراتو، جاسوسی ضد، تروریزم ضد، او ټول د ملی امنیت او بهرنیو چارو اړوند موضوعات شامليږی[46]. په داسی حال کی چی استخباراتی معلومات راغونډولو او تحلیل مسئولیت لری، د نوموړی اداری مسؤولین دنده لری چی "د ضروری معلوماتو ترلاسه کولو او دافرادو د آزادئ تآمینولو ترمنځ توازن وساتی". دوی مکلفیت لری چی د اساسی قانون، نورو قوانیون او تقنینی فرمانونو احکام په پام کی ونیسی[47]. ملی امنیت پرته له قضایی نظارت څخه فعالیت کوی او په د پارلمان له خوا یی په محدوده اندازه بیا کتنه کیږی.

دفغانستان جمهوری دیموکراتیک دولت د کورنی او بهرنی امنیت ضد جرایمو قانون کی ټول هغه جرایم پیشبینی شوی چی ملی امنیت لخوا بررسی کیږی. داعبارت دی له ملی خیانت، جاسوسی، تروریزم، تخریب (سبوتاژ)، د

[41] ریاست عمومی امنیت ملی .

[42] دافغانستان دګټوساتنی اداره (Agency for the Safeguarding of Afghanistan' s Interests) . دکارګری استخباراتو موسسه (Workers' Intelligence Institute )

[43] خدمات اطلاعات دولتی (State Information Service) . وزارت امنیت دولتی )(Ministry of State Security) .

[44] Estekhbarat-e Islami Afghanistan.

[45] د۲۰۰۱ کال نومبرمیاشت نه خپورشوی جمهوری ریاست فرمان (۸۹،۱۳/۱۲/۱۳۸۰ ګنه فرمان ) ، ۶ ماده .

[46] فعلا ، تورن جنرال رحمت الله نبیل دملی امنیت ریس پتوګه دنده ترسره کوی .

[47] دملی امنیت قانون ۳ او ۵ مادی .

دولت ضد تبلیغ، د جنګ تبلیغ، د دښمن ځواکونو سره مرسته، او د ملي او بهرنی امنیت ضد پلان شوی فعالیتونو څخه.[48]

د ملی امنیت ریس کولای شي چي کارمندانو ته د استخباراتی کړنو لپاره نقدی بخشش ورکړی.[49] د ملی امنیت کارمندان د ملی امنیت قانون څخه د سرغړونی په صورت کی د عسکری جزا قانون پراساس مجازات کیدای شی.[50]

د ملی امنیت کلنی بودجه او نور اوپراتیفی لګښتونه د ملی امنیت د تشکیل پراساس ترتیب شوی (تقریبا د ۳۰۰۰۰-۱۵۰۰۰ تشکیل پیشبینی شوی). د یوناما د معلوماتو له مخی اوس مهال ملی امنیت خپله بودجه عمدتآ له نړیوالو منابعو څخه ترلاسه کوی.[51]

**د افغان ملی پولیس**

دافغانستان ملي پولیس د افغانستان دکورنیو چارو وزارت لخوا اداره کیږی، په شمول د سرحدی پولیسو او عامه نظم پولیس، چی دقانون او احکامو د تطبیق مسؤلیت او جنایی جرایمو او منازعی اړوند جرایمو ته د رسیدګی مسؤلیت لری. پداسی حال کی چی افغانستان پخوا هم پولیس ځواک درلود، د کمونستی دوری د څارندوی په شمول، چی د نوموړی دوری ځینی افسران نن هم دنده ترسره کوی، ننی پولیس تر زیاتی اندازی پوری د له پخپله له له بنیاد څخه په ۲۰۰۱ کی د طالبانو د رژیم دړنګیدو څخه ورسته بیا جوړ شول.

محلی جهادی قوماندانانو او نورو زورواکانو د ولسوالیو او ولایتی پولیسو پوستونه ونیول او اکثرو خپل مسلح افراد د ځانه سره شامل کړل، چی په نتیجه کی یی د موثری قوماندی او کنترول مخنیوی وکړ. کال ۲۰۰۶ کی روزنیز پروګرامونو، د معاشاتو او د رتبو داصلاحاتو پروسی (د اسنادو پراساس) د پولیسو په مسلکی کیدو کی مرسته وکړه چی د یوی دوامداره پروسی په توګه لا هم روانه ده. د پولیسو د پراخه کولو هڅی د دی په موخه چی د هغو پولیسو شمیره زیاته شي چی د سواد کچه یی لوړه ده، او د پولیسو د بیرته له لاسه کولو کچی او د معاشاتو ټیټوالی هغه ننګونی دی چی د پولیسو پرمختج یی ستونزمن کړی دی.

د ملی پولیسو بودجه د افغانستان لپاره دقانون او نظم وجهی صندوق LOTFA څخه ورکول کیږی، چی دملګرو ملتونو دپراختیایی پروګرام په واسطه په ۲۰۰۲ کال کی د نړیوالو شریکانو څخه د مرستو د انسجام یو څوارخیزه وجهی بودجی په توګه رامنځته شوه. مرسته کوونکیو کی کانادا، چک جمهوریت، دنمارک، اروپایی اتحادیه، فنلند، جرمنی، ایټالیا، جاپان، نیدرلند، ناروی، سویټزرلند، انګستان او د امریکا متحده ایالات شامل دی. د LOTFA فعالیت په دری ستونونو کی تنظیم شوی: دپولیسو او محابسو دکارمندانو تنخواه او دپولیسو د ودانیو جوړښت؛ د ظرفیت پراخیتا او دپولیسو د اداری او کارمندانو په سطحه اساسی اصلاحات، او دیموکراتیک پولیسی اجراآت.

د ملی پولیسو د اصلاحاتو هڅی، ښوونیزو پروګرامونه، تخنیکی مرستی او تجهیزاتو ترلاسه کول د نړیوالی ټولنی څخه، اروپایی اتحادیی د پولیسو ماموریت او د پولیسو د هماهنګی نړیوال هیت (بورد) له لاری همغږی کیږی.

## ۳- د ملی امنیت ریاست کی شکنجی

*(د ملی امنیت کارمندانو) ځما لاسونه یی ولچک کړل او د کړکی اوسپنیزی پنجری سره یی وتړل چی ځما د سر د پاسه وه. دوی ځنځیر او ولچک دواړه وکارول ترڅو ځما لاسونه هلته وتړی. ما نه شوکولای چی پښی ځمکی سره ولګوم. مخکی لدی چی تیاره (شپه) شی زه یی پریښودم. هریو ساعت کی یوکس راته او ځما څخه یی پوښتل چی آیا اقرار ته تیار یم، تیاریم چی خپل جرم قبول کړم ( یوترورستی ګروپ کی غړیتوب تور). بیا به هغوی*

[48]دکورنیو او بهرنی امنیت ضد جرایم ، ۸-۱ ، ۲۳ او ۹ مادی .
[49] دملی امنیت قانون ۲۴ ماده
[50] ملی امنیت قانون ۲۳ ماده
[51] دیوناما لیدنی د پټو منابعو سره ، جولای ۲۰۱۱

*دکوټې ښځه وتل او دروازه به يې ترله... بالاخره سبا شپه دوی زه دخپلې پنځرې ښځه وويستلم. ساعت ۳:۳۰ دقيقې دسهار و. زه په ډير بد حالت کې وم کله چې دوی زه راپاڅولم دوی دوهم ځلې د تحقيق شعبې ته يې لومړی تن (مدير) ته يوووړلم...دی کارمند چې په لمړی شپه مې ليدلی وو ماته يوکيبل را وښود او وييويل " زه به درته برقي شاک درکړم " او بيا هغه ماته برقي شاک راکړ (د زخمونو نښې ليدل کيدې). وروسته له هغې نه پوهيدم چې زه څوک يم او چيرته يم. کله چې بيا په حال راغلم ومې ليدل چې خپله کوټه کې ووم. مګر ځما دواړه ګوتې (دلاسونو غټې ګوتې) په رنګ وې زه پدې نه وم پوهيدلی مګر دوی ځما ګوته لګولې وه (د اقرار د ثبوت په توګه).*

**۸۲ شميره توقيفي، دخوست د ملي امنيت يوه توقيف خانه کی، ۲۰۱۱کال اپريل**

## الف. عمومی نظر

د۲۰۱۰ کال اکتوبر او ۲۰۱۱ کال اګست ترمنځ يوناما ۲۴ ولايتونوکی د ملي امنيت ۲۷۳ توقيفيانو سره مرکه کړی.[52] د۲۷۳ توقيفيانو څخه ۱۲۵ تنو (۴۶سلنه) دمرکي په بهير کی ويلي چې دوی د ملي امنيت توقيف خانوکی شکنجه شوی. معمول ډول شکنجې چې ويل شوی وو عبارت دی له ځړولو (اوږد وخت لپاره د لاسونوڅخه ځړول د ځنځير په وسيله چې ديوال، اوسپنيزو ميلو، او نورو ثابتو شيانوسره تړل شوی وو)، وهل ټکول خاص ډول پلاستيکی پايپ، برقی کيبل او سيم ياهم لرګو لښتو په وسيله، په ځانګړی توګه د پښو په تلو. د بدرفتاری نور ډولونه هم ښودل شوی چې د برقی شاک، دتوقيفيانو د تناسلی آلې تاوول، او بيضو (هګيو) ته فشار ورکول، دپښو نوکانو ويستل، او زيات وخت لپاره درول په کی راځی. توقيفيانو دسترګو تړلو او په سر د کڅوړی اچولو په هکله هم ويلی. د توقيفيانو وينا پر بنسټ دغه بدرفتاری تقريبا تل د تحقيق په جريان کی د اقرار ترلاسه کولو په موخه پلی کيږی. يواځی دوه سلنه توقيفيانو ويلی چې دنيونی (دستګيری) پرمهال يا نورو وختونوکی د ملي امنيت لخوا بدرفتاری ورسره شوی.

يوناما د ملي امنيت په پنځو توقيف خانوکی شکنجې مستندې کړی: د هرات ولايتي توقيف خانه، کندهار، خوست او لغمان همدارنګه د ملي امنيت د تروريزم سره د مبارزی (۹۰/۱۲۴) رياست مرکزی توقيف خانه. يوناما د کاپيسا او تخار ملي امنيت توقيف خانوکی د شکنجې يوشمير معتبره ادعا ګانی ترلاسه کړی. يوناما دپکيتا او ارزګان ولايتونو د ملي امنيت توقيف خانو څخه د ليدنی پرمهال دشکنجې کوم شواهد ترلاسه نه کړل.

يوناما دتوقيف ۱۵ نوروځايونو کی توقيفيانو سره مرکی کړی چې د ملي امنيت ۱۷ توقيف خانو څخه يې استازيتوب کاوه چې د بدخشان، بادغيس، بغلان،بلخ، دايکندی، فراه، هلمند، کنر، کندز، ننګرهار، سمنګان، سر پل، وردګ، زابل او په کابل ولايت کی ۱۷/۴۰ رياست، ۱۸/۳۴ او اول رياست) په کی شامليږی. په دی ۱۷ توقيف خانو کی څلورمه برخه (۲۵) سلنه توقيفيانو دشکنجې ادعا کړيده. د دی راپور ترليکلو پوری، د ترسره شوو مرکو شمير او ادعاګانو اثبات اړتيا پربنسټ يوناما دی ادو ادعا ګانو اعتبار ندی تصديق کړی. ولی د يوناما تحقيقات د يادو ادعا ګانو په هکله جريان لری.

## ب. د ملي امنيت تروريزم ضد مبارزی ۹۰/۱۲۴ رياست کی شکنجې

*کله چې دوی زه ۹۰ (رياست) ته راوستلم، زه نه پوهيدم چې چيرته راوستل شوی يم..... وروسته له دوه ورځو، زه دخپلو هم اطاقيانو له خوا وپوهيدم چې زه ۹۰ کی يم. دلته ۹۰ کی زيات وهل دی ځکه خلک ورته دوزخ وايي.*

**۲۴۷شميره توقيفي، ۲۰۱۱کال مي**

---

[52] ياد ولايتونه عبارتدی له بدخشان ، بادغيس ، بغلان ، بلخ ، باميان ، دايکندی ، فراه ، هلمند ، هرات ، کابل ، کندهار ، کاپيسا ، خوست ، کنر، کندز ، لغمان ، ننګرهار ، پکتيا، سمنګان، سری پل، تخار، ارزګان، وردګ، او زابل .

## عمومی نظر

یوناما د ملی امنیت تروریزم ضد مبارزی ریاست ( ۹۰/۱۲۴ ریاست) مرکزی توقیف خانی کی ۲۸ تنه توقیفیانو سره مرکی کړی.[53] پدی توقیف خانه کی، ملی امنیت د دولت ضد مظنونو قوماندانانو اویاهم زیاتو خطرناکو حملو مظنونینو په شمول له ډیرو مهمو مظنونینو څخه تحقیق کوی. دیادو مرکه شوو څخه یوولس تنو ویلی چی لومړی سر کی د ملی امنیت، " افغان سپیشل فورس "، " کمپاین فورس " یاهم د ناپیژنده افغان وسله والو لخوا نیول شوی.[54] اوولس تنو وویلل چی لومړی مرحله کی د کم شمیر نړیوالو ځواکونو له خوا نیول شوی وو او معمولا د " سپیشل فورس " " د افغان سپیشل فورس سره " "کمپاین ځواکونه"، " چټک غبرګون ځواک"، یاهم د ناپیژنده افغان وسلوالو له خوا نیول شوی وو. [55] هیڅ یو هم د ملی پولیسو او ملی اردو لخوا نیول کیدل تایید نه کړل. یوشیمر توقیفیاو ویلی چی د ملی امنیت ریاست ۹۰/۱۲۴ کی اوسط ډول ۱۵ ورځو له پاره ساتل شوی وو.[56] د۲۸ مرکه شوو څخه ۲۶ تنو(۹۳ سلنه) د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی د توقیف پرمهال د شکنجه کیدو پخلی کړی.[57] یوناما د ملی امنیت د مشرانو څخه ځوځوځله غوښتی چی د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست څخه د لیدنی اجازه ورکړی ترڅو هلته د توقیفیانو سره مرکه وکړی ولی یاده غوښتنه رد کړای شوی. یوناما په مختلفو توقیف خانوکی د هغه توقیفیانو سره د مرکو پربنسټ چی مخکی له مرکی د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ریاست په توقیف کی پاتی شوی وو په یاد ریاست کی دشکنجی اړوند مهم بنسټیز معلومات غونډ کړی.

دهغه مرکو پربنیسټ چی ترسره شوی، یوناما قوی شواهد موندلی چی د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی توقیفیان د یاد ریاست مسؤولینو له خوا د افراد یا معلوماتو ترلاسه کولو په موخه په سیستماتیک ډول شکنجه کیږی. د یوناما موندنو پراساس، ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی مسؤلین وهل، ځړول، د تناسلی آلی تاوول او ورته فشاروړکول د شکنجی د وسیلی په توګه کاروی. دوه توقیفیانو د برقی شاک ورکولو څخه ویلی، دوه توقیفیانو د ږیر د کشولو او ویستلو څخه ویلی، او دری توقیفیانو دیوال سره د هغوی د سرونو جنګولو څخه شکایت کړی.[58] ټولی بدرفتاری د تحقیق د پروسی په اړوند ترسره شوی. په اکثره قضیوکی، د توقیفیانو له خوا د پیښو سلسه وار ویل او ځواب ورکول دا څرګندوی چی د اقرار او معلوماتو ترلاسه کیدو په موخه د ملی امنیت مسؤولینوله خوا د تحقیق ناوړه روشونه کارول کیږی.[59] دا د توقیفیانو څرګندونی د دی ښکارندویی کوی چی څرنګه د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست مسؤلین د شکنجی مختلف ډولونه دتوقیفیانو دتحقیق لپاره کاروی:

> *د ملی امنیت ۹۰ ریاست کی په لومړی ورځ د دوه تنه افغانانو له خوا زما څخه تحقیق وشو. دوی...... ماته وویل چی اقرار وکړه (پدی چی تا دمشخصو تلیفون شمیرو څخه د طالبانو ځانګړو حلقو سره اړیکی نیولی).*

---

[53] یونامادااپریل ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۱می، په موده کی ددی راپور لپاره دملی امنیت دتروریزم ضد مبارزی ریاست۹۰/۱۲۴ لخوا نیول شوی لاندی شمیروتوقیفیانو سره مرکی کړی .
۲۴۳،۲۴۴،۲۴۵،۲۴۷،۲۵۳،۲۵۵،۲۵۷،۲۵۹،۲۶۰،۲۶۱،۲۸۶،۲۹۳،۲۹۴،۳۳۱،۳۳۲،۳۳۳،۳۳۴،۳۳۵،۳۳۶،۳۴۵،۳۴۶،۳۴۷،۳۵۰، ۳۵۱،۳۵۲،۳۵۳،۳۵۴ او ۳۵۶ .

[54] توقیفی نمبر۳۵۲ ،۲۴۷،۲۵۳،۲۵۷،۲۸۶،۲۹۳،۲۹۴،۳۳۶،۳۴۶،۳۵۰ او ۳۵۴. ځینو قضیوکی توقیفیان مشکوک ول چی کوم ځواکونو لخوا نیول شوی وو. ځینو نورو ادعا کوله چی دملی امنیت له خوا نیول شوی ولی کله چی دکالو (یونیفورم ) په هکله توضیحات ورکول بیا دملی امنیت یونیفورم سره یی مطابقت نه درلود. ددی دلیل داکیدی شی چی یاد توقیفیان دنیول کیدوڅخه وروسته ملی امنیت ته سپارل شوی وی .

[55]توقیفیان نمبر۳۵۴ ،۲۴۳،۲۴۴،۲۴۵،۲۵۵،۲۵۹،۲۶۰،۲۶۱،۳۳۱،۳۳۲،۳۳۳،۳۳۴،۳۳۵،۳۴۵،۳۴۷،۳۵۱ او ۳۵۶ . "افغان سپیشل فورس" دافغان ملی اردو یوټیم دی . "کمپاین فورس" هغه افغانانو ته ویل کیږی چی دبهرنیو ځواکونو له خوا دنده ګمارل شوی دی او دبهرنیانو سره په ګډه عملیاتوکی برخه اخلی او د افغانستان دامنیت ځواکونو قوماندی لاندی ندی . اوځینو نورو بیا ونه شوکړای چی

[56] دا ارقام د توقیف د مودی په هکله د ملی امنیت ورکړل شوی احصائیه نه دی ولاړ بلکه د هغو توقیفیانو له ویناوو څخه اخیستل شوی چی یوناما ورسره مرکی کړی چی د ۱۲۴/۹۰ ریاست کی ساتل شوی وو. هغه ارقام چی ملی امنیت وړاندی کړی دی، د هغو ارقامو سره ډیر نژدی دی چی له توقیفیانو څخه اخیستل شوی.

[57] توقیفیانو ۴۳،۲۴۴،۲۴۵،۲۴۷،۲۵۳
۲۵۵،۲۵۹،۲۶۰،۲۶۱،۲۸۶،۲۹۳،۲۹۴،۳۳۱،۳۳۲،۳۳۳،۳۳۴،۳۳۵،۳۳۶،۳۴۵،۳۴۶،۳۴۷،۳۵۰،۳۵۱،۳۵۳،۳۵۴،او ۳۵۶. توقیفی نمبر ۲۶۱ چی نوموړی ډیر سخت شکنجه شوی ولی لدی کلبه چی په توقیف کی یره لری نشی ویلی. توقیفی ۳۳۶ ویلی چی دپښو په تل وهل شوی په سپیره او بدرفتاری ورسره شوی لکه " ته به ترهغو ووهل شی ترڅو ربښتیا ونه وایی ،. داتاته یواځنی خرتیاده ." بل توقیفی لازیانو بدرفتاریو ډولونه څخه وینا کړی .

[58] توقیفی نمبر۲۴۳او ۲۵۹ . توقیفی نمبر۲۴۷ او ۳۳۱. توقیفیان نمبر۲۴۳،۲۵۵او ۳۴۷.

[59]توقیفیان نمبر ۲۴۳،۲۴۴،۲۴۷،۲۵۳،۲۵۹،۲۸۶،۳۳۱،۳۳۳،۳۳۴،۳۳۵،۳۴۵،او ۳۴۷ یادو توقیفیانو ځانګړی معلومات ورکړی چی تحقیق کوونکو دوی سره داقرار او معلوماتو ترلاسه کولو په موخه بدرفتاری کړی .

*ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی په لومړی ورځ دغه دوو تنو زه نه ووهلم او نه یې هم راسره بد چلند وکړ. یوائې دوی راته وویل چې هغه څه قبول کړم چې پرما ادعا شوی.*

*راتلونکو دوه ورځو کی ځما څخه تحقیق ونه شو ولی پدی دوه ورځو کی هره ورځ د سهار څخه تر ماسپښین پوری زه د لاسونو څخه د فلزی پنجریزی دروازی پوری ځړول کیدلم چې د دهلیز په منځ کی وه. دوی ځما پر سر کڅوړه اچوله او دمتوڅخه یې ځړولم.*

*سباورځ – په ۹۰ ریاست کی ځما د توقیف په څلورمه ورځ - زه د تحقیق یوی خونی ته یوړل شوم او دوه تنو افغانانو له خوا تحقیق راڅخه وشو. دوی بیاهم د تلیفون شمیرو په هکله راڅخه وپوښتل او ویی غوښتل چې اقرار وکړم پدی چې دا ځما تلیفون شمیری وی. ماورته وویل چې دا ځما نه وی. د دوی په لاس کی یوه دوسیه وه او ماته یی وویل چې ځما په هکله ټول معلومات او اقرار هغه دوسیه کی شته... کله چې ما پدی تاکید وکړ چې هغه تلیفون شمیری ځما ندی او زه دهغه په هکله نه پوهیږم، هغوی دوه نورو افغانانو ته غږ وکړ او دواړه تحقیق کوونکو د اوبو پلاستیکی پایپ په واسطه ځما په پښو او دپښو په تلو. په وهلو پیل وکړ.*

*بله ورځ، دوی بیا ځما په وهلو او تحقیق پیل وکړ او یوشان سوالونه یې وپوښتل. دوی زه ووهلم او تهدید یې کړم چې د اوبو یو بوتل به ځما مقعد کی داخل کړی. ددی تحقیق په بهیر کی ځما څخه د کوم کاغذ لاسلیک یا ګوتی لګولو غوښتنه ونکړه. زه بیرته خپل پنجری ته بیوړلی شوم.*

*(توقیفی دشکنجی اعمال توضیح کړل کوم چې څو ورځو کی پیښ شوی وو، د بوځل برقی شاک په شمول.)*

*دوی زما جامی راڅخه وویستلی، او یو له دوی څخه زما بیضی (هګی) په خپل لاس کی ونیولی او څو ځلی یی فشار ورکړ ترڅو زه بیهوشه شوم، بیاچی په حال راغلم زه مجبور وم چې اقرار وکړم ځکه چې دهغه درد مقابل کی د مقاومت توان می نه درلود او نه می غوښتل هغه څه بیا راسره ترسره شی.(توقیفی رسمی اقرار وکړ) زه جبرآ مجبور کړای شوی وم چې داسی وکړم چې ټول جسمی او روحی عذاب....څخه لیری اوسم کله چې مجبور کړای شوم چې اقرار وکړم په دی چې زه طالب وم او هغوی سره می همکاری کوله زه بیرته خپلی پنجری ته بیوړای شوم او هیڅکله تحقیق او بد رفتاری راسره ونه شوه.[60]*

**توقیفی نمبر۲۴۳ ، ۲۰۱۱ اپریل**

***وهل***

د۲۵څخه ۱۵ توقیفیانو چې د۹۰/۱۲۴ ریاست په توقیف کی پاتی شوی وو د وهل کیدو ادعا کړیده.[61] ځینو په سوکانو، لتواو یاهم دواړو په واسطه وهل کیدو ادعاکړی ده. [62] حتی زیاتو یی ویلی چې د پلاستیکی پایپ، فلزی پایپ، یاهم لبنتو پواسطه وهل شوی.[63] وهل شوو یاده کړه چې دوی پر پښو (د پښو د تلو په شمول)، شا تخته، ګیډه، او ولو یا اوږو باندی وهل شوی وو.[64] د ټولو د وهلو موخه د اقرار اخستل ښودل شوی.

توقیفیانو ویلی چې د وهلو په دوران کی دوی داوداسه لپاره د اوبو څخه منع کړای شوی وو، ما د ملی امنیت مسؤلینو څخه وغوښتل چې اوداسه لپاره اوبه راکړی، او ما هغه ته وویل د خدای لپاره او قرآن لپاره اوبه

---

[60] لیکل شوی متن یو څه بدل کړای شوی تر څو د توقیفی پیژندنه ورڅخه ونه شی.

[61] توقیفی نمبر ۲۴۳و۳۴۵،۳۳۵،۳۳۴،۳۳۳،۳۳۲،۳۳۱،۲۹۳،۲۶۰،۲۵۹،۲۵۳،۲۴۷،۲۴۵،۲۴۴،او ۳۴۷.

[62] توقیفی نمبر ۲۹۳،۲۵۹،۲۴۵،۲۴۴،۲۴۳ شدی ۳۳۱.

[63] توقیفی نمبر ۲۴۴، ۲۴۷، ۲۵۳، ۲۵۹، ۲۹۳، ۳۳۱، ۳۳۲، ۳۳۳، ۳۳۴، ۳۳۵، ۳۴۳، ۳۴۵ و ۳۴۷ ویلی چې لبړی پایپ په واسطه وهل شوی . توقیفی ۲۴۳، ۲۴۴، ۲۵۳ او ۳۳۱ ویلی چې دابو پلاستیکی پایپ سره وهل شوی . توقیفی ۲۳۹ ویلی چې دفلزی پایپ پواسطه وهل شوی او توقیفی ۲۵۹ ویلی چې دلرګو لښتوپه واسطه وهل شوی .

[64] توقیفی نمبر ۲۴۴، ۳۳۱، ۳۳۵ او ۳۴۵ ویلی چې دوی د پښوپه تلو وهل شوی ، توقیفی نمبر ۲۴۷، ۳۳۲ او ۳۳۳ ویلی چې په پښو وهل شوی ولی دپښوکومه ځانګړی برخه نده ښودلی . توقیفی نمبر ۲۴۳، ۲۴۴، ۲۹۳، ۳۳۳ او ۳۳۴ ویلی چې دوی په لینګو وهل شوی. توقیفی ۲۴۷ او ۳۳۲ ویلی چې دشا په تخته وهل شوی ،اوتوقیفی نمبر ۲۴۷ ویلی چې په اوږو او خیټه (نس) وهل شوی . توقیفی نمبر ۲۵۳، ۲۵۹، ۲۶۰ او ۳۴۷ روښانه نکړه چې په کوم ځای وهل شوی .

راکړی، هغه راته وویل دلته نه خدای او نه قران شته.(توقیفی وویل چی د ملی امنیت کارمند ترهغی اوبه رانکړی ترڅوچی اقرار می ونه کړ).[65]

***ځوړندول***

د۹۰/۱۲۴ ریاست کی توقیف شوو ۲۵څخه ۱۰ توقیفیانو د ځوړندولو څخه خبر ورکړی.[66] هغو ویلی چی دوی په دهلیز کی یوی فلزی پنجریزه دروازی باندی او یاهم هغه فلزی میلو باندی چی د دروزای دپاسه دی دلاسونوڅخه ځوړند کړای شوی وو. [67] یوتوقیفی داسی وویل :

> *ورسته له یوزیات وخت وهلو – نه پوهیږم څومره وخت لپاره – دوی زه د یوی فلزی پنجریزه دروازی پوری ځوړند کړم... زه ترمابنام پوری ځوړند کړای شوی وم، او په دی موده کی زما پرسر باندی کڅوړه هم وه. هغه دروازه په یو دهلیز کی وه. او زه د مازیګر لمانځه لپاره خلاص کړای شوم او بیا ځوړند کړای شوم، بیا دمابنام لمانځه لپاره پریښودلای شوم، اوبیا وځړول شوم، بیا د مابنام ډوډی لپاره پریښودلای شوم او بیا دشپی تر لسو بجو ځوړند کړای شوی وم. کله چی زه ځوړند کړای شوی وم، مایواځی په تکرار سره اوریدل چی راته یی ویل چی ما حقیقت نه دی ویلی.*
>
> **توقیفی نمبر ۲۰۱۱،۳۳۱ اپریل**

هغو نورو چی ډیر وضاحت سره ځواب ورکړی ویلی دی چی د ملی امنیت مسؤلینو دځړولو میتود د معلوماتو او اقرار ترلاسه کولو لپاره کارولو.

> *دوی به ځوړند کړم وروسته به یی په پلاستیکی پایپ ووهلم بیابه یی ځوړند کړم او دوی به راڅخه وپوښتل چی آیا د دوی تور پرځان باندی قبلوم یانه، او بیابه دوی زه وهلم.*
>
> **توقیفی نمبر ۲۰۱۱،۲۵۳ اپریل**

یاد حالت باندی ځوړندول ډیر درد ناکه وو. یوتوقیفی وویل زه ډیر درد کی وم او چی کله می دډیر درد څخه چغی وهلی، دوی به په پلاستیکی پایپ وهلم چی چپ اوسم.[68]

***دتوقیفیانو د تناسلی آلی تاوول***

د ۲۵ څخه څلور تنو توقیفیانو خبر ورکړی چی د دوی تناسلی آله تاو یا کښی کاږل شوی وی او خصیو (هګیو) ته یی فشار ورکړای شوی و.[69] هغه توقیفیانو چی له دی بد چلند څخه شکایت کړی وو ویلی دی چی دی کار ډیر سخت درد درلود او دوه توقیفیانو ویلی چی دوی ددی عمل په جریان کی خپل هوش له لاسه ورکړی وو.[70]

---

[65] توقیفی نمبر۳۵۶ .
[66] توقیفی نمبر ۲۴۳، ۲۴۴، ۲۴۵، ۲۴۷، ۲۵۳، ۲۹۳، ۳۳۱، ۳۳۴، ۳۳۵ او ۳۴۵.
[67] ۲۴۳، ۲۴۴، ۲۴۵، ۲۴۷ او ۳۳۱ نمبر توقیفیانو راپور ورکړی چی دوی په یو دهلیز کی د دروازی له فلزی میلی (یا دروازی پر سر) څخه ځوړند کړای شوی وو. ۳۳۴ نمبر توقیفی وویل چی لاسونه یی ولچک شوی وو او له چت څخه ځوړند کړای شوی ؤ. ۳۳۵ نمبر توقیفی وویل د هغه لاسونه چت پوری وصل یوی فلزی میلی پوری تړل شوی وو، ۲۹۳ نمبر توقیفی وویل «دوی زه له لاسونو څخه دیوال پوری وځړولم چی پښی می په سختئ ځمکی ته رسیدی»، او توقیفی نمبر ۲۵۳ وویل چی له لاسونو څخه ځړول شوی و.
[68] توقیفی نمبر۲۴۴.
[69] توقیفی نمبر ۲۴۳،۲۴۴،او۲۴۷ خبر ورکړی چی ددوی تناسلی آله تاو کړای شوی وی . توقیفی نمبر ۲۵۳ خبرورکړی چی "همدارنګه دی دوی زما خصیه ته خپلو لاسوباندی فشار ورکړی وو ترڅو ما مجور کړی چی اقرا وکړم چی زه په ټولو هغه تروریستی اعمالوکی دخیل وم کوم چی پرما تورلګولی وو .هغوی دوه ځله داسی وکړل ،او په سخت درد کی وم ".
[70] توقیفی نمبر۲۴۳ او ۲۴۴ .

### د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست ته استول

یوناما د ۱۷ تنو توقیفیانو سره مرکه کړې چې لومړئ قدم کې د نړیوالو وسله والو ځواکونو او افغان ملی امنیتی ځواکونو لخوا نیول شوی او بیا د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست ته استول شوی وو. یوناما شواهد ترلاسه کړی چې یاد توقیفیان ورسته له استولو د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی شکنجه شوی.

د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست ته د تحقیق لپاره د توقیفیانو استولو په هلکه یوتوقیفی داسی وویل :

*د ۲۰۱۱ کال مارچ په XXX تقریبی توگه د شپی ۸:۳۰ یا ۹ بجو شاوخواکی، زه د امریکا ځواکونو له xxx ولسوالی کی XXX ولایت کی ونیولم . زمونږ لاسونه ولچک وو په سرمو کځوړه وه او د چورلکی پواسطه امریکایانو مرکز ته انتقال شو... مونږ د امریکایانو مرکز کی ځلورو ورځو له پاره پاتی شو. هلته لومړیودریو ورځوکی یو تحقیق کوونکی زما څخه تحقیق وکړ... دوی زه د طالبانو سره په همکاری او غړیتوب متهم کولم. تحقیق په نرمی سره مخ پر وړاندی ته. هلته وروسته له ځلورو ورځو تیرولو مونږ تول د یوی چورلکی پواسطه د XXX ساعتوسفر وروسته یوبل ځای ته انتقال شولو. په توله یاده موده کی زمونږ په سرکځوړی اچول شوی وی. زه نه پوهیږم دا کوم ځای وو. دلته یواځی امریکایان وو او تقریبا د شپی لسو بجو شاوخوا وخت و چی هلته ورسیدو... هلته یوی ورځی لپاره وساتل شوم. وروسته له هغی د ملی امنیت XXX ته د یوی چورلکی پواسطه انتقال شوم. زه یی دهغه ولایت ملی امنیت ته وسپارلم. چیرته چی یوه ورځ پاتی شوی وم او پدی موده کی دوی زما څخه تحقیق نکړ، وروسته له یوی ورځی دوی زه د ملی امنیت XXX ته انتقال کړم چیرته چی زه ۱۵ ورځی پاتی شوم او دوه ځلی تحقیق راڅخه وشو. وروسته له هغی زه د یو موټر پواسطه د ملی امنیت ۹۰ ریاست ته انتقال شوم، کله چی هلته ورسیدم په لومړی ورځ دیو تن لخوا زما څخه تحقیق وشو، چا چی زما سر په دیوال وهلو او زما څخه یی غوښتل چی اقرار وکړم چی زه طالب یم. لومړیو ځلور ورځوکی زما څخه هره ورځ یوځل تحقیق کیده. زه مجبور وم چی اقرار وکړم ځکه چی زه هره ورځ تحقیق کوونکو له خوا وهل کیدم او زه په ډیر درد کی وم. زه څوځله په پلاستیکی پایپ پواسطه ووهل شوم.*[71]

**توقیفی نمبر ۲۰۱۱،۳۴۷ اپریل**

**د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست کی د ماشومانو شکنجه**

د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست ډول ډول تخنیکونه کاروی چی شکنجه کی راتللی شی: دغه چلند د ماشومو توقیفیانو په وړاندی هم کارول شوی (د۱۴ او ۱۷ کلونو ترمنځ عمر لرونکو). یوناما د شپږو ماشومانو سره مرکی کړی چی د ملی امنیت ۱۲۴/۹۰ ریاست په توقیف کی ساتل شوی وو. پنځو تنو ویلی چی شکنجه شوی.[72] یوناما دی پایلی ته ورسیده چی پنځه تنه ماشومان د تحقیق په دروان کی د اقرار ترلاسه کولو په موخه شکنجه شوی.[73] یو ماشوم نه شکنجه شوی او نه بد چلند رسره شوی وو خو په شکنجه تهدید شوی وو.

یادو پنځه تنو ماشومانو ادعا کړی چی د شکنجی څخه د خلاصون په موخه یی غلط اقرار کړی چی دوی د ملی امنیت ضد جرایمو کی دخیل وو. [74] پنځه واړه په پلاستیکی پایپ سره وهل شوی وو، یو په یو کلک پلاستیکی پایپ او یو برقی کیبل سره وهل شوی، یو برقی کیبل سره په شا وهل شوی او دری تنه نور بیا د پښو په تلو وهل شوی.[75] همدارنگه دپنځو څخه څلور تنه یی ځوړند کړای شوی هم وو.[76] یو ماشوم برقی شاک ورکولو باندی تهدید شوی وو ترڅو چی هغه اقرار وکړ.[77] یوماشوم خبر ورکړی چی د ملی امنیت د تحقیق کوونکی له خوا یی

---

[71] تاریخ ، وخت او موقیعت دتوقیفی د محرمیت او امنیتی دلایلو له کبله پټ ساتل شوی .
[72] توقیفیان نمبر ۲۴۴،۳۵۰،۳۵۱،۳۵۲،۳۵۴،او ۳۵۶.
[73] توقیفیان نمبر ۲۴۴،۳۵۰،۳۵۱،۳۵۴ او ۳۵۶.
[74] پوټتنی ماخذ
[75] پورتنی ماخذ
[76] توقیفیان نمبر ۲۴۴،۳۵۰،۳۵۱ او ۳۶۵.
[77] توقیفی نمبر ۲۴۴

خصیو (هګیو ) ته فشار ورکړای شوی وو په داسی حال کی چی بل ماشوم ویلی چی د ملی امنیت کارمند له خوا په جنسی تیری تهدید کړای شوی وو.

### ت. دکندهار ملی امنیت کی شکنجه

#### عمومی نظر

یوناما د کندهار ولایت د ملی امنیت مرکزی توقیف خانه، د ملی پولیسو قوماندانی او عدلیه وزارت سرپوزی محبس کی د منازعی اړوند ۳۵ تنو توقیفیانو سره مرکی کړی چی د کندهار د ملی امنیت نظارت څخه هلته انتقال شوی وو.[78]

یوناما اثباتیه شواهد موندلی چی ۳۵ توقیفیانو څخه ۲۵ (دوه له دری برخو) توقیفیان د کندهار د ملی امنیت توقیف خانه کی یاهم دهغه زون نورو ملی امنیت توقیف خانوکی د ملی امنیت کارمندانو له خوا د معلوماتو او اقرار ترلاسه کولو په موخه په سیستماتیک ډول شکنجه شوی [79] توقیفیانو د ملی امنیت کارمندانو له خوا د کړنو تفصیل ورکړ چی په کی ځړول، ځینو قضیوکی تر ځلورو ورځو پوری، ګیډی شوو کیبلونو باندی وهل، فلزی او برقی کیبل باندی وهل، پر سرباندی په لته (لګته) وهل ترهغی چی توقیفی هوش دلاسه ورکړی، راځی. د پښو په تلو وهل، خصیو ته برقی شاک ورکول، او د وګړو د لاسونو ولچک په یو ډیر دردوونکی وضیعت سره، چی یو لاس یی تاو کړای شوی پر اوږه باندی ولچک شوی او د توقیفی دوهم لاس سره شا خواته تړل شوی چی ځینو قضیو کی دځلورو ورځو لپاره همدا وضعیت ساتل، شوی هم شوی دی. یوتوقیفی ویلی چی د ملی امنیت کارمند د هغه دپښو نوکان د چاقو په واسطه کاږلی. همدارنګه توقیفیانو په دوامداره توګه د سترګو تړل کیدو څخه هم خبرورکړی.

توقیفیانو ځانګړی ځای کی د ملی امنیت له خوا د نیول کیدو مشابه مثالونو خبر ورکړی، د کندهار ولایت ځانګړی ولسوالی د ملی امنیت توقیف خانی ته انتقال چیرته چی په عاجله توګه د معلوماتو او اقرار ترلاسه کولو په موخه سختی شکنجی ورکول شوی د۲ څخه تر ۷ ورځو لپاره بیا د کندهار د ملی امنیت مرکزی توقیف خانی ته انتقال شوی چیرته چی ډیرو ورځو په موده کی زیاتی شکنجی او تحقیقات ترسره شوی او پایله کی دعدلیی وزارت محبس (دکندهار سرپوزی محبس) ته انتقال شوی.[80] یادو توقیفیان سره دکندهار د ملی امنیت مرکزی توقیف خانه کی په اوسط توګه شلو ورځو کی مرکه شوی.

#### وهل او ځوړندول

یوه قضیه دا ښیی چی  د منازعی اړوند توقیفیانو سره د کندهار ملی امنیت کارکوونکی له خوا څنګه چلند کیده:

*زه د پاکستان یوی مذهبی مدرسی څخه فارغ شوی وم. کله چی خپل کورته راستنیدو په موخه افغانستان ته په لاره کی وم، سرحد کی د ملی امنیت له خوا یوی تالاشی کی ونیول شوم. د (کندهارښار ملی امنیت ته) رسیدلو سره سم تحقیق شروع شو.*

*د ملی امنیت یوګروپ کارمندانو راڅخه وپوښتل چی تا د طالبانو کوم کارونه اوچیرته ترسره کول. ماورته وویل چی زه طالب نه یم – زه یو عام وګری یم چی پاکستان کی می مذهبی زده کړی کولی. دوی باور ونکړ او زما په وهلو یی پیل وکړ. زه نه پوهیږم چی دوی څوتنه وو ولی له دوه تنو زیات وو. دوی ی وبرقی کیبل درلود. دوی زه په پښو، ورنونو او شا باندی ووهلم. وهل او بدرفتاری دری ورځی دوام درلود. دوی زه دری واری د ورځی او یوځل به د شپی له خوا زما څخه تحقیق کاوه. دوی به د تحقیق څخه وروسته په مازیګر کی*

---

[78] توقیفیان ۲۱۳، ۲۱۴، ۲۱۵، ۲۱۶، ۲۱۷، ۲۱۸، ۲۱۹، ۲۲۵، ۲۲۶، ۲۲۸و ۲۲۹، ۲۳۰، ۳۳۷، ۳۳۸، ۳۳۹، ۳۴۰، ۳۴۱، ۳۴۲، ۳۵۸، ۳۶۴، ۳۶۵، ۳۶۶، ۳۶۷، ۳۶۸، ۳۷۰، ۳۷۱، ۳۷۲، ۳۷۳، ۳۷۴، ۳۷۵، ۳۷۶، ۳۷۷، ۳۷ ۳۷۹، ۳۸۰. د ۲۰۱۱ جنوری څخه تر ۲۰۱۱ اګست ۱۵ پوری د دی راپور لپاره کندهار کی یاد شوی توقیفیان مرکه شوی.

[79] دکندهار دملی امنیت مرستیال یوناما ته ویلی چی دکندهار دملی امنیت مرکزی توقیف خانه کی تخمینا ۱۵۰ تنه توقیفیان دی (یوناما مرکه دسمونوال عبدالوهاب سره ، ۲۰۱۱کال اګست ۱۶).

[80] دتوقیفی دشهرت محرمیت او امنتی دلایلو په دلیل دملی امنیت دتوقیف خانی او ولسوالی نوم پټ ساتل شوی .

*ځوړندولم. دوی به زما لاسونه دسیني پوری زما په پګړی راتړل او چت پوری یی ځړولم. زه فکر کوم چی هلته یو چتی بادپکه وه چی زه یی ورڅخه ځړولم. دغه به د۲۰ دقیقو څخه در ۲۵ دقیقو دوام درلود او دی موده کی به یی زه نه وهلم. ډیر کلک یی تړلم تردی حده چی زما ټولی سینی درد کاوه. ما به چغی وهلی ولی دوی به ماته غوږ نه اینبوده.*

*دریمه ورځ کی، د ملی امنیت کارمندانو تهدید کړم چی دوی به دلرګو لښته چی وچ مرچ باندی لړلی وی زما په مقعد کی ننه باسی. په همدی ورځ، دری کارمندان راغلل او زه یی پړمخ وغځولم، دوه تنه پرماباندی کښیناستل او دریم تن یی دپښو په تلو ووهلم. هغه یوبرقی کیبل باندی ووهلم. دا په رښتیا چی ډیر دردناکه وه. وهلو یوساعت دوام وکړ. ما اقرار وکړ چی زه طالب یم وروسته له هغه چی په دریمه ورځ ما د وهلو او شکنجی زغملو نور توان نه درلود.*

*د دری ورځو لپاره دوی ماته د لمونځ کولو اجازه رانکړه. دوی به حتی د ډوډی خوړلو پرمهال هم زما لاسونه نه راخوشی کول. دوی به یواځی بیت الخلا ته د تلو پرمهال زما سترګی راپرانستلی.*

*زه ملی امنیت مرکزی دفتر ته راوستلی شوم. دری تنو ملی امنیت کارمندانو دری ځله زما څخه تحقیق وکړ. دوی متهم کولم چی زه طالب یم، څرنګه چی ما رد کړه، دوی زما پر وهلو پیل وکړ.دوی زما لاسونه شاته وتړل او په برقی کیبل یی په وهلو پیل وکړ. څو تنو زه نیولی وم او یو یا دوه تنو وهلم.دوی زه په پښو، لینګیو، شا، او سینه باندی وهلم او ډیر سخت یی ووهلم. ما مخکی له دی تحقیق کی منلی وو چی زه طالب یم ولی دوی زما څخه غوښتل چی بشپړ جزییاتو سره ووایم چی کله طالب وم کوم کارونه او عملیاتونه می کړی. دوی مختلفی پیښی په مختلفو وختو کی یادولی د کومو په هلکه چی ما معلومات نه درلودل مګر دوی په زور سره زما څخه غوښتل چی قبول کړم چی د دی پیښو تر شاه زه وم. زه ناروغه وم، نه می شوکولای چی ودریږم یا وګرځم. ما د داکتر غوښتنه وکړه ولی دوی اجازه رانکړه.*

*(توقیفی یو بنداژ وخود چی پرسینه باندی یی وو او ادعا یی کوله چی دځړولو له وجی درد لری او همدارنګه په چپه پښه باندی څلور رغول شوی زخمونو داغونه او پنځه داغونه په ښی پښه وښودل کوم چی دبرقی کیبل له وجی زخمی شوی وو.)*

**توقیفی نمبر ۳۷۹، جولای ۲۰۱۱**

یوبل توقیفی دمرکی په دوران کی دوهلو او ځړولو څخه پرته خپل حال داسی بیان کړ چی نوموړی څخه اقرار اخستلو کوښښ پداسی حال کی شوی چی نوموړی زخمی وو. ددغه توقیفی وینا داسی ده :

*زما څخه تحقیق وشو (دکندهار ولایت د ملی امنیت یوتوقیف خانه کی ). زما سترګی تړل شوی وی. دغړونو څخه مافکر کاوه چی هلته ممکن دری یا څلورو تنو زما څخه تحقیق کاوه. دوی ماته وویل،"آیا ته طالب یی؟" ماوویل، "نه" زه یو زده کوونکی (طالب) یم نه یوجنګیالی. دوی په سرباندی په ډیر سخت لګتو ووهلم او زه تر مازیګر پوری بیهوښه شوم. زه د مازیګر پوری په هیڅ نه یم پوه شوی. په مازیګر کی د دری بجو شاوخوا، ما هغوی سوالونوته ځواب ورکړ. ما نشو کولای چی قضاوت وکرم هغوی څه ویل. زه په بشپړه توګه په هوش نه وم. زه نه پوهیږم دوی د څه په هکله پوښتنی کولی او ماڅه ځواب ورکاوه. ما فکر کاوه چی ځمکه راباندی ګرده څرخیږی د هغه لګتو په دلیل چی سهار راته په سرراکړل شوی وی.*

*بل سهار باندی دوی همدارنګه به لنګیو باندی ووهلم. زما په یاد نه دی چی دوی ماپه لنګیو او پښو وهی، ولی کله چی راوبین شوم پوه شوم چی دوی ما په پښو وهی.*

*بل سهار دوی بیا راغلل، د تیرځل په شان یی زما څخه پوښتنی وکړی، دوی زه ووهلم ولی لږ. دوی زما څخه یوشان پوښتنی وکړی. دوی ماته وویل "ته یو طالب یی"، ماوویل چی زه نه یم، دوی په خپله خبره تاکید*

*کاوه. دوی ویل چې یوه ورځ مخکې مازیګر کې ما دوی ته ویلي چې زه طالب وم، مګر ما وویل چې زه هغه وخت نه پوهیدم، ځکه چې ما نشوکولای په یاد راوړم.*

*دوی د ۲۰ یاهم ۲۵ دقیقو لپاره ووهلم. دوی زیاتر د پښو په لاندې برخو ووهلم، یواځې یوځل دوی زه د لنګیو په ډیډه ووهلم. دوه تنو به زما پښي جګې کلکې ونیولې، دوه تنو زما پښې یوځای کلکې کړې وي او هوا کې نیولې وي، بیا به دوی زه په پښو، دپښو په تلو وهلم داسې حال کې چې زما پښې جګې نیول شوې وي هواکې. دا ډیر درد ناک وو، او زه یوې ورځې وړاندې څخه زخمي شوی ووم.*

*پداسې حال کې چې دوی به دا ډول وهلم، دوی به زما څخه پوښتنې کولې، دوی به مخکنی پوښتنې تکرارولې، ویل یې چې ما هغوی ته ویلي چې زه طالب وم. ماورته وویل زه نه پوهیدم چې ماویلي زه طالب وم، ماهغوی ته وویل چې زه نه پوهیږم ما تاسوته څه ویلي. دوی ماته وویل "یواځې مونږ ته ووایه چې ته طالب یې".*

*دوی یوکیبل باندې زه وهلم. دا د یو متر په اندازه اوږد و، د یومتر په شاوخوا کې. کیبل تقریبا پنځه سانتی متره، او یوڅو میلی متره نرۍ. دا د فلزي سیم څخه جوړ او ربړی پوښ یې درلود. دا د هغه څخه نرۍ وو ( یو فلزي میلی ته یې چې بسترې ته نژدې وو اشاره وکړه، تقریبا پنځه سانتي متره نرۍ)، تقریبا درې د یو ځوان سرې ګوتو په اندازه یوځای ګیډی شوی. پداسې حال کې زما څخه تحقیق کاوه، دوی ماته یولیکل شوی وینا ښودله او ادعا یې کوله چې دا مالیکلې دی. دوی چې کله غوښته راته داوښایي چټکې سره زما سترګوبندیې خلاص کړ، هغه وخت ما وکړای شو چې کیبل ووینم ځکه خو اوس وایم چې دا څرنګه ښکاریده. دوی هغه وینا ماته ولوستله او ادعا یې وکړه چې دا هغه څه دي چې ماویلي. دوی ماته وویل "داستا وینا ده".*

*دوی زما لاسونه زما شاته ولچک کړل، سترګې یې راوتړلې او د ملي امنیت مرکزی دفتر ته یې بوتلم. هلته یو تحقیق کوونکی راته وویل "هغه ستا وینا ده" ماوویل زه نه پوهیږم چې ما هغه وخت څه ویلي، زه بیهوش وم.(توقیفي مخکې لدې چې د ملي امنیت بل دفتر ته انتقال شي د ۱۵ ورځو دوران کې د څو ځله تحقیق جریان کې د بدرفتاری خبر ورکړی.)*

**توقیفي نمبر ۳۶۵، ۲۰۱۱ مارچ**

**روغتیایي خدماتوته دلاس رسۍ اجازه نه ورکول او نظارت خانه کې مړینه**

نوری قضایاوې چې د یوناما پاملرنې ته وارل شوی د هغو توقیفیانو قضیې په کې شاملیږي چې په نظارتخانه کې یا هم له نظارتخانې څخه بهر وهل شوي او روغتیايي پاملرنې ته اجازه نه وه ورکړل شوې. حد اقل په یوه قضیه کې فرد مړ شو.[81] څوتنه یوقضیه کې دخیل وو چې د ملي پولیسو له خوا د ملي پولیسو په یو چک پوست کې د ملي پولیسو د مرکز ترڅنګ ۲۰۱۱ کال د اپریل او مې په میاشتو کې د کندهار ښار کې توقیف کړای شوي وو، او د تحقیق پر مهال بد چلند ورسره شوی وو. د څوروځو لپاره یاد وګړی د ملي پولیسو افسرانو لخوا د تحقیق په دروان کې شکنجه شوي وو او په دوامداره توګه وهل شوي وو، د کمبلي لاندې اچول شوي وو او بیا د کمبلي د پاسه ختلي وو او خیزونه پرې وهل شوي وو، دکمبلي لاندې وهل او بیا دهغه وګړو څخه غوښتنه شوې چې پدې اقرار وکړي چې طالب دي، چاودیدونکي توکي خښوونکي دي، د نورو طالبانو نومونه دي وښایي، سلاح او مرمۍ یې درلودلې. د شکنجې نور روشونه چې دغه توقیفیان یې تجربه لرې عبارت دي له څوړندولو او غوږونو، پوزه، خوله کې اوبه اچول. یوتوقیفي خبر ورکړې چې په داسې حال کې چې ځړول شوي وو څوځله ورانه کې پیچکاری شوی.

[81] تول نومونه ، دقیق تاریخونه ،او نور مشخص کوونکي معلومات دامنیتي دلایلو او دمحرمیت ساتلو په موخه حذف شوي.

ورسته له ۱۴ ورځو د ملي پوليسو نظارتخانه کې، ملي پوليسو توقيفيان ملي امنيت توقيف خانې ته وسپارل. ملي امنيت ته درسيدلو سره يو توقيفي د شکنجې له کبله د بدن په يوه اړخ تپي شوی وو چې تور رنګ يې د ليدو وړ و (ممکن د داخلي خونريزې او زخم له کبله). د هغه د مخ په خرابيدو حالت او د شديد ناوړه رفتار د علايمو سره ملي امنيت ۱۳ ورځې د توقيفي د مکررې غوښتنې سره چې د ډاکټر د معاينې لپاره يې کوله، ترهغې چې وينه کانګې کول يې پيل کړل، اجازه ورنه کړه. وروسته له هغې ملي امنيت نوموړي توقيفي روغتون ته واستاوه خو روغتون ته مخکې له رسيدو توقيفي مړ شو.[82]

**دکندهار د ملي امنيت نظر**

۲۰۱۱ کال اګست مياشت کې يوناما د کندهار ولايت ملي امنيت مرستيال سره وليدل، نوموړی وويل چې د مسؤول په توګه نوموړی ترهغه وخته پورې د شکنجې او بدرفتارۍ په هکله کوم شکايت نه دی ترلاسه کړی. نوموړی وويل د ملي امنيت اداره به د بدرفتارۍ او سؤ استفادې ټولې ادعا ګانې بررسي کړي او د ويې ويل چې تحقيق کوونکو روښانه لارښوونې ترلاسه کړې دي چې د توقيفيانو سره د قانون او پروسيجرونو مطابق چلند وکړي.[83]

دکندهار ملي امنيت د تحقيق مدير يوناما ته وويل چې ملي امنيت تحقيق کوونکې معمول ډول مخالفين (توقيفيان) مجازات کوي ترڅو معلومات ورڅخه ترلاسه کړي. عام د تحقيق ميتودونه په کندهار کې موثر ندي.[84] نوموړی وويل چې ممکن يوناما د توقيفيانو څخه د ملي امنيت چلند په هکله پوښتنې وکړي او ياده يې کړه چې که مونږ پوه شو چې يو ياغي دی، نو مونږ سزا ورکوو. د ملي امنيت مسؤولينو وويل چې د کندهار حالات، د مخالفينو فعاليت او افغاني کلتور يو څه داسې دي چې ملي امنيت ته دا ستونزمنه کوي چې پرته له مجازاتو او شکنجې له تروريستانو څخه معلومات ترلاسه شي، مونږ مجبور يو ځينې ميتودونه وکاروو ترڅو د تروريستانو څخه معلومات او اقرار ترلاسه کړو چې دوی کوم کارونه ترسره کړي. هغه زياته کړه، *زه دجزايي اجرآتو موقت قانون د ۲۷۵ مادې څخه ښه خبر يم. زه پوهيږم چې شکنجه او بدرفتاري منع ده او حتی دمعلوماتو ترلاسه کيدو په موخه که څوک خپل کارکوونکوته دیادو اعمالو په ترسره کولو امر هم وکړي نوموړی مجازات کيږي. هرڅوک غواړي چې قانون سره سم خپله دنده ترسره کړي ولې کندهار ځانګړې دی، دلته حالات دنوروځايونو په نسبت بل ډول دی.*[85]

دکندهار ملي امنيت څارنوال يوناما ته وويل چې ډير لږ شمير قضيو کې د ملي امنيت کارمندان د توقيفيانوڅخه د شکنجې او بدرفتارۍ شکايتونه ترلاسه کوي. د ملي امنيت څارنوالان يادې قضيې پوليسو روغتون ته استوي ولې دوی نه پوهيږي چې وروسته څه کيږي او تعقيب کوي يې نه.[86]

دکندهار ملي امنيت له خوا د توقيفيانو سره د بدرفتارۍ په هکله د راپورته شوو تشويشونو په ځواب کې، د ۲۰۱۱ کال جولای په ۲۶ مه د ملي امنيت رييس د سره صليب نړيوالې کميټې ته (کاپي يوناما او افغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون ته ) يو ليک په ښودلو وويل چې د ملي امنيت يو هيئت کندهار ته استول شوی وو ترڅو د کندهار ملي امنيت کې د توقيفيانو دحالت څخه ليدنه وکړي، پايله کې ياد هيت يو راپور خپور کړ چې ويلې يې وو چې د بدرفتارۍ او شکنجې هيڅ شکايت يې پيدا نه کړ. هيئت د ملي امنيت توقيف خانه کې دروغتيايي کلينک جوړيدو وړانديز کړی.[87]

---

[82] دملي امنيت ادعا پراساس توقيفي روغتون ته درسيدو ورسته مړشوی . پداسې حال کې چې بيا دروغتون کارکوونکې راپور ورکړی چې ياد توقيفي مخکې لدې چې روغتون ته راوړلای شي مړشوی وو.
[83] نوناما دکندهار ملي امنيت مرستيال سمونوال عبدالوهاب سره ليدنه ، ۲۰۱۱ کال اګست
[84] يوناما ليدنه د کندهار ولايت ملي امنيت مرستيال سمونوال عبدالحميد سره ، ۲۰۱۱ کال اګست ، کندهار
[85] پورتنی ماخذ
[86] ديوناما ليدنه د ملي امنيت څارنوال ،۲۰۱۰ داګست ۲۸ کندهار
[87] دسره سليب نړيوالې کميټه ته دملي امنت رييس ليک ۲۰۱۱ کال جولای ۲۶

**د امریکایي ځواکونو لخوا د کندهار ملی امنیت او ملی پولیسو ته د انتقال ځنډول**

د۲۰۱۱ کال جولای کی، امریکایي او ایساف قواوو د دایکندی، کندهار، ارزګان او زابل ولایتونو ملی امنیت او ملی پولیسو ته د توقیفیانو استول د جولای په ۱۲ مه دایساف قواوو دقوماندان د امر پر اساس وځنډول کله چی نوموړی قوماندان د شکنجی او بدرفتاری په هکله راپورونه ترلاسه کړل.[88] دراپور څلورم فصل وګوری.

## ج. دهرات ملی امنیت کی شکنجه

### عمومی کتنه

یوناما دهرات ملی امنیت ریاست توقیف خانه کی د۱۶ تنو توقیفیانو سره مرکی وکړی. [89] دیادی توقیف خانی څخه د یوناما لیدنی پرمهال، اوسط توګه ۲۸ ورځوکی د ۱۳ څخه ۳۳ توقیفیانو پوری ساتل کیدل.[90] یاد ۱۶ تنو څخه چی یوناما مرکه ورسره کړی، څلور تنه د ملی پولیسو له خوا نیول شوی وو. [91] دا توقیفیان د ملی امنیت توقیف خانه کی د ملی امنیت څارنوال لخوا ساتل کیدل، د چا دفتر چی د ملی امنیت ودانی ته نیږدی موقیعت درلود. د یادو شویو څلورو تنو څخه یواځی د ملی امنیت څارنوال یا هم د همکارانو لخوا تحقیق شوی وو نه د ملی امنیت کارمندانو لخوا، او دوی ترهغی چی د هرات توقیف خانه کی وو د هیڅ یوی فزیکی شکنجی او بدرفتاری راپور ندی ورکړی.

دیادو توقیفیانو څخه ۱۲ تنه توقیفیان د ملی امنیت له خوا نیول شوی او تحقیق ورڅخه شوی و، کومو څخه چی نهه تنو یی د بدرفتاری خبر ورکړی چی شکنجه کی راتلای شی.[92] دا د یو ۱۶ کلن هلک په ګډون دی.[93]

### دپلاستیکی پایپ پواسطه دپښو په تلو وهل

یوناما داسی معتبره شواهد موندلی چی دهرات ملی امنیت مسؤولینو توقیفیان د معلوماتو یاهم د ممکنه اقرار ترلاسه کولو په موخه په سیستماتیکه توګه شکنجه کړی. د دوی دشکنجی طریقه زیات منظمه توګه تنظیم شوی. زیاتو توقیفیانو ځواب ډیر واضح او مفصل وو. ددی ځوابونو څخه دهغه حالت یو ښکاره تصویر تر لاسه کیږی کوم کی چی د دوی ابتدایی تحقیق ترسره شوی: دشپی دوران کی، د ملی امنیت یوکارمند توقیفی د هغه کوټی څخه باسی، سترګی او لاسونه یی پری تړی، او د ملی امنیت بلی شعبی ته یی پلی بیایی.[94] هغه کوټه کی هغه څخه پوښتنی شوی او ځینی حالاتوکی تحقیق کوونکی په وهلو تهدید کړی که چیری هغوی په غوښتل شوو معلوماتو ورکولو پیل ونکړی.[95] بیا ورته ویل شوی وو چی مخ ځمکی خواته په زمکه پریوځی یا هم همغه ډول تیل وهل شوی وو.[96] د پښوپه تلو په نریو شیانو مداوم ډول وهل شوی کوم چی اکثره قربانیان پدی عقیده دی چی دا د برق

---

[88] دیوناما لیدنه د ایساف مشرانو سره ، ۲۰۱۱ کال اګست ، کابل او کندهار

[89] ددی راپورلپاره، یوناما د ۲۰۱۰کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۱ فبروری پوری دهرات ملی امنیت کی توقیفیانو سره مرکی کړی .

[90] یاد شمیره درسمی نیونی او انتقال تاریخ پراساس دی چی دراجستر کتاب ، څارنوالانو ، او فاضیانو څخه ترلاسه شوی په شمول ۱۳ توقیفیانو دهرات توقیف خانه کی توقیف شوی چی یوناما دهغوی په هکله ضروری معلومات ترلاسه کړی .

[91] توقیفیان نمبر ۲۰۱،۲۰۰،۱۹۳،او ۲۰۳

[92] توقیفیان نمبر ۲۰۲،۱۹۲،۱۹۱،۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۴،۱۸۳،۱۸۲،۱۸۱,۱۸۰،او ۲۰۴ . توقیفیان نمبر ۲۰۲،۲۰۱،۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۳،۱۸۲،۱۸۰،او ۲۰۴ وویلی چی دوی فزیکی بدرفتاری شوی : ددی څخه توقیفیان نمبر ۱۸۴ او ۱۹۲ دزیاتو معلوماتو ورکولو ډیره وکړه . توقیفیان نمبر ۱۸۱ او ۱۹۱ ویلی چی دوی فزیکی بدرفتار یا شکنجه شوی ندی .

[93] توقیفی نمبر ۱۹۰.

[94] توقیفی نمبر ۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۳،۱۸۲،۱۸۰،او ۲۰۴ ویلی چی دشپی پرمهال شکنجه کیدل . توقیفی نمبر ۱۸۶،۱۸۵،۱۸۰، ۱۹۰، او۲۰۴ ویلی چی دوی دیو کارمند له خوا دکوټی څخه ویستل کیدل . توقیفی نمبر ۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۳،۱۸۰ او ۲۰۴ ویلی چی دوی سترګی به تړل شوی وی .دری توقیفیانو چاچی ویلی سترګی دپټو یا دستمال پواسطه ددوی سترګی دپزی څخه پورته تړل شوی وی .توقیفی نمبر ۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۰ او ۲۰۴ ویلی چی دوی لاسونه تړل شوی وو. توقیفی نمبر ۲۰۲،۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۲،۱۸۰ او ۲۰۴ ویلی چی دوی دیوکارمند لخوا په قدم وهلوښکتنی دفتر بلی کوټی ته بوتلل شوی .

[95] توقیفی نمبر۱۸۶،۱۸۵ او ۲۰۴.

[96] توقیفی نمبر ۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۰ او ۲۰۴ . توقیفی نمبر ۲۰۲ بول ډول توضیح کړی . توقیفی نمبر ۱۸۰ او ۱۹۰ یولی چی دوی لمړی هغه شکل ته تیل وهل شوی . توقیفی نمبر ۱۸۲ او ۱۸۳ دوی ندی ویلی چی وهلو وخت کی کوم شکل باندی قرار درلود او نه هم چی څرنګه هغه شکل ته راوستل شوی وو. توقیفی نمبر ۱۸۰ ، ۱۸۶،۱۸۵، ۱۹۰ او ۲۰۲ ویلی چی زمکی پرمخ کارپټ وو.

کیبل وو.[97] توقیفیانو ډول ډول ځوابونه ویلي چې څوځلې وهل شوي. یوتوقیفي یوناما ته وویل، کیدای شي تاسي دا تجربه کړئ. ته به یواځې فریاد کوی او ژاړی به او حساب یې نه شي کولای.[98] بیا توقیفي بیرون ته ایستل کیږي ترڅو څو دقیقو پوري په یخ سمنت یا ریگ باندي وگرځي او بیا خپلې کوټې ته لاړ شي.[99]

دهرات ملي امنیت کې د شکنجې یوه نمونه:

*زما د لمړنی تحقیق په دوران کی، زه ووهل شوم. هغه شپه زه له خپلی کوټی څخه وایستل شوم. زما سترکی پټی سره تړل شوی وی. دوی زما دپزی څخه تول مخ پوخلی وو. زما لاسونه زما شاته تړل شوی وو. زه بلی کوټی ته بیوولای شوم – دا د کوټی سره یودهلیز کی نه وو، ولی زه نه پوهیږم کومه کوټه وه- پداسی حال کی چی زه دوه تنو داوړو څخه نیولی وم.*

*په هغه کوټه کی زه په فرش باندی ناست وم کله چی دوی زما څخه تحقیق کاوه. دوی زما څخه (وارده جرم) په هکله وپوښتل، چی دوی پر ما د حملی د تنظیم کوونکی فکر کاوه. ماځوابونو ته ادامه ورکوله (د متهم هغه ادعا چی د جرم ځای، او وخت کی د ده نشتوالی ثابت کړی). د ملی امنیت کارمندان داسی ښکاره کیدل چی دوی پوهیدل چی د پیښی ځای کی زه نه وم ولی بیا یی هم غوښتل زما څخه معلومات ترلاسه کړی.... خو دوی پدی تولو باور نه درلود. دوی وویل،"که ته چیری مونږ ته ریښتیا ونه وایی مونږ به دی ووهو".*

*مخکی له دی چی دوی زما په وهلو پیل وکړی، دوی زه پرمخی وغځولم داسی حال کی چی لاسونه می شاته تړل شوی او غاړه می کږه وه او پښی می هوا خواته پورته وی.... کله چی زه پدی حال کی وم دوی زه دوه ځله په شا باندی په کیبل ووهلم او بیا په پښو... دغه وخت شپه وه او زما سترگی تړل شوی وی، نو زه مطمین نه یم (چی آیا دا کیبل و که نه).*

*دا که هر شی و، ډیر کلک و. زه فکر کوم دا کیبل و، ځکه چی زما په پښوکی کوچنی سوری یا زخم و چی فکر کوم د کیبل نریو سیمونو باندی سوری شوی وو... دوی زما په وهلو پیل وکړ، زما څخه یی پوښتل، او بیا یی زما په وهلو پیل کاوه. کله چی دوی زما په وهلو بیا پیل وکړ، ما د درد له کبله په چغو پیل وکړ... دوی بیا زه ودرولم، او حویلی ته یی وایستلم او هلته یی ودرولم، په سمنت باندی، دپنځه دقیقو لپاره.*

*بیا.... دوی دهلیز ته بیووړم، سترگی یی راته پرانستلی، ما لمونځ وکړ، او بیا زه کوټی ته بیوولای شوم.*[100]

**توقیفی نمبر ۱۸۵، نومبر ۲۰۱۰**

دا ډول ناوړه چلند په دی معنی دی چی تحقیق کوونکو وهل ځکه کارول چی د توقیفي په اطلاح مقاومت مات کړي او نرم یې کړي تر څو په راتلونکو تحقیقاتو کې ورڅخه معلومات واخیستلای شي.[101] پداسي حال کې شواهد دا ښئي چې د وهلو محرک د توقیفي انکار وي چې د تحقیق پر مهال معلوماتو ورکولو څخه انکار کوي، خو د وهلو پر وخت د ځانگړیو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره نه وو استعمال شو. د تحقیقاتو په وخت کې چې کله توقیفي اقرار نه دی کړی، نو یواځې ورته په خوله بد او رد ویل شوي او هیڅکله داسي نه دی شوي چې له وهلو سم له واره وروسته ورڅخه پوښتني وشي. په عمومي توگه توقیفیانو د لومړی ځل تحقیق په دوران کې وهل شوي او کله

---

[97]توقیفي نمبر ۲۰۲،۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۳،۱۸۲،۱۸۰ او ۲۰۴ یویلي چې دپښو په تلو وهل شوي .توقیفي ۲۰۲ او ۱۸۵ هم یلي چې دوی یو یا دوه ځلي په شاباندي وهل شوي .توقیفیانو عموتوگه یلي چې دکومه ځایه دوی سترگی تړل شوي وی نه پوهیږی په څه شي باندي وهل شوي .توقیفیانو نمبر۱۸۲،۱۸۰،۱۸۵،او ۱۸۶ ویلي دوی فکر کوی چې برقي کیبل باندي وهل شوي . توقیفي نمبر ۲۰۴ ویلي دوی فکری کوی چې داوبو پلاستیکی پایپ وو.

[98] توقیفي نمبر ۱۸۶.

[99] توقیفي نمبر ۱۸۰او ۱۸۶ ویلي داهغه څه دي چې واقع شوي . توقیفي ۱۸۰ همدارنگه ویلي دوهلي پروخت دهغه په پښو اوبه اچول شوي .

[100] خالي پرینبودل شوي ځایونه د توقیفي دنامه دپټ پاتي کیدو په موخه پرینبودل شوي .

[101] توقیفي نمبر ۱۹۰،۱۸۶،۱۸۵،۱۸۳،۱۸۲،۱۸۰،او۲۰۴ .

هم وروسته له دی څو څو ځله ورڅخه تحقیق شوی، خو په ځینو حالاتو کی په ربښتیا هم کله چی ملی امنیت څو څو ځله تحقیقات کړی، دوی مات شوی دی بی له دی چی کوم فزیکی ناوړه چلند سره مخ شی.

## د. د خوست ملی امنیت کی شکنجه

### عمومی کتنه

یوناما د خوست ولایت د ملی امنیت ولایتی توقیف خانه کی ۳۱ تنه توقیفیانو سره مرکی کړی.[102] دیوناما لیدنی پرمهال، د۱۶ ورځو په موده کی په اوسط توګه تقریبا ۱۹ او ۲۳ تنو ترمنځ توقیفیان توقیف کی ساتل شوی وو.[103] د دی تعداد څخه ۱۸ تنه یی د نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا، دافغان ملی امنیتی ځواکونو په ګډون، او یا د "کمپاین فورس" عملیاتو کی چی نړیوال ځواکونه یا بهرنیان ورسره مله وی نیول شوی وو.[104]

دهغه مرکو پر بنسټ چی خوست کی ترسره شوی، یوناما داسی معتبره (اثباتیه) شواهد موندلی چی ښکاره کوی چی د خوست ملی امنیت کارمندانو د معلوماتو او اقرار ترلاسه کولو په موخه توقیفیان په سیستماتیکه توګه شکنجه کړی. د خوست ملی امنیت په عمومی  توګه د اوږده وخت لپاره درولو څخه (چی له خوب او نورو احساسونو څخه محرومیت ورسره وی)، ځوړندولو او وهلو څخه د شکنجی په توګه کار اخیستی. اکثره وخت د رسیدوسره سم او مخکی له دی چی کوټی ته یووړلی شی، تحقیق کوونکی په لنډه توګه له توقیفی څخه پوښتنی کوی. که چیری توقیفی د جرم په وارد شوی اتهام اقرار ونه کړی، د ملی امنیت کارمند وایی چی توقیفی درواغ وایی او ګاردانو ته امر کوی چی نوموړی بهر ته یوسئ او ویی دروی. وړاندی تحقیق کی ځوړند ول، وهل، په جبر سره لا زیات درول، او کوټه کی پاتی کیدل شاملیږی. یوځل چی توقیفی په هغه څه چی باید اقرار وکړی ګوته ولګوی، بیا نو د ملی امنیت تحقیق کوونکی د توقیفی څخه نه تحقیق کوی او نه یی هم شکنجه کوی که د هرڅومره وخت لپاره د ملی امنیت توقیف خانه کی پاتی شی.

**د یو توقیفی وینا چی څرنګه د خوست ملی امنیت کارمندانو له خوا د اقرار تر لاسه کولو په موخه وهل شوی او جبرآ درول شوی وو.**

> *لومړی شپه زه بهر ودرول شوم، سترګی می تړلی وی. زه به بیا بیا بهر ته ویستل کیدم او درول کیدم، زه په دقیقه توګه نه پوهیږم دا څوځله تکرار شو، مګر زه مجبور کړای شوی وم چی ساعتونو لپاره دشپی په دوران کی او د ورځی په دوران کی هلته ودریږم. ددی په منځ کی تحقیق کیده، وهل کیدم او بیا به درول کیدم. زه ترهغه چی ولاړ وم مخامخ دیوال ته به می کتل، زه دیوال ته نږدی ولاړ وم، ځینی وخت د ورځی په دوران کی سوری ته به ولاړ وم، ځینی وخت به لمر ته ولاړ وم. زه به کله کله بیهوشه کیدم او لویدم نو ځکه دا ډیره سخته ده چی یاد کړم زه کله بهر درول شوی وم.*
>
> *کله به چی زه بهر درول شوی وم دوی اوبه نه راکولی چی ویی څکم،او ګاردانو چی ماته کتل ډیر بی ادبه وو. په مجموع کی زه تقریبا دوه شپی او ورځی درول شوی وم، دغه په دوامداره شکل وو کله یوساعت لپاره، کله پنځه ساعتو لپاره. کله به مجبور وم ودریږم او کښنیم او بیا ودریږم ترڅو چی به دومره ستړی شوم چی نور می نشو کولای بیا به دوی وهلم. دلته د دریدو ترمنځ راڅخه تحقیق هم کیده.*
>
> *وروسته له یوی شپی دریدو سبا سهار باندی زما څخه تحقیق وشو. دهغه لومړی ځل په دوران کی، د یو (تحقیق کوونکی) له خوا راڅخه تحقیق وشو. بله ورځ بل تحقیق کوونکی راڅخه تحقیق وکړ او ویی وهلم. لومړی هلک راڅخه په لومړی ورځ کی دری واری تحقیق وکړ. هغه زه متهم کولم چی د (مخالفینو) سره اړیکی لرم او د خاصو قوماندانانو د نومونو په هکله یی راڅخه پوښتل... ما هغوی نه پیژندل... له ما څخه د*

[102]ددی راپور لپاره، د۲۰۱۰ کال اګست څخه تر ۲۰۱۱ می پوری یوناما دخوست ملی امنیت کی توقیفیانو سره مرکی کړی .
[103]دغه ارقام د خوست ملی امینت کی دتوقیفیانو دراپور پراساس دی .دغه معلومات هغه ۱۴تنو توقیفیانو  چی پخوا له مرکی دملی امنیت توقیف خانی توقیف کی ساتل شوی وو وړاندی کړی .
[104] خوست کی ، "کمپاین فورس" عمومی توګه دخوست دمحافظ قوا ته ویل کیږی (Khost Protection Force) ، او ځینو توقیفیا بیا همدی نامه سره ښودلی.

*دوه ساعتو لپاره وشو. او بیا زه ووهل شوم. هغه زه په دوو شیانو ووهلم. یود اوبو زیر رنګی پایپ چې یومتر اوږد و او د بوتل خولی په اندازه بر یې درلود. دلته د اوبو دری نور پایپونه هم وو. ولی هغه زیړ رنګی باندی زه وهلم بیا هغه د برق کیبل نه کار واخیست.دا نری د برق لاینونه یوځای شوی وو او تور رنګ ډبل پوښ یې درلود. زه فکر کوم یو له دی لینو څخه سور پلاستیکی پوښ درلود، ولی نورو ټولو تور پوښ درلود. دی ټولو د یوی ګوتی په اندازه پلنوالی درلود....*

*زه په پښو ووهل شوم، په شپه کی په شا باندی، او همدارنګه دچپ لاس پورتنی برخی(مټ) باندی.کله چې هغه زه په پښو وهلم زه په زمکه باندی غځیدلی وم او پښی می په چوکی باندی وی او کله چې هغه زه په شا، ښکته، او نوروځایونو وهلم زه مجبور وم چې ښکته وغځیږم....*

*وهل اخرکی ودرول شول کله چې ما اقرار وکړ. دوی ځینی شیان په کاغذ ولیکل،او ماپه هغه ګوته ولګوله. ما نه غوښتل چې اقرار وکړم او تیرو ورځو کی می انکار کړی وو، ولی وروسته له دی ټولو ما نه شو کولای چی دا حالت نور وزغمم.*

*وروسته زما د اقرار څخه دوی زه نور ونه وهلم. اوس زخمونه، شنه ټپونو نښی او تورخالونه لرم، او زیات وخت لپاره دا د لیدو وړ دی، ولی زه په خیټه کی یو سوځوونکی درد لرم چی له کبله یی زه په سختی سره قدم وهم.*

**توقیفی نمبر ۱۰۰، ۲۰۱۱ اپریل**

**د اوږد وخت لپاره جبری درول**

هغو توقیفیانو چې د فزیکی بدرفتاری خبر یی ورکړی، د۱۱ تنو څخه ۶ تنو ویلی چې دوی مجبور کړای شوی وو چې اوږده وخت لپاره ودریږی.[105] اوږده وخت لپاره درول هغه وخت پیل کیدل چې کلبه به توقیفی همکاری نه ښودله، نوتحقیق کوونکی ګارد ته امر وکړ چې هغه بهر ته یوسی.[106] یو توقیفی نقل وکړ چې یو تحقیق کوونکی داسی وویل "که چیری هغه توضیحات او اقرار ونکړ،هغه پریږدی ټوله شپه ودریږی".[107]

توقیفیانو خبر ورکړی چې د ملی امنیت مسؤلینو به توقیفیان دتوقیف خانی انګړ ته وایستل او پداسی حال کی درول کیدل چې کڅوړه به یی ورپه سرکوله، لاسونه یی ولچک او پښی به یی ور زولانه وی.[108] داسی حال کی چې کښیناستل منع وو، د ملی امنیت کارمندانو ځینی توقیفیان مجبورول چې په مکرره توګه کښینی او ودریږی.[109] اکثر توقیفیانو چې د زیات وخت لپاره درول شوی وو، ویلی دی چې دوی ته ډیر لږی اوبه ورکړای شوی یا هم هیڅ اوبه نه دی ورکړای شوی، حتی که چیری دوی د اوږد وخت لپاره لمر ته په مستقیمه توګه درول شوی وو.[110] د جبری درولو وخت د پام وړ تفاوت لری، او ټولو توقیفیانو نه شو کولای چې په دقیقه توګه وخت حساب کړی.

دشکنجی دی ډول کی د فشار مختلف وضعیتونه راځی چې بی خوبی، او حواسی محرومیت دی. پر توقیفیانو باندی د دی تحمل ګران وو. یو توقیفی چې د څو ورځو لپاره مجبور کړای شوی وو چې ودریږی وویل "کله چې

---

[105] توقیفی نمبر ۸۲،۸۴،۸۷،۹۰،۹۱ او ۱۰۰ .
[106] ځانګړی توګه د لاندی شمیرو توقیفیانو له خوا ادعا شوی ۸۲،۸۷ او ۹۰.
[107] توقیفی ۸۷.
[108] توقیفی نمبر ۸۴،۸۷،۹۰ او ۱۰۰ دتوقیف خانی انګړ یی تشرح کړ. توقیفی نمبر ۸۲،۸۴،۸۷،۹۰،۹۱ او ۱۰۰ پروسیجر یی تشرح کړ(معلومات یی ورکړل).
[109] توقیفیان نمبر ۸۲ ، او ۱۰۰.
[110] استثنی د ۸۷ نمبر توقیفی چی نوموړی ویلی چی کله اوبه غوښتلی ورته ورکول کیدی .

دوی کوټی ته بوتلم، ما د دوه یا دری ورځو لپاره حرکت نشو کولای. ما په شا کی درد درلود، او ما احساس نه کاوه چی ما ګڼی پښی درلودی".[111]

**ځوړندول**

دریو څخه دوه برخی توقیفیانو په خوست کی چاچی د بدنی (فزیکی) بدرفتاری خبر ورکړی ویلی چی دوی ځوړند کړای شوی وو. [112] دوه لږ متفاوت د ځوړندولو میتودونه بیان شوی. دری تنو توقیفیانو ویلی چی دوه جوړی ولچکونه یوځای شوی ول ترڅو دوی د کړکی فلزی پنجری څخه وځړوی.[113] ملی امنیت مسؤلینو د دوی لاسونه د یو ولچک سره تړلی وو او بل ولچک یو طرف یی دلاسو ولچک کی اچولو او بل سر یی (طرف) د کړکی فلزی پنجری کی اچولو.[114] دری تنه توقیفیانو دا میتود په لږ تفاوت سره داسی بیان کړی: د دوی لاسونه د یو جوړه ولچک پواسطه تړل شوی وو او بیا هغه ځنځیر چی مخکی لا د کړکی فلزی پنجره کی بند و، د بل ولچک په ذریعه د هغه ولچک ځنځیر کی اچول کیده چی د توقیفی لاسونه پری تړلی وو.[115]

له دی صرف نظر چی ځوړندول څنګه کیدل، ځوړندولو په اثر د توقیفی بازوګان د هغه د سر له سطحی پورته کش پاتی کیدل او شابه یی دیوال ته وه او اکثر حالاتو کی د توقیفی د پښو ګوتی به سختی سره پرځمکه لږیدلی.[116]

داسی استنباط کیږی چی ممکن د دی ځوړند ولو موخه دتوقیفی (ماتول) راضی کول وی ترڅو رسمی اقرار ورڅخه واخستل شی. هیڅ توقیفی هم ونه ویل چی د ځوړندیدو دوران کی دوی څخه تحقیق شوی. دوه توقیفیانو ویلی چی تحقیق کوونکو دوی یواځی پریښی وو ترڅو چی راښکته کړای شول. د ملی امنیت کارمندانو دوی څخه غوښتل چی اقرار وکړی یا هم ګوته ولګوی.[117] دری توقیفیانو ویلی چی دوی ځوړند حالت کی یواځی پریښودل شوی وو، ولی وخت نا وخت تحقیق کوونکی راتله او دوی څخه پوښتل چی آیا اقرار ته تیار دی یا همداشان یی پریږدی.[118]

**دپلاستیکی پایپ او برقی کیبل سره وهل**

بشپړه توګه ټولو توقیفیاو د خوست ملی امنیت کی ویلی چی دوی پلاستیکی پایپ، برقی کیبل یا هم دواړو سره وهل شوی.[119] د توقیفیانو بیانات داسی څرګندوی چی د وهلو موخه د معلوماتو او اقرار ترلاسه کول وو.[120] څرنګه چی یو توقیفی داسی بیان کړه:

> *دوی ماته وویل چی دوی ته رښتینی کیسه وکړم. ماورته وویل چی مخکی می وویل. دوی وویل "نه مونږ ته رښتیا کیسه وکړه، د خپلو تروریستی کړنو." کله چی ما ورته وویل چی زه څه ویلو ته نلرم، دوی په کیبل باندی زما په وهلو پیل وکړ*
>
> **توقیفی نمبر ۹۰، ۲۰۱۱ می**

---

[111] توقیفی نمبر ۹۰.
[112] توقیفیان نمبر ۸۲،۸۴،۸۷،۹۰،۹۱ او ۱۰۱ .
[113]توقیفیان نمبر ۸۴،۸۷،او ۱۰۱.
[114] دملی امنیت توقیف خانی کوټوکی او دفتر داخل نورو کوټوکی داسی کړکی چی حداقل پنځه سانتی متره فلزی اوسپنیزی پنجری یی درلودی د یوناما لخوا لیدل شوی.
[115] توقیفی نمبر ۸۲،۹۰،او ۹۱. دغه توقیفیان ډیر دقیق نه وو داځکه چی یو جوړه ولچک مخلی څخه فلزی پنجره کی تړل شوی وو ، داځکه دغو د ځنځیر فکر کړی اوسی ، دیوناما دلیدنی پربنست چی دتوقیف خانی څخه درلوده داسی نتیجه کیدی شی چی دی توقیف خانه کی دځوړند کولو له پاره دوه جلا ځایونه وو ، او هر ځای کی مختلف میتود ځوړند کیدل .
[116]توقیفی نمبر ۸۲ وویل هغه نشو کولای چی پښی یی ځمکی سره پوره توګه ولګیږی: توقیفی ۸۷ او ۹۱ په واضح توګه ونه ویل چی آیا هغوی پوره ډول پښی زمکی سره لګیدی یا نه .
[117]توقیفی نمبر ۹۰،او ۹۱ .
[118]توقیفی نمبر ۸۲،۸۴،او ۸۷ . داموضوع دمرکی په دوران کی د۱۰۱ نمبر توقیفی سره بحث شوی نه وه.
[119]توقیفی نمبر ۸۱،۸۴،۹۰،۹۱،۱۰۰،۱۰۱ ،او ۲۵۷ .
[120]توقیفی نمبر ۸۴،۹۰،۹۱،۱۰۰،۱۰۱ ،او۲۵۷ .

توقیفیانو په کیبل او پایپ دواړو وهل زغمل. دوی پلاستیکی پایپ داسی تشریح کړ چی تقریبا یومتر اوږد وو او ۲،۵-۲ سانتی متره قطر یی درلود.[121] اکثرو ویلی چی زیړ رنګ یی درلود ولی ځینو بیا ویلی چی سور او شین پایپونه وو او همدارنګه یو یا زیات (برقی ) سیمونه برابر قطر سره یوځای پیچل شوی وو.[122][123]

توقیفیانوخبرورکړی چی د بدن په مختلفو برخو وهل شوی، ولی تقریبا ټولو ویلی چی دوی پرشا او د پښو په تلو وهل شوی.[124] ځینو توقیفیانو ویلی چی دوی مخ په زمکه پراته وو.[125] کله چی دوی په پښو وهل کیدل، نور و بیا ویلی چی دوی ناست وو او ملی امنیت کارمند د دوی پښی پورته نیولی وی او یا هم دوی په زمکه پراته وو او خپلی پښی یی چوکی باندی ایښی وی.[126] پرته د میتودونو په نظرکی نیولو، توقیفیانو ویلی چی په ټوله موده کی دوی لاسونه ولچک، او پښی یی زولانه وی.[127] د دوی پر سر باندی کڅوړه نه وه اچول شوی.[128]

توقیفیانو تاکید کړی چی د بدرفتاری دی میتود ډیر زیات درد درلود. یو توقیفی وویل، مانه شوکولای چی بوټان په پښوکړم، څکه زما پښي پړسيدلی وی.[129] یوبل تن توقیفی وویل د پنځو ورځو لپاره، حتی زه لمانځه کی هم نه شوم دریدلی.[130]

**د خوست ملی امنیت کی د ماشومانو شکنجه**

دهغه توقیفیانو په منځ کی، چی د شکنجی په اړه معتبر او یوشان ځوابونه ورکړی ماشومان هم وو چی د خوست ولایت ملی امنیت کارمندانو له خوا د تحقیق دوران کی شکنجی په اړه مفصل او وضاحت سره معلومات ورکړی. یوناما د ۸ تنو سره مرکی کړی چی د ۱۸ کلونو څخه کم عمر کی وو (یو تن ۱۵ کلن وو، دری تنه ۱۶ کلن، دوه تنه یی ۱۷ کلن وو) او څلورو تنو ویلی چی دوی مجبور کړای شوی وو چی غلط اقرار وکړی.[131]

دری ماشومانو خبر ورکړی چی دوی په کیبل تر هغی وهل شوی ترڅو چی تحقیق کوونکوته یی هغه معلومات ورکړی کوم چی غوښتل یی.[132] دوه تنو نورو ویلی چی دوی ته برقی شاک ورکول شوی ترهغی چی اقرار یی وکړ.[133] بل ماشوم ویلی چی هغه په سر باندی تر هغی وهل کیده ترڅو چی بیهوشه شوو.[134]سره له دی نوموړی ماشوم وویل چی د ملی امنیت دوه تنو کارمندانو دلرګو په لښته دهغه تناسلی آله خوږه کړه اوپه جنسی تیری یی تهدید کړ.

یوناما وموندہ چی دوه تنه ماشومان د اوږده وخت له پاره په دریدو مجبورکړای شوی وو.[135] دواړو ماشومانو ویلی چی دوی (ولچک او زولانه) بهر کی د ورځی پرمهال لمر ته اوږد وخت له پاره درول شوی وو. دوی

---

[121]توقیفیان نمبر ۸۰،۸۴،۹۰،۹۱،۱۰۰ او ۱۰۱ .

[122]توقیفیانو نمبر ۸۰،۸۲،۸۴،۱۰۰ ، او ۱۰۱ ویلی چی دوی زیړ پایپ سره وهل شوی ، توقیفی نمبر ۹۰ ویلی چی دسور رنګی پایپ سره وهل شوی ، توقیفی نمبر ۹۱ ویلی چی شین رنګی پایپ سره وهل شوی .توقیفی نمبر ۱۰۰ ویلی "دلته دری نورهم داوبو پایپونه وو،ولی هغه زیړ کارولو ." یوناما دیوی لیدنی په دوران کی دخوست ملی امنیت څخه دوه داشاندی زیړ رنګی پایپونه د ملی امنیت دفتر کی ولیدل.

[123]توقیفی نمبر ۸۰،۹۰،۹۱ ،او ۱۰۰ خبر ورکړی چی ټول دوی برقی کیبل سره وهل شوی : ولی توقیفی نمبر ۹۱ زیات جزیاتو سره توضیحات ورکړل.

[124] توقیفی نمبر ۸۴،۹۰،۹۱،۱۰۰،او ۱۰۱ خبر ورکړی چی دپښو په تلو وهل شوی،او توقیفی نمیر ۸۰ او ۲۵۷ ویلی چی دی په پښو وهل شوی ولی مشخص کړی نده چی په کومه برخه.

[125] توقیفیانو نمبر ۹۰،۹،او ۱۰۱.

[126]توقیفی نمبر ۸۰،او توقیفی نمبر۸۴ او ۱۰۰ .

[127] توقیفی نمبر ۸۰،۸۴ او ۹۰ ویلی چی دوی پدی شکل وو، ولی توقیفی نمبر ۹۱ ، ۱۰۰،۱۰۱ ،او۲۵۷دمرکی دوران کی پدی هلکه څه ندی ویلی .

[128]پدی هلکه توقیفیانو نمبر ۸۱،۸۴،۹۰و۹۱،۱۰۰ او ۱۰۱ ویلی یا په دقیق ډول دهغوی ویناوو څخه استنباط شوی.

[129] توقیفی ۸۴.

[130]توقیفی نمبر ۸۰.

[131]توقیفی نمبر ۸۲،۸۳،۸۴،۳۵۰،۳۵۵،او ۳۵۶ مرکه شوی ، او توقیفیان نمبر ۸۲،۸۴،۳۵۰،او۳۵۵ دجبری اقرار خبر ورکړی.

[132] توقیفی تنمبر ۸۲،۸۴،او ۳۵۰.

[133]توقیفی نمبر ۸۲،او ۸۴.

[134] توقیفی نمبر۳۵۵.

[135] توقیفی نمبر۸۲ ،او۸۴.

همدارنګه ویلی چی د دوی لاسونه یو ولچک باندی تړل شوی وو او بل ولچک یوسر د دوی د لاسونو ولچک کی وو او بل سر یی داوسپنیزی پنجری یوه میله کی اچول شوی وو. دغه ډول ځوابونه په ځانګړی توګه خوست ولایت ملی امنیت کارمندانو له خوا د تحقیق دوران کی د اقرار ترلاسه کیدو په موخه ترسره شوی.

## ر. د لغمان ملی امنیت کی شکنجه

یوناما د لغمان ولایت ملی امنیت توقیف خانه کی ۲۱ تنه توقیفیانو سره مرکه کړی.[136] یوناما ومونده چی د ملی امنیت په دی توقیف خانه کی توقیفیان حداقل د۱۰ ورځو له پاره ساتل شوی وو.[137] د ۲۱ تنو توقیفیانو له جملی څخه چی مرکه ورسره شوی ۱۴ تنو ویلی چی تحقیق کوونکو دوی سره بد چلند کړی، په شمول د یو ماشوم چی ۱۴ کاله عمر یی درلود.[138] څوارلس تنو ویلی چی لومړئ مرحله کی د ملی امنیت کارمندانو له خوا نیول شوی دی، په داسی حال کی چی څلور تنو نورو بیا ویلی چی د ملی پولیسو له خوا نیول شوی.[139]

ځینو توقیفیانو وویل چی دوی کله چی یوناما له توقیفخانی څخه د مانیتورینګ لیدنه کوله، پټ کړای شوی وو. د دی ډول ادعاوو او د توقیفیانو هغه غیر عادی ویری چی د خپل ځان سره د چلند په هکله یی د یوناما مرکه کوونکو ته ښکاره کړه، د لغمان ملی امنیت کی یی د شکنجی د ځینو اړخونو مستند کول ستونزمن کړی وو.

د داسی ستونزو سره سره، یوناما زیات دقیق او معتبره شواهد وموندل چی د اقرار ترلاسه کیدو په موخه د لغمان ولایت ملی امنیت کارمندانو په سیستماتیکه توګه توقیفیان شکنجه کړی. د یو توقیفی وینا پر بنسټ، تحقیق کوونکو د لرګیو په لښته او پلاستیکی پایپونو باندی توقیفیان د پښو په تلو، شا، او سر باندی وهل.[140] همدارنګه دوی ویلی چی تحقیق کوونکو دوی په څپیړه، سوکانو، لتو(لغتو) وهلی او همدارنګه د دوی بیضی (هګۍ) یی کش کړیدی.[141]

یوتوقیفی د بیلګی په توګه د شکنجی په هکله معلومات ورکړل چی د لغمان ملی امنیت کی اکثره توقیفیان ورسره مخ شوی:

> *زما څخه دری ځله تحقیق وشو – په دوهمه شپه او د دریمی ورځی او څلورمی ورځی په سهار کی. په دوهمه او دریمه ورځ، د تحقیق دوران کی زه د لرګیو په لښتو ووهل شوم...، دوی زما څخه وپوښتل چی ولی ما (هغ جرمی عمل ترسره کړ چی نوموړی ورباندی متهم و)، او همدارنګه یی زه نورو پیښو په اړوند هم متهم کولم ... دوی به زما څخه یوځو پوښتنی کولی، او کله به چی زما ځواب د دوی نه خوښیده، دوی به وهلم. دوی به په لښته او سوکانو وهلم. (توقیفی په خپل لاس او ګوتو سره ښکاره کړ چی لښته حد اقل یومتر اوږده او یوسانتی متر پلنه وه). زه یوائی د پښو په تلو وهل شوی یم. زما شا ځمکی خواته وه او پښی می زولانه او دچوکی دپاسه وی. د تحقیق دروان کی یی دوه یا دری ځله ووهلم، چی هر ځل کی څوځلی ووهلی شوم.... په دوهمه، دریمه او څلورمه ورځ ما په اسنادو ګوته ولګوله.*
>
> **توقیفی نمبر ۱۳۳، مارچ ۲۰۱۱**

---

[136] توقیفی نمبر ۱۰۹،۱۱۴و۱۴۸،۱۴۷،۱۴۶،۱۴۵،۱۴۳،۱۴۲،۱۳۵،۱۳۴،۱۳۳،۱۲۸،۱۲۷،۱۲۶،۱۲۵،۱۲۴،۱۲۳،۱۱۵،۱۴۹،او. ۱۵۰.

[137] دلغمان ولایت ملی امنیت کی ۱۳ توقیفیانو په هکله دیوناما له خوا دغه معلومات د راجستر کتاب ، څارنوالانو،او قضاتو څخه درسمی نیونی او انتقال پربنسټ جمع شوی .

[138] توقفی نمبر ۱۴۷،۱۴۶،۱۴۳،۱۳۵،۱۳۴،۱۳۳،۱۲۸،۱۲۷،۱۲۶،۱۲۵،۱۲۳،۱۱۵،۱۱۴،او ۱۴۹. توقیفی نمبر۱۴۶ توضیحات ورنکړل ،او توقیفی نمبر ۱۳۴ خپله وینا بنده کړه کله چی نوموړی احساس وکړ چی کوم محافظ دده وینا ته غوږ نیولی .

[139] توقیفی نمبر ۱۵۰، ۱۴۸،۱۴۶،۱۴۵،۱۴۳،۱۴۲،۱۲۸،۱۲۷،۱۲۶،۱۲۵،۱۲۴،۱۱۵،۱۱۴،۱۰۹،او ۱۵۱ دملی امنیت له خوانیول شوی وو ، او توقیفی نمبر۱۳۳،۱۲۶،۱۲۳،او۱۴۷ دملی پولیسو له خوا نیول شوی وو.

[140] توقیفی نمبر ۱۴۷،۱۴۳،۱۳۵،۱۳۴،۱۳۳،۱۲۸،۱۲۷،۱۲۵،۱۱۵،۱۱۴ او ۱۴۹ ویلی چی تحقیق کوونکو دلرګیو لښتی او پلاستیکی پایپونه کارولی . هغو څخه چی وپوښتل شول چی تشریح کړی هغه شیان چی دوی پری وهل شوی ، وویل دا تقریبا یومتر اوږ او یویا دری سانتی متره قطرلرونکی وو. توقیفی نمبر ۱۱۴ ، ۱۴۷،۱۴۳،۱۳۵،۱۳۴،۱۳۳،۱۲۵،۱۱۵ او ۱۴۹ وویل چی دبدن په کومه برخه وهل شوی . هغه توقیفیاو چی ډیر دقیق معلومات ورکړل چی دوی دپښو په تلو څرنګه وهل شوی وو.

[141] توقیفی نمبر ۱۲۶،۱۲۳،۱۱۴ او ۱۳۵ : توقیفی ۱۱۵ ، ۱۳۳ او ۱۳۵ :توقیفی نمبر۱۱۴.

داتولی بدرفتاری د تحقیق په دروان کی ترسره شوی، او اصلی موخه یی د رسمی اقرار ترلاسه کول وو.[142] یو توقیفی وویل، که چیری دوی فکر کړی وای چی ما ورته غلطه وینا کړی، دوی به ماته وهل راکړی وای. د وهلو په دوران کی تحقیق کوونکی په خپله ویل "قبول کړه چی تا دا هرڅه ترسره کړی".[143] بل تن د خپل تحقیق په هلکه داسی وایی، زه به دی ترهغی ووهم تر څو چی اقرار وکړی. فقط اقرار وکړه، او مونږ به وهل ودروو.[144]

## ز. د ملی امنیت نورو توقیف خانوکی چال چلند

برعلاوه د ملی امنیت پورتنیو توقیف خانو کی چیرته چی یوناما د سیستماتیکی شکنجی اثباتیه شواهد موندلی، یوناما د ملی امنیت ۱۷ توقیف خانه کی توقیفیانو سره مرکی کړی. له دی جملی د کاپیسا او تخار ولایتونو ملی امنیت دوه توقیف خانوکی یوناما د شکنجی په اړه زیات شمیر معتبره ادعا ګانی ترلاسه کړی. د دی راپور د لیکو ترمهاله، یوناما یادو دوه توقیف خانو کی د سیستماتیکی شکنجی په هلکه کومه پایله نده تر لاسه کړی.

### کاپیسا

یوناما دعدلیه وزارت محبس کی ۱۶ تنه توقیفیانو سره مرکه کړی چی د کاپیسا ولایت د ملی امنیت لخوا نیول شوی وو.[145] یوناما معتبره شواهد موندلی چی د ۱۶ تنو توقیفیانو څخه څلور تنه کله چی د ملی امنیت توقیف خانه کی وو شکنجه شوی.[146] توقیفیانو دشکنجی سخت ډولونه بیان کړی، په لښتو پر پښو وهلو په شمول.[147] یو توقیفی ویل چی نوموړی ته برقی شاک هم ورکړل شوی.[148] (یوناما یاداشت کړی چی ۱۲ تنه د ۱۶ تنو توقیفیانو څخه د مرکی دوران کی ویلی چی دوی د ملی امنیت توقیف خانه کی شکنجه شوی نه دی او بد رفتاری ورسره نه ده شوی ).[149]

### تخار

یوناما د تخار ولایت ملی امنیت توقیف خانه کی نهه تنه توقیفیانو سره مرکه کړی، او موندلی یی ده چی د نهه تنو څخه پنځو تنو سره شکنجه او بدرفتاری شوی چی د دوه تنو ۱۷ کلن ماشومان په کی شامل دی.[150] داسی ښکاری چی په عمومی توګه تحقیق کونکو توقیفیان په پښو وهلی. یو ۱۷ کلن ماشوم ویلی چی هغه مجبور کړای شوی وو چی پر زمکه پریوزی او پښی پورته ونیسی اوبیا د ملی امنیت کارمند له خوا د پښو په تلو وهل شوی.[151] پداسی حال کی چی دی راپور کی د عامو روښونو خبر ورکړل شوی چی د ملی امنیت نورو توقیف خانو کی موندل شوی، یوناما ونه شوکړای چی یوی پایلی ته ورسیږی چی آیا په سیستماتیکه توګه شکنجه ترسره شوی که څنګه.

### پکتیا او ارزګان

یوناما د ملی امنیت یادو دوه توقیف خانوکی یوشمیر توقیفیانو سره مرکه کړی او د لیدنی په دوران کی یی وموندله چی شکنجه نه ده ترسره شوی. دغه ارزونه د یادو توقیف خانو څخه د یوخاص وخت او زمان په دروان کی ترسره شوو مرکو پر اساس شوی چی ډیرو لږو حالاتو کی شکنجی یا د بدرفتاری نورو شکلونو ته رجوع کیږی:

---

[142] دغه دتوقیفیانو نمبر ۱۳۴،۱۳۵،۱۳۳،۱۲۷،۱۲۳،۱۱۵،۱۱۴،او ۱۴۹ له خوا یل شوی . دنورو توقیفیانو له خوان هیڅ کوم متناقض معلومات ندی ورکړل شوی .

[143]توقیفی نمبر ۱۳۳ .

[144] توقیفی ۱۱۵ .

[145] توقیفی نمبر ۲۷۲،۲۷۱،۲۷۰،۲۶۹،۲۶۸،۲۶۷،۲۶۵،۲۴۲،۲۴۱،۲۴۰،۲۳۹،۲۳۷،۲۳۶،او ۲۷۴ . دمداومه غوښتنو سره بیاهم دملی امنیت اجازه ورنکړه چی یوناما دکاپیسا ملی امنیت توقیف خانی توقیفیانو سره لیدنه وکړی.

[146] توقیفی نمبر ۲۷۰،۲۴۲،۲۳۸، او ۲۷۱.

[147] توقیفی ۲۳۷ او ۲۷۱.

[148] توقیفی ۱۷۱.

[149] توقیفی نمبر ۲۷۲،۲۶۹،۲۶۸،۲۶۷،۲۶۶،۲۶۵،۲۴۱،۲۴۰،۲۳۹،۲۳۷،۲۳۶،او ۲۷۴.

[150] توقیفی نمبر ۴۴،۴۳،۴۲،۴۱،۳۹،۳۸،۳۷،۳۶،او ۴۵ مرکه شوی او توقیفی نمبر ۴۴،۴۳،۴۲،۳۷،او ۴۵ شکنجه یاهم بدرفتاری شوی.

[151] توقیفی ۴۳.

- یوناما دپکتیا ولایت ملی امنیت توقیف خانه کی د ۱۶تنو توقیفیانو سره مرکی ترسره کړی.[152] یوتوقیفی خبر ورکړ چی شکنجه شوی. دا توقیفی په هغه توقیف خانه کی د۲۰۱۰ کال اګست څخه ۲۰۱۱ اکتوبر تر منځه څوځلی په توقیف کی ساتل شوی وو.
- یوناما د ارزګان ولایت ملی امنیت توقیف خانه کی ۲۳ تنه توقیفیانو سره مرکه کړی.[153] د۲۰۱۰ می څخه تر ۲۰۱۰ اکتوبر پوری په هغه توقیف خانه کی ساتل شوو توقیفیانو هیڅ یوهم په یاده موده کی د شکنجی یا بد رفتاری په هلکه راپور ورنکړ.

یادو توقیف خانوکی د شکنجی یا بد رفتاری یوی یا څو پیښو موندل په دی توقیف خانو کی د شکنجی کولو امکان نه ردوی. کیدای شی دا موندنی د هغی مودی پوری یا هغه توقیفیانو پوری مربوط اوسیږی چی د منازعی اړوند توقیفیانو سره په کی مرکی شوی دی.

**د ملی امنیت نوری توقیف خانی**

یوناما ۱۵ موقعیتونو کی چی د ملی امنیت ۱۷ توقیف خانی په کی شاملی وی د شکنجی اړوند یوشمیر ادعا ګانی ترلاسه کړی. چی دغه ولایتونه عبارت دی له بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، دایکندی، فراه، هلمند، کنړ، کندز، ننګرهار، سمنګان، سرپل، وردګ، زابل، او دکابل (ریاست ۱۷/۴۰،ریاست۱۸/۳۴،او ریاست ۱) څخه. د دی ولایتونو کی.یادوشوو ۱۷ توقیف خانوکی په مجموعی توګه ۱۲۶ توقیفیانو سره مرکی شوی. لدی جملی څخه ۳۴ تنو (۲۵سلنه) ادعا کړی چی دوی له دی توقیف خانو څخه یوه کی شکنجه شوی. د دی راپور لیکلو تر وخته، د شوو مرکو د شمیر پر اساس او پر دی اساس چی د د دی ادعاوو د ارزونی او رضایت بخشه تصدیق لپاره وړاندی پلټنو ته ضرورت دی، یوناما د دی ادعا ګانو تصدیق نه کوی. د یادو ادعا ګانو په هکله د یوناما بررسی روانه ده.

## ۴- دافغان ملی پواسطه شکنجه او ظالمانه،غیرانسانی یا تحقیر کوونکی چلند

یوناما د ۱۱۷ د منازغی اړوند توقیفیانو سره مرکی کړی چی د ۱۹ ولایتونو د پولیسو ۲۲ نظارتخانو کی ساتل کیدل.[154] یوناما معتبره شواهد ترلاسه کړی چی ۴۱ تنه (۳۵سلنه) د افغان ملی پولیس او افغان سرحدی پولیسو لخوا په ۱۹ ولایتونوکی شکنجه او بدرفتاری سره مخ شوی.[155] یوناما همدارنګه د ملی پولیسو یوشمیر نورو نظارتخانوکی د شکنجی او بدرفتاری اتهامات ترلاسه کړی. د دی راپورلیکلو تر وخته یوناما د یادو ادعاګانو اعتبار دی تصدیق کړی او پلټنی یی روانی دی.

د یوناما تحقیق تردی دمه څرګندوی چی د ملی پولیسو ځینی کارکوونکی په ځینو سیموکی د نیونی او تحقیق پرمهال شکنجه، ظالمانه، او تحقیروونکی چلند کوی. همدارنګه داسی ښکاری چی د ملی پولیسو لپاره په دی اړه ځینی نور محرک عوامل هم شته. د د هغه شمیرڅخه چی د بدرفتاری ادعا یی کړیده ۳۱ سلنه ویلی چی د نیونی پروخت یاهم چک پوست کی وهل شوی،۲۳ سلنه وایی چی ولسوالی مرکز کی، او ۲۵ سلنه یی د ولایت امنیه قوماندانی ښودلی. یواځی ۶۰ سلنه خلکو چی مرکه ورسره شوی ادعا کړی چی بدرفتاری د تحقیق دوران کی ورسره شوی. (باید وویل شی د دی ارقامو مجموعه له ۱۰۰ څخه زیاتیږی چی علت یی دا دی چی ځینو خلکو څو ځایونوکی د شکنجی څخه شکایت کړی).

---

[152] توقیفی نمبر ۳۳۱،۳۳۰،۳۲۹،۳۲۸،۷۷،۷۶،۷۵،۷۱،۷۰،۶۹،۶۸،۶۷،۶۶،۶۵،۶۴،او ۳۵۲.

[153] دغه شمیری څخه ۱۳ تنه توقیفیان د۲۰۱۰ اکتوبر څخه مخکی مرکه شوی کله چی یوناما په ملی سطحه دتوقیف خانو سیستماتیکه نظارت پروګرام په لاره واچاوه ،او داهغه مرکوکی شامل ندی کوم چی ۲۰۱۰ اکتوبراو ۲۰۱۱ جون ترمنځه ترسره شوی . یوناما په ارزګان کی دتوقیف خانوڅخه سیستماتیکه نظارت د ۲۰۱۰ جون کی پیل کړی وو. لس تنه توقیف یان چی په ملی سطحه نظارت پرګرام چی ۲۰۱۰ اکتوبرکی پیل شوی وو عبارت دی له توقیفی نمبر ۳۲۴،۳۰۶،۳۰۳،۳۰۲،۳۰۱،۳۰۰،۲۹۹،۲۹۸،۲۹۶،او ۳۲۶.

[154] بخشان ، بادغیس، بغلان،بلخ،دایکندی،فراه،هرات،کابل،کندهار،کاپیسا،خوست،کنړ،کندز،لغمان،ننګرهار،پکتیا،تخار،ارزګان،او زابل ولایتونه .

[155] توقیفی نمبر ۱، ۲، ۱۶، ۱۸، ۲۱، ۲۳، ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۵۷، ۵۸، ۸۲، ۹۳، ۹۴، ۱۰۶، ۱۳۱، ۱۳۳، ۱۷۰، ۱۷۶، ۱۷۸، ۲۳۰، ۲۶۵، ۲۸۸، ۲۸۹، ۲۹۰، ۲۹۶، ۳۰۳، ۳۰۴، ۳۲۳، ۳۲۵، ۳۴۴، ۳۴۹، ۳۵۵، ۳۵۷، ۳۵۹، ۳۶۱، ۳۶۲، ۳۶۸، ۳۶۹، ۳۷۲ او ۳۷۴.

یوناما دکندهار په څو ولسوالیو کی د ملی پولیسو کارکوونکو له خوا دشکنجې او بدرفتاری اثباتیه شواهد موندلی. لاندی بیلګه یو له هغه مثالونو څخه ده چې هغه توقیفي تجربه کړی چې مرکه ورسره شوی:

*تقریبا ۳۵ ورځې وړاندی، دسهار ۱۱ بجو وخت کی یو ګروپ پولیس زما کورته راغلل او زه یی ونیولم. دوی زما لاسونه ولچک کړل او د ولسوالی پولیس قوماندانی ته یی یوړم. د دوی په دفتر کی یو ګروپ د پولیسو زما څخه وپوښتل چې آیا ما په دی اخرو کی کوم څوک وژلی. (دوی ماته د یوتن نوم واخیست چې ما نه پیژانده او ماهغه ته هیڅ نه دی کړی ). ما وویل ما هیڅوک ندی وژلی او زه تول وخت خپل کورکی وم. دوی ویل "که چیری ته اقرار ونه کړی مونږ به دی ووژنو" . دوی همدارنګه زما څخه وغوښتل چې د که د یادی وژنی مسؤلیت واخلم دوی به ما ونه وهی. ما وویل چې ما هغه شخص ندی وژلی. دوی زما لاسونه شاته ولچک کړل داسی شکل چې چپ لاس دوری دپاسه او ښی لاس بازو شاته ) او وهلو یی پیل وکړ. دوی زه په یو برقی سیم سره وهلم. دوهلو په جریان کی دوی زما څخه غوښتل چې اقرار وکړم چې ما نوموړی.... په... ولسوالی کی وژلی (توقیفي د وهلو روغی شوی څلور نښی په ښی پښی، د ښی پښي پرمخ او په شا باندی وښودی. هره نښه تقریبا ۱۵ سانتی متره اوږده او دوه سانتی متره بر یی درلود، کوم چې د نوموړی وینا پراساس د کیبل د وهلو له کبله پیداشوی وی). ماپه جرم اقرار ونه کړ، یوڅه وخت وروسته مسؤلینو لښتو سره دپښو په تلو ووهلم. چې ډیر درد ناک و. دوی تقریبا ۲۰ دقیقو له پاره په دواړه پښو په تلو ووهلم (توقیفي دپښو په تلو د وهلو جوړ شوی زخمونه وښودل کوم چې څرګنده توګه ښکاره کیدل). دا ډیر سخت وهل وو.دوی زما څخه جامې وباسلی او تهدید یی کړم چې که چیری اقرار ونکړم زما تناسلی آله به راڅخه پری کړی. یوچاقو یی وښوده، ما فکر وکړ چې دوی ممکن داسی وکړی او بیا ما اقرار وکړ چې د یاد جرم مرتکب شوی یم. کله چې ما اقرار وکړ بیا دوی زه ونه وهلم ولی لاسونه یی راته ولچک ساتل تولی ورځې چې هلته وم. دوی زه خپل نظارتخانه کی څلور نوری ورځې وساتلم مخکی له دی چې دکندهار ملی امنیت توقیف خانی ته انتقال شم.*[156]

**توقیفي نمبر ۳۷۴، جولای ۲۰۱۱**

توقیفیانو سره مرکو کی دشکنجې او بدرفتاری یوشمیر نوری بیلګی هم شته چې د ملی پولیسو له خوا ځینو نورو ځایونوکی ورته اشاره شوی.

- دکندهار ولایت ارغنداب ولسوالی د ملی پولیسو نظارتخانه کی دری پولیس افسران یو توقیفي سره تماس نیسی، یو توکر دتوقیفي پر خوله اچوی، سیرمو کی ګوتی ننه باسی، او په خپلو لاسونو هغه په شا باندی وهی. دوی پوښتل چې آیا هغه طالب قوماندان و او د دوی په چک پوست باندی د حملو مسؤل دی که څنګه. دوی دا وهل تکرارول ترهغو چې توقیفي د یاد اتهام رد کولو.[157](فبروری ۲۰۱۱)
- دکندهار ولایت دامان ولسوالی کی، پولیسانو یوتوقیفي د تحقیق په دوران کی شکنجه کړی و. دوی د توقیفي مخ پټ کړی و او لاسونه یی شاته ورته ولچک کړی وو، پولیسانو توقیفي په مسلسله توګه د بیت الخلا په چت کی ځړولی پداسی شکل چې یوه رسی یی ولچک کی اچولی او بل سر د رسی چت کی بند و. وروسته له یوه ساعته هغه مجبورکړای شوی وو چې اقرار وکړی چې نوموړی طالب و. پولیسو نوموړی د کندهار ولایت نظارتخانی ته انتقال کړ چیرته چې هغه دوه ورځې په یوه بیت الخلا کی پداسی حال کی ساتل شوی و چې مخ یی پټ و.[158] (مارچ ۲۰۱۰)
- د تحقیق په سلسله کی، د کندز ولایت امنیه قوماندانی کی ملی پولیسو یو توقیفي په کیبل باندی د پښو په تلو وهلی، او په څپیړو یی وهلی او مکررا یی په فلزی میله په شا باندی وهلی. ملی پولیسو دهغه څخه

[156] دامنیتی دلایلو او توقیف دپیژندګلوی دپټ ساتل کیدو په موخه دولسوالی نوم ندی اخستل شوی (پټ ساتل شوی).
[157] توقیفي نمبر ۲۳۰.
[158] توقیفي نمبر ۲۹۰ .

غوښتلی وو چی یا د یو محلی قوماندان په وژلو اعتراف وکړی یاهم زیات رقم رشوت ورکړی.[159] (اپریل ۲۰۱۱).

- دکندز ولایت دشت ارچی ولسوالی کی ملی پولیسو او محلی پولیسو توقیفی ولچک کړی، ټوپک او راکټ لانچرو سره په مټو، پښو او شاباندی وهلی او تناسلی آله یی ورتاوه کړیده. دوی د د وسلی د شتون په ادعا د هغی د ځای په هلکه پوښتل.[160] (می ۲۰۱۱)
- د ارزګان ترینکوت نظارتخانه کی پولیسانو توقیفی ځوځلی وهلی، جوشی اوبه یی په سرباندی وراچولی او چپ لاس یی ورته په سګرت سوځولی. نوموړی په منفجره موادو انفجار او ځای پرځای کولو تورن و. یوناما د توقیفی په چپ لاس شپږ ځایه دسوځیدو ځایونه لیدلی.[161](نومبر ۲۰۱۰)

**دافغان ملی پولیسو له خوا دماشومانو شکنجه**

یوناما موندلی ده چی څو تنو مرکه شوو توقیفی ماشومانو د افغان ملی پولیسو له خوا شکنجه او بدرفتاری راپور ورکړی. لاندی قضیه د بدرفتاری دراپورونو اندازه بیانوی :

- دخوست ولایت ملی پولیسو قوماندانی کی، د طالبانو دغړیتوب د انکار څخه وروسته، یو د ۱۶ کلونو ماشوم زمکه باندی کیکاږل شوی و او یو پولیس تحقیق کوونکی له خوا په ورون، ملا، او سرباندی په لښته وهل شوی و او بیا د اوبو پلاستیکی پایپ او برقی کیبل باندی وهل شوی و. ماشوم د اعتراف ورقو باندی ګوته ولګوله. ماشوم جبرسره مجبورکړای شوی و چی اسنادو باندی ګوته ولګوی.
- همدارنګه دخوست د ملی پولیسو مرکز کی، دری ورځو موده کی د ملی پولیسو کارمندانو یو ۱۶ کلن ماشوم د تحقیق دوران کی شکنجه کړ.[162] یوه لښته د نوموړی ماشوم د پښو ترمنځ کله شوی وه او دپښو په تلو برقی کیبل او پایپ سره وهل شوی و.هغه ته په ګوتو کی برقی شاک ورکړل شوی و. ماشوم جبر سره مجبورکړای شوی و چی اسنادو باندی ګوته ولګوی او په جرم اقرار وکړی.
- د کندز ولایت ملی پولیسو قوماندانی که یو ۱۶ کلن هلک شکنجه شوی و.[163] یو پولیس افسر نوموړی څخه تحقیق کړی او پوښتل یی چی آیا هغه طالب و او هغه ته یی ویلی چی هغه باید اقرار وکړی په اتهام باندی. هلک انکار وکړ او هغه مکرر ډول په څپیړو او لتو (لغتو) وهل شوی و. پولیس افسر نوموړی هلک جبر سره مجبور کړی وه چی یوه پارچه کاغذ باندی ګوته ولګوی.

## ۵- د نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا د توقیفیانو استول ملی امنیت او ملی پولیسو ته

*زه تقریبا XXX میاشتی د مخه د افغانستان او پاکستان سرحد ترمنځ د سرحدی پولیسو له خوا ونیول شوم. دوی چانیز عملیات پر لاره اچولی وو. ما یو تجارتی موټر کی سفر کاوه. سرحدی پولیسو هر موټر او مسافر پلټلو. دوی زما بدن هم تلاشی کړ او بولیک یی ترلاسه کړ چی یوچا خپل دوست ته کندهارکی استولی وو. ماهغه لیک راوړلو. دوی زه ونیولم او یوه کوټه کی یی ساتلم. کله چی شپه شوه دوه سرحدی پولیس افسران راغلل او زما څخه یی تحقیق وکړ. دوی زما څخه وغوښتل چی لیک او طالبانو فعالیت په هکله ورته ووایم. ماوویل زه نه پوهیږم. دغه افسرانو په سینه باندی و غځولم او په بوټانو یی ووهلم. دوی وپوښتل چی آیا دالیک زما پوری اړه لری. سبا ورځ دوی زه د کندهارملی امنیت مرکزته انتقال کړم.*

[159] توقیفی نمبر۵۷.
[160] توقیفی نمبر ۵۴ .
[161] توقیفی نمبر ۲۳۲ .
[162] توقیفی نمبر۳۵۵.
[163] توقیفی نمبر ۵۸ .

*ما د ملی امنیت توقیف خانی برنده کی څلور ورځی تیری کړی د څلورمی ورخ شپه کی د ماښام ۹ بجو خواو شا کی ملی امنیت مسؤولینو پوتحقیق غوښتنه وکړه. دوی زما لاسونه تیر او بیر (چپ لاس می داوړی دپاسه او ښی لاس مټ څخه شاته ) وتړل. دری تنه کارمنداو وو. دوه تنو ونیولم او دریم تن وهلم. هغه تور رنګی برقی سیم درلود (دیوی ګوتی په اندازه پند) او په لاسونو، شا او سر باندی یی ووهلم. دی وهلو تقریبا دری ساعته دوام وکړ. د وهلو په دروان کی دوی زما څخه غوښتل چی اقرار وکړم چی ما د طالبانو لیک افغانستان او پاکستان ته وړه راوړه. ما د اتورونه رد کول.*

*وروسته له تحقیق او وهلو دوی زه د څلورو ورځو لپاره برنده کی پرېښودم. دوی بیا تحقیق ونه کړ. زما د رسیدو په اتمه شپه دوی زه د تحقیق کوټی ته بوتلم. هلته برنده کی ډیر توقیفیان وو. ملی امنیت کارمندانو به دوی یو یو د تحقیق دوران کی وهل.*

*ما په مجموع کی دوه میاشتی او شل ورځی په ملی امنیت کی تیری کړی. ما هیڅکله هم د ملی امنیت څارنوال ونه لید. یوه میاشت مخکی محکمی ته یوړلای شوم. زه دوه کاله بند باندی محکوم شوم " د طالبانو لیک استولو په تور".*

*په استثنا د هغه دوه تنه توقیفیانو چی کاناډایانو له خوا نیول شوی وو نور هر توقیفی چی ملی امنیت له خوا نیول شوی و مجبور و چی زما په شان حالت تیر کړی. حتی هغه توقیفیان چی امریکایانو له خوا ملی امنیت ته ورکړای شوی وو او ملی امنیت له خوا شکنجه او تحقیق تری کیده. مغو دوه تنو د کاناډایانو توقیفیانو چی د ملی امنیت کارمندانو له خوا تحقیق ورځخه شوی و د ملی امنیت له خوا د بدرفتاری شکایت نه درلود.*

**توقیفی نمبر ۳۷۲، مارچ۲۰۱۱**

د یوناما توقیف خانو څخه لیدنه کی ۸۹ توقیفیانو سره مرکی شاملی دی چی د نړیوالو ځواکونو له خوا یواځی یا هم افغانانو سره په ګډه نیول شوی وو بیا ملی امنیت یا ملی پولیسو نظارتخانی ته استول شوی وو. یوناما داسی اثباتیه شواهد موندلی چی ۱۹ تنه د ۸۹ تنو څخه د ملی امنیت د۱۲۴/۹۰ ریاست توقیف خانه کی او د لغمان ملی امنیت کی شکنجه شوی او دری تنه د ملی پولیسو نظارتخانه کی (دکندز او ترینکوټ ملی پولیس). دغه حالت وایی چی باید یو قوی نظارت د ټولو توقیفیانو څخه وشی چی ملی امنیت یا ملی پولیسو ته ورکول کیږی او د امکان په صورت کی چیرته چی دشکنجی قوی شواهد موجود وی ادا د انتقال پروسه باید وځنډول شی.

د ایساف قانون اجازه ورکوی چی په جنګ یاهم تروریزم سره مبارزه کی نیول شوی اشخاص باید چی ۹۶ ساعتونو کی دننه بیرته آزاد کړای شی او یا هم افغان مسؤلینوته ولیږل شی.[164] ویل کیږی چی کاناډا، انګستان، او دامریکا متحده ایالاتو د احتیاط د اختیارولو اعلان کړی چی اجازه ورکوی چی ۱۴ ورځو په موده کی توقیفیان انتقال کړی. "د ایساف مقررات (د نړیوالو قوانینو سره په مطابقت کی) ادا هم وایی چی په هیڅ حالت کی باید توقیفیان (خلک) داسی ځای ته وانه ستول شی چی د شکنجی او بدفتاری خطریی موجود وی ".[165] د 2007 کال په سپتمبر کی د افغانستان حکومت او آیساف هیوادونو تر منځ دوه اړخیزو او څو اړخیزو موافقو په اړه د لیکونو

---

[164] وزارت دفاع ګردی میز د رابرټ هارورد ،دګدو قواوو قوماندان ۴۳۵، /www.dodlive.mail (۲۷ جنوری ۲۰۱۰).
لاس رسی.Harward.transcript.pdf < http://www.defence.gov/Blog_files/Blog_assets/20100127pdf

[165] وګوی:
" US Monitoring of detainee transfers in Afghanistan : International Standards and Lessons from the UK and Canada" Human Rights Institute , Columbia Law Schoo,December2010, page6>
په دغه ویب پاڼه کی هم کتلی شی: www.law.columbia.edu/ipimages/.../afghanBriefingPage%20final.pdf

په تبادله کی آیساف ته اجازه ورکړل شوی چی د ملی امنیت هغو توقیف خانو څخه لیدنه وکړی چی انتقال شوی توقیفیان ساتل کیږی تر څو د هغوی سره د چلند کتنه وکړی.[166]

دامریکا او نورو د ایساف قواو، دانګستان او کانادا په شمول، ویل شوی چی ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کی تقریبا ۲۰۰۰ وګړی د افغانستان نظارتخانو ته استولی.[167] په کاناډا او انګلستان کی قضایی فیصلو په مختلفو وختونو کی د وسله والو ځواکونو له خوا د ملی امنیت توقیف خانو ته د توقیفیانو انتقال وخت په وخت ځنډولی دی.[168] د دواړو هیوادونو په قضی کی، د محکمی فیصلی د هغو معلوماتو پر اعتبار وی چی په ځانګړو ځایونو کی د ملی امنیت له خوا توقیفیانو سره بد رفتاری او شکنجی صورت موندلی. (کابل او کندهار). انګستان د کندهار او کابل ملی امنیت ته د توقیفیانو استول ځنډولی. کانادا د کابل د ملی امنیت ټولو توقیف خانوته د توقیفیانو استول درولی غیر له کندهار د عدلیه وزارت د سرپوزی محبس څخه. کانادا او انګستان دولتونو د نظارت یو پروګرام په ټولو هغه توقیف ځایونو کی په لاره اچولی چی دوی افغان چارواکوته توقیفیان سپارلی.

د امریکا متحده ایالاتو لاتر اوسه هغه ځایونوکی چیرته چی دوی توقیفیان افغان چارواکوته سپارلی د نظارت پروګرام په لاره ندی اچولی. یو امریکایی دولتی کارمند یوناماته څرګنده کړه چی د امریکا سفارت یوپلان نهایی کړی چی د توقیفیانو سپارلو وروسته نظارت صورت ونیسی چی افغان دولت ته وړاندی شوی ترڅو رسیدګی ورته وشی. سفارت ویلی چی دا وړاندی شوی پروګرام د امریکی لپاره یوه مثبته لاره ده چی د افغانستان د دولت سره کار وکړی تر څو ډاډمنه کړی چی د توقیف سیستم یی مصئون، ډاډمن او انسانی دی.[169]

د۲۰۱۱ کال جولای په لومړیو کی، د هغه راپور پربنسټ چی یادو ولایتونو کی د ملی امنیت او ملی پولیسو نظارتخانوکی د شکنجی په هلکه ورکړل شوی وو امریکایی ځواکونو د دایکندی، کندهار، ارزګان، او زابل ولایتونو ملی امنیت او ملی پولیسوته د توقیفیانو سپارل ودرول.[170] ایساف یوناما ته څرګندونه وکړه چی دولت څخه وغواړی دغه موضوع بررسی کړی او څرکنده یی کړه چی دوی به د توقیفیانو انتقال پروسه دوهم ځلی پیل نکړی ترهغی چی حالات دقناعت وړشوی نه وی.

۲۰۱۱ سپتمبر په لومړیوکی، د دی راپور د موندنو په ځواب کی، ایساف اعلان وکړ چی دوی د توقیفیانو انتقال د یوټاکلی وخت له پاره د احتیاطی عمل په توګه درولی.[171]

ملی امنیت او ملی پولیسو ته د توقیفیانو د انتقال د ځنډولو د امریکایی ځواکونو او ایساف د پالیسی وروستیې پریکړی د امریکا پر نظامی مرستو وضع شوی قانونی محدودیتونه هم منعکسوی چی په Leahy Law کی بیان شوی. د امریکی د بهرنیو تخصیصونو قانون او د دفاع وزارت د تخصیصونو قانون امریکا له دی څخه منع کوی چی هغو بهرنیو هیوادونو امنیتی ځواکونو ته چی هغی کی د شکنجی په هلکه د امریکی د بهرنیو چارو وزارت معتبر شواهد موجود وی، مالی، تسلیحاتی او ښوونیزی مرستی ورکړی ترهغی چی د بهرنیو چارو وزارت

---

[166] دلیک تبادله لاس رسی هغه توقیفیانوته چی افغانستان دولت ته استول کیږی ، سپتمبر ۶ ۲۰۰۷.
[167] وګوری:
Department of Defece Bloggers Roundtable with Robert Harward, Camandar<Joint Task Force435,www.dolive.mil/ (27 Junuary2010).
[168] Amnesty International and BDDLA v. Chief of the Defence Staff,2008F.C.162 (Can)85-87 and Queen in re:MayaEvanv.secretary of state for Defence, (2010) EWHC1445(q.b)(u.k)43.
[د کاناډا استیناف محکمی وموندل چی هغه ادعا ګانی چی د کاناډایانو له خوا ملی امنیت ته سپارل شوو توقیفیانو په برخه کی موجودی وی ډیری معتبری وی. د بریتانیا ستری محکمی دا رد کړه چی توقیفیانو دی د هلمند او کندهار توقیف ځایونو ته نه استول کیږی بلکه توصیه یی وکړه چی باید نظارت یی وشی، خو کابل کی (چی د توقیفیانو انتقال لا د مخه درول شوی و) یی د توقیفیانو انتقال منع کړ ځکه چی هلته د شکنجی احتمال قوی و او د بشری حقونو د کنوانسیون له مخی داسی انتقال منع دی.]
[169] یوناما دامریکا ددولت چارواکی سره مرکه ۲۹ اګست ۲۰۱۱، کابل
[170] یوناما د۲۰۱۱کال اګست دایساف قوماندانانوسره او کندهار ولایت ملی امینت مرستیال سمونوال عبدالوهاب سره ولیدل . دتوقیفیانو انتقال ځنډول دFRAGOسره په موافقه د۲۰۱۱کال جولای ۱۲ نیټه وه.
[171] دیوناما لیدنه دایساف مسؤولینوسره، ۲۰۱۱سپتمبر کابل،او ۲۰۱۱ کال سپتمبر۷ دایساف دویاند جنرال کارستن جیکوبسن ،"مونږ خبر یو چی دملګرو ملتونو راپورخپریدونکی دی او مونږ هغه ته ګورو . مونږ دټولو توقیفیانو استول ندی ځنډولی ولی ځانګړی ځایونوته." همدارنګه ۲۴شمیره فوت نوټ وګوری.

پریکړه وکړې چې نوموړی دولت موثر اصلاحی تدابیر عملی کړی.[172] دافغانستان قضیه کی، هغه وخت امریکا کولای شی چې د توقیفیانو انتقال بیا ځلی پیل کړی چې د افغانستان دولت مناسب تدابیر اختیار کړی او د ملی امنیت او ملی پولیسو مسؤولین چې د شکنجې او بدرفتاری مسؤول دی محاکمې ته راکاږی.

## ۶- د ملی امنیت او ملی پولیسو د توقیفیانو د شکنجې او سؤاستفادی حساب ورکونه

یوناما دا موندلی چې شکنجې او بدچلند په هکله د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس د مسؤولینو حساب ورکونه ډیره ضعیفه او غیرشفافه ده او په ډیره کمه کچه تطبیقیږی. پر افغان ملی پولیسو او ملی امنیت د ادارو په حیث، او د دوی پر جرایمو او تخلفاتو، د ناوړه چلند او شکنجې په شمول، ډیر محدود خپلواک قضایی یا بهرنی نظارت موجود دی.

د جنایی یا بدرفتاری غیرمسلکی چلند اکثره قضیو ته د ملی امنیت ریاست د مسؤولینو له خوا په داخلی شکل رسیدگی شوی. د ملی امنیت ریاست لوړپوړی چاروکی یوناما ته وویل چې یوازی دوه قضیی د ملی امنیت ریاست له خوا څیړل شوی دی چې یو یې هم پر مظنون باندی وارد شوی اتهام نه دی تعقیب کړی.

### الف- د ملی امنیت د مسؤولینو د حساب ورکونی تدابیر

#### د جرایمو د تعقیب اوانضباطی اقداماتو له پاره قانونی نظارت او میکانیزم

که څه هم اساسی قانون وایی چې د پولیسو اومسلح ځواکونو او ملی امنیت مسؤولینو جزایی دوسیو ته باید د خاص قانون دلاری رسیدگی وشی، د ملی امنیت لپاره د داخلی احتساب چوکاټ قانونی بنسټ معلوم نه دی او نه هم څرګند دی.[173] سره له دی چې د ملی امنیت د دندو زیاته برخه د ملی امنیت قانون تر پوښښ لاندی راځی، نظارت او حساب ورکونه یې په یاد قانون کی نده ځای شوی. دا څرګنده نه ده چې آیا د جمهوری ریاست کوم بل محرم فرمان د ملی امنیت د قانونی چوکاټ لپاره شته او که څنګه؛ په عمل کی د ملی امنیت څخه د نظارت لپاره شته دی.

د شکنجې، بدرفتاری یاهم د قانونی طی مراحل څخه سرغړونی هره ادعا باید چې د ملی امنیت داخلی تحقیق کوونکی ته واستول شی چې دعدلی طب هیئت په مرسته د توقیفی ادعا بررسی کوی. که چیری ادعا د قانونی تعقیب وړ وګڼل شی نو قضیه باید چې دزیاتی بررسی په موخه د ملی امنیت څارنوال ته واستول شی او د احتمال په صورت کی متهم کارمند محاکمه شی.[174] پدی ځای کی واضحه ده چې یوه قضیه څرنګه پرمخ وړل کیږی. د ملی امنیت یولوړ پوړی کارمند په وینا، دشکنجې یا بد رفتاری ثابته ادعا چې محکمې ته استول کیږی لومړی باید " د ملی امنیت ځانګړی محکمې "کی رسیدګی ورته وشی- یوداخلی محکمه چې د ملی امنیت کارمندان پکښی ګډون لری. ورسته د دی ابتدایه محکمې څخه جزا قضایی حکم ته انتقال کوی او دا پریکړه د ملی امنیت دوهمې محکمې ته استول کیږی. قضیه یواځی هغه وخت دستری محکمې امنیت عامه دیوان ته استول کیږی چې استیناف مرحلی ته ورسیږی. ددی پروسیجر پر اساس، جوړه محکمه کی د جزایی اجرااتو موقت قانون تطبیق کیږی، په داسی حال کی چې حکم د عسکری جزاء او جزاء قانون له مخی کیږی.

له دی لومړنی داخلی د احتساب جوړښت څخه بغیر، د ملی امنیت مسؤولینو پواسطه د بدچلند ادعا ګانو د بررسی او تعقیب یو جلا جریان هم شته. د لوی څارنوال دفتر د وینا پر اساس کله چې د شکنجې یا بد رفتار یا سو استفادی ادعا ښکاره شی، د فساد پرضد مبارزی یو څارنوال ته دا ممکنه ده چې مخکی له فساد پرضد محکمې څخه

[172] فوټ نوټ ۲۸ وګوری.
[173]دافغانستا اساسی قانون ۱۳۴ ماده
[174] یوناما لیدنه د سیدنورالله سادات استناف ریس او محب الله محب دقضای تعقیب او نظارت عمومی مدیر ،قضای تعقیب مدیریت سره ، دافغانستان لوی څارنوالی سره ، ۲۰۱۱ کال جولای ۵ کابل.

جزایی بررسی او تعقیب تر لاس لاندی ونیسی. په دی حالت کی، ملی امنیت مسؤولین باید دجزایی اجرااتو موقت قانون، فساد سره د مبارزی قانون او د جزا قانون څخه کار واخلی.

داسی ښکاری چی هغه قضیی چی یاد جزایی احتسابی کړنیپه کی کارول شوی وی، کمی دی. د ملی امنیت په برخه کی داسی حالت چی د ملی امنیت محکمی څخه په کی کار اخیستل شوی وی، داسی نه ښکاری چی د کله هم د شکنجی یا سواستفادی ادعا گانی د پروسیجر دی مرحلی ته رسیدلی وی. د ملی امنیت یو مشرکارمند یوناما ته وویل چی په دی آخرو کلونوکی د شکنجی دوه قضیی یی بررسی کړی، یوکی هم د ملی امنیت متهم کارمند مجازات کړای شوی ندی.[175] دمتکرره وړاندیزونو سره سره، ملی امنیت یوناما ته دشکنجی او سؤاستفادی باندی متهم کارمندانو انظباطی او جزایی اقدام په هکله معلومات ورنکړل.

د فساد ضد رسیده ګیو کی د ملی امنیت د کارمندانو جزایی بررسی او تعقیب هم رامنځته شوی دی. دلوی څارنوالی په شمول منابعو په اخرو دوه کلونو کی نهه قضیی وښودلی چی د ملی امنیت د کارمند د فساد قضیه یی بررسی، عدلی تعقیب کړی او پایله کی محکوم شوی. یوه له دی قضیو کی شکنجه موجوده وه، چی دا پر دی دلالت کوی چی د ملی امنیت داخلی نظارت په نسبت د فساد ضد بهرنی نظارت قوی دی. [176] سره له دی هم له دوی څخه هیڅ یو میکانیزم یو مؤثر منع کوونکی نه دی ثابت شوی ځکه چی بیا هم شکنجی دوام موندلی په داسی حال کی چی یواځی محدودی قضیی د داخلی نظارت او یا بهرنی نظارت د میکانیزمونو له لاری تعقیب شوی دی.

**د ملی امنیت نظارتی کمیسیون**

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په ۲۸ مه د ملی امنیت د بهرنیو اړیکو ریس د یو کمیسیون جوړیدو اعلان وکړ چی د ملی امنیت ټولو توقیف خانو څخه دتوقیف اړوند ټولو موضوعاتو د شکنجی، بدرفتاری، اوعمومی وضیعت په شمول نظارت کوی.[177] دغه کمیسیون کی د ملی امنیت دری جدا ریاستونو استازی (ریاست ۱۸،۲۴،او ۳۳) او حقوقی سلاکار، او د اړوند دفاترو ریسانو استازو ګډون درلود. د ملی امنیت پّ وینا، دغه کمیسیون ته دنده سپارل شوی وه چی په غیر مترقبه توګه (پرته له مخکی خبرتیا څخه) د افغانستان ولایاتوته د ملی امنیت توقیف خانوڅخه لیدنی په موخه سفر وکړی. دغه هیئت باید د ملی امنیت قضایاو دوسیه کتلی وای چی آیا د قانونی طی مراحلو اړوند موضوعات په کی شته یا نه، او توقیفیانو سره مرکی وکړی چی آیا د ملی امنیت کارمندانو څخه د شکنجی او بدرفتاری شکایتونه شته که څنګه.[178] دغه هیئت، وروسته د نظارتی سفرونو د پای ته رسیدو څخه باید د ملی امنیت عمومی ریس ته راپور ورکړی وای.

د۲۰۱۱ کال جنوری او فبروری اوایلوکی یوناما د یاد هیئت نظارت کله چی دوی د هرات، کندهار او جلال اباد توقیف خانو څخه لیدنه کوله تعقیب کړ. یوناما د یادو تحقیقاتو د وسعت او کیفیت په برخه کی ځینی ستونزی ولیدی. د یوناما غوښتنی سره سره، ملی امنیت د دغه نظارتی کمیسیون پایلی او وړاندیزونو په هکله هیڅ معلومات وړاندی نکړل، چی ایا دی استازو د جزایی یا انظباطی اقدام لپاره کوم څه پیدا کړل که څنګه او دا چی د ناوړه چلند او سوء استفادی په هکله تحقیقاتو سفارش یی وکړ که نه. داڅرګنده نده چی یاد کمیسیون اوس هم فعالیت کوی که نه.

## ب- د ملی پولیسو مسؤلینو د حساب ورکونی تدابیر

ملی پولیس دواړه داخلی او بهرنی نظارتی جوړښتونه د بدرفتاری په هکله لری خو زیاته اندازه قضیی چی د ملی پولیسو په وړاندی وی ورته په داخلی توګه د کورنیو چارو وزارت له خوا رسیدګی کیږی. د پولیس بدرفتاری او جرایمو باندی ډیر محدود خپلواک یا بهرنی نظارت شته، که څه هم د ملی پولیسو له خوا ترسره شوی جرایم باید

[175] یوناما لیدنه دملی امنیت حقوقی سلاکارسره ، لوی پاسوال سید ظهور رسولی ، ۲۰۱۱ کال ۱۸ جنوری ، کابل.
[176] دیوناما لیدنه دسیدنورالله سادات سره ، دمرفعی ریس او محب الله محب عمومی مدیر دقضای تعقیب او قضای نظارت ، قضای څارنوال بخش ، دافغانستان لوری څارنوال دفتر ، ۲۰۱۱کال جولای ۵ ، کابل.
[177]دملی امنیت بهرنیو اړیکو ریس احمدضیا سراج ، لیک دسره صلیب نړیوالی کمیټی ته ، ۲۰۱۰ دسمبر۲۸. یوناما او داسترالیا ،کانادا، او انګستان سفارتونو سیاسی څانګو ته نوموړی لیک کاپی شوی وو.
[178]دیوناما لیدنه دملی امنیت حقوقی سلاکارسید ظهور رسولی سره، کابل ۲۰۱۱جنوری ۱۸.

چې دلوی ځارنوالی نظامی څانګی ته واستول شی ترڅو بررسی او نظامی ځارنوال له خوا محاکمی ته وړاندی شی.[179] لږ داسی معلومات شته چې کورنیو چارو وزارت دی د مجرمو پولیسو قضیه قضایی ارګان ته استولی اوسی. اوس مهال په ملی پولیسو باندی بهرنی نظارت پراختیا موندلی د پولیس نظارتی جوړښت د افغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون په چوکاټ کی جوړشوی ترڅو د پولیسو بدرفتاری څخه نظارت وکړی. اینده کی به ولیدل شی چی څرنګه د دی دفتر کارکوونکی ګمارل کیږی او څومره به دوی پولیسو، د دوی دفترونو، د قضایاو دوسیو او نوروتسهیلاتو او ودانیو ته لاس رسی ولری. یوناما په دی نظر ده چی دا جوړښت به ممکن په ملی پولیسو ملکی حساب ورکونی ته پراختیا ورکړی که چیری جوړښت او منابع یی په مناسبه توګه برابر شی.

دکورنیو چارو وزارت داخلی حساب ورکونی جوړښت د ملی امنیت په نسبت زیات او پرمختللی دی، که څه هم دوی لږ ارتباط او همکاری یو له بله سره لری. دکورنیو چارو وزارت رامنځته شوی پالیسی د پولیس افسران پدی مکلف کړی چی د خپل لاس لاندی افسرانو د بدرفتاری او جرایمو خبر ورکړی. همدارنګه عام اتباع هم کولای شی د داسی سرغړونو راپور خاص دفتر له لاری (مرکزی دفتر۱۱۹) خبر ورکړی. یاد دفتر قضیه څیړی او پریکړه کوی چی آیا قضیه د وړاندی بررسی ارزښت لری که نه. که چیری یوه قضیه د بررسی وړ وګڼل شی، نو قضیه دکورنیو چارو وزارت دری ګونو جوړښتونو څخه یو ته چې د پولیسو سرغړونو دبررسی صلاحیت لری استول کیږی: د تفتیش ریاست ، د جندر، بشر حقونو او ماشومانوحقونو مدیریت، یاهم دجنایی تحقیقاتو ریاست ته. د مرکزی دفتر ۱۱۹ د رجعت ورکونی سیستم سربیره، دری واړه واحدونه کولای شی له افرادو څخه مستقیماً راپور، یا شکایات یا قضیی واخلی چی ادعا کوی چی کوم د پولیسو کارمند قانون مات کړی، یا د افرادو د حقوقو په برخه کی یی مسلکی سرغړونه کړی.

دا چی څرنګه دا مختلف مدیریتونه او دفترونه یو د بل سره متقابل عمل کوی او تر کومی کچی د ناوړه چلند قضیو په بررسی کی هماهنګی کوی روښانه نه ده او نه یی فعالیتونه روښانه دی. سربیره پر دی، دا معیار هم معلوم نه دی چی کوم وخت کی باید یوی قضیی ته په داخلی توګه رسیده ګی وشی نسبت دی ته چی بهر کوم نظامی ځارنوال ته واستول شی. په دی توګه په اجراآتو کی د دوګانګی او دا چی د جدی جرایمو قضیی او د بشری حقونو څخه سرغړونی لکه شکنجه، نسبت دی ته چی باید ځارنوال ته واستول شی، په داخلی توګه ورسره معامله وشی، احتمال ډیر زیات دی. په دی برخه کی هم جدی تشویشونه شته چی د جدی سرغړونو قضیی به څنګه بررسی کیږی، ځکه چی داسی ښکاری چی د داخلی تحقیق پروسیجرونو لپاره کومه ځانګړی پالیسی او معیار نشته چی د پولیس د سواستفادی قضیو کی د شاکی، قربانی، یا هم شاهد محرمیت تأمین کړای شی.

## ۷- قانونی طی مراحل څخه سرغړونه او خپل سری توقیف

یوناما وموندله چی ۹۳ سلنه منازعی اړوند توقیفیان اوسط توګه ۲۰ ورځی په توقیف کی تیروی مخکی له دی چی په جرم متهم شی او عدلیه وزارت محبس ته واستول شی، په داسی حال کی چی قانون کی دا موده ۷۲ ساعته ښودل شوی.[180] د یوناما کتنو کی پر دی هم رڼا اچول شوی هغه اداری چی تحقیق کوی د څومره وخت لپاره توقیفی ساتلای شی:

- د ملی امنیت ولایتی توقیف خانو کی توقیفیان په اوسط توګه د ۱۵ ورځو له پاره ساتل شوی وو. ۹۲ سلنه د ټاکلی وخت ۷۲ ساعتو څخه زیات وخت له پاره ساتل شوی وو چی د ابتدایی نظارت وخت دی.
- توقیفیان د ملی امنیت مرکزی توقیف خانه ریاست۹۰/۱۲۴ کی د اوسط وخت ۱۵ ورځو له پاره ساتل شوی وو. له دی توقیفیانو څخه، سل سلنه د ۷۲ ساعتو څخه زیات، ۲۴ سلنه د ۱۵ ورځو له پاره او شپږ

[179] په جرمی قضایاو کی د پولیسو د بهرنی نظارت نوری لاری هم شته چی په هغی کی د لویو جرایمو د کاری ډلی د فساد ضد واحد او د جمهور رئیس د دفتر د نظارت عالی کمیټه شاملیږی. په لوړه کچه فساد کی د پولیسو د دخالت قضیی د دی ادارو د لایحی له مخی د دوی په واسطه بررسی شوی دی. دا معلومه نه ده چی هغه قضیی چی دی دفترونو بررسی کړی د داخله وزارت له خوا ور معرفی شوی او که د دوی د شکایاتو په هکله خپلواکه تحقیق نتیجه ده.

[180] دغه رقم رسمی نیونی او استونی معلومات دتوقیفیانو،راجستر کتاب،ځارنوالی ، او قضاتوپه شمول د ۱۱۶ منازعی اړوند قضایاو دمعلوماتو څخه ترلاسه شو. دکومو په اړوند چی یوناما توانیدلی وه چی اړین معلومات راجمع کړی.

سلنه د ۳۰ ورځو له پاره ساتل شوی وو. دغه توقیفیانو مخکی لدی چی ۹۰/۱۲۴ ریاست ته واستول شی اوسط توګه څلور ورځی د ملی امنیت توقیف کی تیری کړی [181].

- د ملی امنیت ۱۷/۴۰ ریاست مرکزی توقیف خانه کی توقیفیان اوسط توګه د ۱۲۶ ورځو له پاره ساتل شوی وو. [182] پداسی حال کی چی د نافذه قانون پربنسټ په رسمی توګه، دغه ځای توقیف خانه نه ده، خو عمل کی ورڅخه کاراخستل کیږی.
- منازعی اړوند توقیفیان د ملی پولیسو توقیف خانه کی اوسط توګه د ۷ ورځو له پاره ساتل کیدل، ۵۵ سلنه د ۷۲ ساعتو څخه زیات وخت له پاره مخکی له متهم کیدو او لیږلو پاتی شوی.[183]
- هغه توقیفیان چی د نړیوالو ځواکونو له خوا نیول شوی اوسط توګه ۱۱ ورځی توقیف کی ساتل شوی مخکی له دی چی ملی پولیسو یا ملی امنیت نظارت ته ولیږل شی.[184]

دغه موندنی رامنځته شوی تشویش تقویه کوی چی کله توقیفی "خپل ځان دهغه چا په لاس کی وینی کوم چی د بررسی مسؤلیت هم لری او له همدی کبله علاقمند وی چی اقرار او نورمعلومات ترلاسه کړی ترڅو قضیه حل شی".[185] پداسی حال کی چی ۴۶ سلنه منازعی اړوند توقیفیان چی یوناما مرکه ورسره کړی د محکمی څخه مخکی توقیف موده کی شکنجی تجربه کړی، یواځی یوسلنه د یادو توقیفیانو ویلی چی د عدلیه وزارت محابس، توقیف خانه، او ماشومانو اصلاح اوتربیت مرکز کی بد رفتاری ورسره شوی.[186] د یوناما موندنی څرګندوی چی د تعیین شوی میعاد په پام کی نه نیولو او عدم مراعات په صورت کی چی توقیفی د ملی پولیسو او ملی امنیت توقیف کی د ډیری مودی لپاره پاتی کیږی، دا د خپل سری توقیف سبب ګرځی او د شکنجی پر وړاندی د توقیفی د لا زیات زیانمنیدنی سبب ګرځی.

دافغانستان اساسی قانون او جزا قانون، که څه هم په کی د زیاتو قانونی طی مراحلو مصونیتو او قانونی حراست پیشبینی شوی چی شکنجه، بدرفتاری او غیرقانونی توقیف په جزایی سیستم کی منع شوی. اساسی قانون او د جزایی اجرااتو موقت قانون دواړه قضاتو ته لارښونه کوی چی ټول شواهد داقرار په شمول چی جبر سره اخیستل شوی اوسی رد کړی.[187] پولیس او څارنوالان باید چی روښانه توګه د وخت پیروی (مراعت ) وکړی کوم چی د جزایی اجرااتو موقت قانون کی دعاجلو بررسیو غوښتونکی دی او توقیفی هغومره وخت توقیف کی وساتل شی څومره چی ضروری اوسی. توقیفی حق لری چی د نیونی پروخت کی مدافع وکیل ولری.[188]

**د جرم د واردولو لپاره له جبری اقرار څخه استفاده**

دقانونی مصؤنیت برخلاف، قانونی طی مراحلو تضمین په دوامداره توګه په عمل کی، څرنګه چی د دی راپور موندنی یی څرګندوی، په ټول جزایی اجراتو سیستم کی له نظره غورځول کیږی. د قانون تطبیقوونکی او څارنوالان په بشپړه توګه د په محکمه کی د خپل عدلی تعقیب لپاره د مدعی علیه پر جرم اقرار باندی تکیه کوی. په دی ترتیب محکمی په خپل ځای کی په ډیرو لږو حالاتو کی دا څیری چی اقرار به په جبری توګه اخستل شوی وی، حتی که مدعی علیه یا مدافع وکیل د محکمی په دروان کی اعتراض هم وکړی. داسی ښکاری چی نه پولیس،

---

[181] دغه رقم دتوقیفیانو له خوا دتوقیف مودی په اساس جوړشوی کوم چی دوی د۹۰/۱۲۴ ریاست توقیف خانه کی تیرکړی.
[182] دارقم دتوقیفیانو دمعلوماتو په اساس جوړ شوی چی دملی امنیت ۱۷/۴۰ ریاست مرکزی توقیف خانه کی تیر کړی .
[183] دا ارقام د راجستر په کتابونو کی احصائیو، څارنوالانو او قاضیانو څخه اخیستل شوی چی د شخړی اړوند ۳۸ قضیی په کی شاملیږی چی یوناما د هغوی په هکله معلومات راغونډ کړای شول.
[184] دا ارقام د هغو معلوماتو پر اساس ولاړ دی چی توقیفیانو په توقیفخانه کی د خپل توقیف د دوران په هکله شریک کړی دی چی د نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا پر مخ بیول کیږی. یوناما د داسی ۴۹ توقیفیانو سره مرکی کړی چی معلومات یی ورکړی.
[185] A/HRC/13/39/Add.5,para.88 .
[186] توقیفی نمبر۱۰۴ ادعا کړی چی نوموړی دمحبس مدیر له خوا وهل شوی وو.
[187] داساسی قانون پربنسټ ،"وینا ، اقرار یا شهادت چی دمتهم یا بل شخص څخه په جبرسره ترلاسه شوی اوسی باطل دی. جرم باندی اقرار په رضایت سره دباصلاحیته محکمی کی دقاضی پرووړاندی اوسی". (اساسی قانون ،۳۱ ماده) جزای اجرااتو موقت قانون ۵ماده ۴ - ۵ بنداو ۷ ماده وایی چی "مظنون او متهم باید دهیڅ ډول تهدید او قزیکی او روانی فشارلاندی ونه نیول شی ". کوم چی "دهغوی اقرار یا وینا باید په بشپړه توګه ازاده فضاکی ترلاسه شی "، او هغه شواهد چی غیر قانونی یا قانون په پام کی نه نیولو سره جمع شوی اوسی اعتبار نلری او باید چی محکمه دهغی پربنسټ حکم ونکړی.
[188] اساسی قانون،۳۱ماده :جزای اجرااتو موقت قانون ۳۲(۳) او ۳۸ مادی.

نه ملی امنیت، نه څارنوالان او نه هم قضات د دارنګه معلوماتو اعتبار، د اتهام بنسټ، صورت دعوا اوترلاسه شوی شواهد، چی په روښانه توګه په غیرقانونی لارو ترلاسه شوی، تر پوښتنی لاندی راولی.

یاد شوی اعمال د افغانستان قانون څخه سرغړونه ده، نړیوال بشری حقونو او معیارونو او د متخصصینو د نظر سره سمون نه لری چی هغوی په دی عقیده دی چی که معلومات د شکنجی له لاری ترلاسه شوی اوسی، اعتبارنلری او د یوشخص مجر موالی او بیګناهی باندی دلالت نشی کولای.

**دقانونی وخت د حد او په پروسیجرونو کی د مصؤنیتونو نه رعایت**

ملی پولیس او د ملی امنیت مسؤلین د وخت ټاکلی مودی او قانونی هدایاتو ته د بندی د ساتلو د ځای په برخه کی اهمیت نه ورکوی چی د توقیف قانونیت تر سوال لاندی راولی او داسی حالات منځ ته راوړی چی په هغی کی په جبر سره اقرار اخیستل ډیر عام وی. لکه څنګه چی قانونی پروسه پر مخ ځی، هماغه شان قانون دا لازمی کوی چی مظنون، متهم یا محکوم شوی باید له یو ځای څخه بل ځای ته منتقل کړای شی – یعنی د ملی پولیسو او یا ملی امنیت له توقیف ځای څمه محبس ته واستول شی.

دجزای اجرااتو موقت قانون پربنسټ، پولیس باید چی مظنون د ۷۲ ساعتو څخه زیاتی مودی له پاره توقیف کی ونه ساتی کله چی دوی لمړنی تحقیقات وکړی، یوشخص باندی اتهام واردوی او دوسیه ابتدایی څارنوال ته سپاری، څوک چی د پولیس ادعا د توقیف لپاره تاییدوی.[189] یوځل چی توقیفی په جرم باندی متهم شی څارنوال د نیونی له ورځی څخه حد اکثر ۳۰ ورځی وخت لری ترڅو تحقیقات وکړی او د نوموړی مظنون په وړاندی اتهام نامه جوړه.[190] پدی مرحله کی، توقیفی باید چی توقیف خانی ته انتقال شی چی د عدلیه وزارت د محابسو عمومی ریاست له خوا اداره کیږی.[191]

دتوقیف خانو د مسؤولیت جلا والی په دی منظور طرح شوی چی تضمین شی چی توقیفی د اوږد وخت له پاره یواځی د تحقیق مسؤلینو اختیار کی پاتی نشی ترڅو په جبر او بدرفتاری سره د اقرار اخستلو څخه مصؤن واوسی. دغه مصؤنیت ډیر ضروری دی ځکه چی د جزایی اجرااتو قانون کله چی یوشخص ونیول شی د تحقیقاتو لومړی مرحله کی قضاییه قوی ته د توقیف قانونی والی باندی د نظارت واک نه دی ورکړی. برعکس د ډیر لږ قضایی نظارت لاندی څارنوال دا اختیار لری چی د اتهام د واردیدو څخه د محاکمی پوری وخت لنډ کړی یا یی اوږد کړی.[192]

زیات شمیر څارنوالان د ملی امنیت ضد قضایاوو کی خپل د تحقیق صلاحیت ملی امنیت ته ورکوی او انتظار باسی ترڅو چی ملی امنیت خپلی لمړنی څیړنی پای ته ورسوی او توقیفی دعدلیه وزارت محبس ته واستول شی بیا توقیفی څخه تحقیق کوی چی دا شاید څومیاشتی ونیسی.

ځینو قضایاو کی څارنوال خپله صورت دعوا د ملی امنیت له خوا راټولو شوو معلوماتو پربنسټ جوړوی. د څارنوالانو د صلاحیت انتقال دغه سیستم د دی معنی لری چی ځینی توقیفیان د ابتدایه محکمی پیل پوری نه څارنوال او نه هم قاضی سره کتلای شی چی د نیونی وخت څخه ددری میاشتو پوری داوخت غځول کیدی

[189] پولیس قانون ۱۵ او ۲۵ مادی ، او دجزای اجرااتو موقت قانون ۳۱ ماده عدلی پولیس ته حکم کوی چی ۲۴ ساعتونوکی باید مظنون څخه پوښتنی وکړی او نوموړی ته دنیول کیدو دلایل روښانه شی . لدی وروسته د۳۴ مادی پربنسټ څارنوال ۴۸ساعتونوکی دپولیس پوښتنی تایید کړی او پولیس تحقیقات مطالعه کړی.

[190] دا ۳۰ ورځی هغه ۷۲ ساعته چی د نیوونکی اداری سره شخص تیر کړی هم په بر کی نیسی چی د سیاسی او مدنی حقونو نړیوال کمیسیون په ۳۱ او ۳۴ مادو کی راغلی چی د توقیفی د نیول کیدو له وخت څخه تر ۱۵ ورځو پوری څارنوال ته وخت ورکوی چی خپل تحقیق تمام کړی او صورت دعوا جوړه کړی او یا اتهام رد کړی او شخص خوشی کړی. (د نوموړی کنوانسیون ۳۶مه ماده) که دعوی جوړه شی، محکمه باید د دعوی یوه کاپی توقیفی ته ولیږی او د محاکمی لپاره باید یوه نیټه تعیینه کړی.

[191]داد قضایه قوی مسؤلینو عمومی نظردی ، که څه هم قانون په څرکنده توګه د توقیف خانی او توقیف په هکله کوم روښانه تعریف نلری . دمحابسو او توقیف ځایونو قانون ،رسمی جریده شمیره ۹۲۳(۲۰۰۷کال جولای ۱) ۷ ماده . ددی راپور لیکلو په وخت کی وزیرانو شورا پریکړه کړیوه چی پرته دماشومانو داصلاح او تربیت ځایونو دټولو محابسو اوتوقیف خانو مسؤلیت دعدلیه وزارت څخه کورنیو چارو وزارت ته انتقال کړی . دضرورت وړ قانون تغیرات ترلاس لاندی وو. یوناما مرکه د عدلیه وزارت دمحابسو عمومی ریس سره،۲۰۱۱ جون ۷.

[192]دجزای اجرااتو موقت قانون ۶ او ۵۳ مادی ۳بند ب پراګراف.

شی.[193] د داسی سیستم نه موجودیت چی هغی کی توقیفی وکړای شی خپل توقیف قانونیت باندی محکمی ته اعتراض وکړی، داحالت دافغانستان مکلفیت څخه چی د مدنی اوسیاسی حقونو نړیوال کنوانسیون پروړاندی یی لری "دا تضمین چی هر افغان نیول شوی یا توقیفی هرڅه ژر محکمی ته یا نورو عدلی نهادونوته وړاندی شی.... او هم د افغانستان اساسی قانون څخه چی افراد د خپل سری توقیف څخه ساتی" سرغړونه ده.[194]

اکثر ملی پولیسو او ملی امنیت مسؤولینو یوناما ته ویلی چی دوی نشی کولای قانونی وخت مراعات کړی ځکه ۷۲ ساعته لږ وخت دی چی موثره تحقیقات اوبررسی وکړی او د توقیفی پر وړاندی معلومات جمع کړی په ځانګړی توګه ملی امنیت ضد قضایاوکی. دوی همدارنګه لوجیستیکی ستونزی هم یادی کړی. د توقیف پرسونل ضرورت هغه ځایونوکی چی خراب سړکونه لری، خراب امنیت، د توقیف ځای او د نیونی ترمنځ اوږد واټن، نامناسب او محدوده عدلی بشری منابع هغه دلایل دی چی د۷۲ ساعتونو نه مراعت کولو باعث ګرځی.

د ملی امنیت اړوند متهمو افرادو د تحقیقاتو او د دوسیو وړاندی وړلو په برخه کی د جزایی اجرااتو د موقت قانون هر ډول بیا کتنه باید د توقیفیانو د قانونی مصؤنیت او نور تضمینونه، لکه د نیول کیدو له شیبی څخه مدافع وکیل ته لاسرسی، او دا حق چی ډیر ژر د یو با اعتباره محکمی پر وړاندی حضور ومومی او خپل د نیول کیدلو قانونیت معلومه کړی، لا پیاوړی کړی.

**مدافع وکیل ته محدوده لاس رسی**

مدافع وکیل ته لاسرسی نه لرل بله ستونزه ده چی د قانونی طی مراحل څخه تخطی جدی کوی چی د ملی امنیت او ملی پولیس د جبری اقرار اخیستلو او شکنجی، او د توقیف د سلسلی او وخت د مراعات مخنیوی کوی. د افغانستان قانون پر اساس یو توقیفی په ټولو مرحلو کی د مدافع وکیل لرلو حق لری، ولی له ۳۲۴ تنو څخه چی یوناما د ملی پولیس او ملی امنیت توقیف خانو کی مرکی ورسره کړی، یواځی یوتن ویلی چی مدافع وکیل ته یی لاس رسی درلود. تقریبا ټولو مدافع وکیلانو او حقوقی مرسته کوونکو یوناما ته ویلی چی دوی ډیره محدوده لاس رسی د ملی امنیت توقیف خانو ته لری ځکه چی د ملی امنیت کارمندان توقیفیانو ته د دوی د لاس رسی مانع کیږی. د ملی امنیت مسؤلینو په زیاتو قضایاو کی تایید کړی چی دوی فکر کوی چی د مدافع وکیلانو لاس رسی توقیفیانو ته د ملی امنیت د تحقیقاتو مانع ګرځی. وکیل مدافع ته د توقیفیانو د لاسرسی په هکله د یوناما د سوال په ځواب کی د ملی امنیت د یوی ولایتی توقیف خانی مسؤل نظر د ملی امنیت مسؤلینو عمومی نظر ښکارندوی کوی:

*البته چی نه! مدافع وکیلان مخکی د محکمی نه توقیفیانو ته لاسرسی نه لری: دا د ملی امنیت له اصولو څخه دی... مدافع وکیلان په موکل باندی نفوذ لرلای شی او شاید چی بررسی د خطر سره مخ کړی. که چیری مونږ مدافع وکیلانو ته اجازه ورکړو چی زمونږ توقیفیانو سره معامله وکړی، دوی به زمونږ کار ته زیان ورسوی. د نیول شوی شخص تحقیق باید د بهرنیو وګړو په غیاب کی وشی.*[195]

د ملی امنیت څارنوال ځینو ولایتونو کی دا ستونزی تایید کړی، ویی ویل "د دوه کلونو موده کی زه دلته یم، یوه قضیه هم راته معلومه نه ده چی مدافع وکیل د خپل موکل سره د ملی امنیت توقیف خانه کی لیدلی وی" [196] د ملی امنیت هیڅ یو مسؤل هم معلومات نه درلودل چی توقیفی دتوقیف ټولو مرحلوکی دمدافع وکیل لرلو حق لری.[197]

په عمل کی، تحقیقاتو او نورو بررسیو دوران کی د توقیفیانو څخه استازیتوب نه کیږی. یواځی یوتن له ۳۲۴ منازعی اړوند توقیفیانو څخه چی ملی امنیت او ملی پولیسو توقیف خانوکی یوناما مرکی ورسره کړی ویلی چی نوموړی مدافع وکیل ته لاس رسی درلود. څلوېښت سلنه منازعی اړوند توقیفیان او محبوسین وروسته له هغی چی

[193] پورتنی ماخذ
[194] دمدنی او سیاسی حقوقونو نړیوال کنوانسیون ، ۹ ماده (۱) او (۳)بند او دافغانستان اساسی قانون ۲۳ مادی (۱) (۳)بندونه، ۲۴ مادی (۱) او ۲۷ مادی (۱)(۲) بند.
[195] دملی امنیت لایتی دفتر مسؤل سره مرکه ،۲۰۱۱ اپریل۱۷.
[196] دیو ولایت ملی امنیت څارنوال سره مرکه ،۲۰۱۰ نومبر.
[197] دملی امنیت مسؤلیونو په دری ولایتونوکی یوناماته ویلی چی مدافع وکیلان اجازه نلری چی ددوی توقیف خانو ته لاس رسی ولری.(دملی امنیت ولایت مسؤلینو یا دملی امنیت ۱۷/۴۰ ریاست مسؤل سره په دری ولایاتو کی مرکه ۲۰۱۰ اکتوبر او نومبر او اپریل ۲۰۱۱).

عدلیه وزارت اړوند توقیف ځایونوته انتقال شوی ویلی دی چی دوی مدافع وکیل درلود. عمومی توګه هغه توقیفیانو چی دفاع ورڅخه شوی وه (مدافع وکیل یی درلود ) ویلی دی چی مدافع وکیل یی د ابتدایه محکمی جریان کی او یاهم وروسته نیولی دی.

## ۸- دحکومت او نړیوالو غبرګون (ځواب)

### دافغانستان حکومت

دعدلی سیستم اصلاح او پراختیا له پاره د حکومت اولویتونه، دعدلی سیستم د ضعف تصدیق کوی. په دی کی د ډونرانو د مرستو او ملی پانګونی ستراتیژیک استعمال له لاری د خپل سر توقیفونو او د محبوسینو دحقونو محافظت او پراختیا ته ضرورت شاملیږی. ملی پراخیتا ستراتیژی او د قانون او عدالت د ټولو لپاره د ملی اولویتونو پروګرام د اولویتونو کلیدی اهداف مشخصوی چی د قانون د تطبیق او عدلی سیستم حاکمیت (د ۲۰۱۰ اګست څخه ۲۰۱۳ پوری) په لاره کی د هیواد د عدلی ادارو پرمختیا او د ډونرانو مرستو ته جهت ورکوی.

د محبوسینو حقونو په هکله، د قانون او عدالت د ټولو له پاره د ملی اولویت پروګرام خپل هدف ټاکی چی "د افغانانو باور پر دی چی قانون قانون کولای شی د دوی څخه محافظت او دفاع وکړی دیوفر یا یو ملت په توګه" ورغوی. د توقیف د لازیات مسؤلانه تدابیرو د عملی کولو له لاری د محبوسینو د بشری حقونو پراختیا، د دی یوه متوقعه نتیجه ده.

په دی تدابیرو کی د هغو افزارو معرفی چی توقیفیان په لا ښه توګه تعقیبوی او په لا روښانه توګه یی تنظیموی، چی در توقیفیانو د قضیو د تعقیب سیستم به په کی وی، د مرکزی محبس ریاست ته د محبوسینو په هکله د ټولو معلوماتو د مجموعی انتقال، د عدلی طب د شواهدو د وړاندی کولو او ساتلو د میکانیزم رامنځ ته کول، او د محبوسینو د غیر قانونی توقیف په صورت کی د جبران په نظر کی نیول، د خپل سری توقیفونو د واقعاتو په شمول، راځی. که چیری په سمه توګه تطبیق شی، دا ټول تدابیر به د شکنجی او ناوړه چلند په وړاندی د مصؤنیت په توګه عمل وکړی او د طرح کولو موخه یی پر اقرار باندی د محاکمی د اساسی شواهدو د منبع په توګه د عدلی جزایی سیستم اتکاء کمول دی.[198]

د حکومت او نړیوالو د قانون د حاکمیت د اصلاحاتو تأکید هم د فساد پر وړاندی پر مبارزی او له صلاحیت څخه سوء استفاده باندی دی او د ملی ادارو د نظارت لپاره یی ځانګړی تدابیر وړاندی کړی دی. د قضایی قوانینو اصلاح د قانونی طی مراحلو د ضمانتونو پر حمایت او پر قانونی خوندیتوبونو تمرکز لری چی تر دی دمه د دی راپور د موندنو له مخی یی دواړه مثبت او منفی نتایج لرلی دی.

د ماشومانو په برخه کی، د افغانستان حکومت او ملګرو ملتونو د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۳۰ مه ملی امنیتی ځواکونو کی د ماشومانو د جذب او استعمال د مخنیوی کاری پلان لاسلیک کړ. دا کاری پلان هغه فعالیتونه احتوا کوی چی دا ډاډمنوی چی هغه ماشومانو سره چی تصور کیږی د وسله والو ډلو سره تړاو لری د ماشومانو د عدلی نړیوالو معیارونو سره سم چلند وشی، او دا چی د داخلی وزارت، ملی امنیت او د دفاع وزارت د هغو ماشومانو د ځانګړو قضایاو د پر مخ بیولو په خاطر چی د وسله والو ډلو سره تړاو لری او نیول کیږی، ځانګړی ټریننګ ورکړی او پروسیجرونه جوړ کړی. د دی پلان د تطبیق د قاعدی راپور هم ملی امنیت مکلفوی چی د ملی امنیت کارکوونکو له خوا د ۱۸ کلونو څخه کمو توقیفیانو سره د ناوړه چلند واقعاتو کی تحقیات وکړی او عاملین یی عزل کړی.

### نړیوال همکاران

د افغانستان نړیوال شریکان او دونران له ډیرو کلونو راهیسی د افغانستان د جزایی عدلی سیستم سره تخنیکی مرستی کوی او ملاتړ یی کوی تر څو قوانین، عملی پروسیجرونه او د ملی امنیت او ملی پولیسو په شمول مسلکی برخورد لا هم ښه شی. د امریکی د عدلیی او خارجه وزارتونو د ملی امنیت څارنوالانو ته ډیری تربیوی

---

[198] دملی الویت پروګرام دقانون او عدالت ټولوله پاره (حکومت داری پرګرام ۵)،جون۲۰۱۱.

مرستي کړې دي چې د جرايمو د لوی کاري ګروپ او د ډونرانو د مرستو پروګرامونو له لارې عملي شوې.[199] همدا شان، ګڼ شمير قاضيانو، څارنوالانو او جنايي تحقيق کوونکو ته به داخله وزارت او ملي پوليسو کې د مسلکي ټرينګونو، ظرفيت لوړولو او مهارتونو د ودې پروګرامونه تطبيق شوي دي چې هدف يې د دوی د مسلکي ظرفيت ښه کول او د جرايمو، بې ثباتي او تروريزم پر وړاندې د مبارزې مؤثريت لوړل و.[200]

د ملي امنيت پرسونل لپاره د توقيف، استخباراتو راټولو او تحقيق کولو په برخه کې د نړيوالو مادي مرستې او د حمايت اندازه لا په عامه توګه معلومه نه ده. د مختلفو سفارتونو استازو يوناما ته څرګنده کړه چې د نړيوالو مرستندويو تر منځ يو د هماهنګۍ ميکانيزم شته چې د هڅو له دوګانګۍ څخه مخنيوی کوي. ډونرانو هم د زياتو غوښتنو سره سره په دې هکله زيات معلومات شريک نه کړل.

ويل کيږي چې ملي امنيت له جرمني، بريتانيا، او امريکې څخه تخنيکي مرستې او ټرينګ ترلاسه کوي.[201] د امريکې د عدليه وزارت د بيلابيلو عدلي پروګرامونو له لارې ګڼ شمير د عدلي سکتور مشاورينو ملي امنيت ته مشوری او مرستې رسولې دي چې د جرايمو د لوی کاري ډلې له لارې او د مستقيمو مرستو پروګرامونو په ذريعه د ملي امنيت مختلفو ادارو ته رسول شوې دي.[202] د امريکې خارجه وزارت د ملي امنيت د تربيې لپاره قراردادي کارکوونکې استخداموي. دا معلومه نه دی چې په دې ټرينګونو کې د بشري حقونو برخه هم شامله ده او که نه.

په توقيف خانو کې د ملي امنيت ناوړه چلند او د استخباراتو راټولولو ناوړه لارې کيدای شي د احتساب د تدابيرو د عملي کولو، د نظارت تطبيق او د قوانينو او پاليسۍ ګانو د اصلاح او ملي امنيت کارکوونکو ته د شکنجې او زور او نورو غير قانوني لارو څخه بغير د توقيفيانو سره د مصاحبو د ټرينګ په برخه کې هڅو شريکولو له لارې سميدلای شي. يوناما په دې باور ده چې داسې هڅې چې د نړيوال حمايت لاندې تربيوي پروګرامونه او د مرستو د پروژې او پروګرامونه عملي شي (لکه څنګه چې د حکومت نورو ادارو سره شوي)، به مرسته وکړي چې ملي امنيت سره مرسته وکړي چې د شکنجې او ناوړه چلند څخه لاس واخلي او دا هڅې بايد د مناسبو خونديتوبونو او د ضرورت وړ کوښښ سره ملې وي.

## ۹- پايله (حل)

يوناما د خپل توقيف خانو د نظارت په مرسته د ملي امنيت او ملي پوليسو په يو شمير توقيف خانو کې په سيستماتيکه توګه د شکنجې او ناوړه چلند قوي نمونې او کړنې وموندلې. په ډيرو نورو داسې تسهيلاتو کې، يوناما د ناوړه چلند کړنې او ادعاوې مستندې کړې چې د شکنجې او ناوړه چلند د احتمال تشويش زياتوي. دا ادعا ګانې وړاندې پلټنې او تحقيق او د ټولو مراجعو له خوا عاجل اقدام غواړي. د تحقيق د هغو ميتودونو استعمال لکه ځوړندول، وهل، برقي شاک ورکول، په سختو شرايطو کې راوستل، او پر جنسي تيرې تهديدول د نړيوال بشري حقونو قانوي او معيارونو، د افغانستان قوانينو او امنيتي ځواکونو د مسلکي معيارونو له مخې د منلو وړ نه دي. بالخصوص، هغه ناوړه سلوک چې د توقيف شوو ماشومانو پر وړاندې وموندل شو، په ښکاره دا څرګندوي چې بايد ملي امنيت او ملي پوليس په عاجله توګه اصلاحي اقدامات وکړي تر څو مناسب نظارت او احتساب په ټولو سطوحو کې تأمين کړي.

ملي امنيت او ملي پوليس د دې لپاره چې خپل ريکارډ ښه کړي او خپل د بشري حقونو مکلفيتونه پوره کړي، بايد په جدي توګه سيستميک اصلاحات راولي او هر ډول شکنجه او ناوړه چلند ودروي. د دې لپاره چې ټول د

---

[199] "FBI ريس دافغانستان دستروجرايموسره مبارزى نظارتخانه پرنستل غوندى "، اعلاميه ،۲۵ فبروريو ۲۰۱۰.http://Kabul.usembassy.gov/pr-02252010.html.

[200] دافغانستان له پاره دقانون او حکم وجهى صندوق ، کلنى مختګ راپور ۲۰۱۰(UNDP Afghanistan) لاسرسى وړ په http://www.undp.org.af/whoweare/undpafghanistan/project/sbgs/prg-otfa.htm.

[201] Mark Sedra,Geneva Centre for the Democratic Dontrol of Armed Forces,Security Sector Transformation in Afghanistan,Working paperNo.143,August2004,www.dcaf.ch/-docs/WP143.pdf.

[202] داروپا پوليسو قانوو حاکميت سلاکار سره ديوناما ليدنه، ۲۱جولاى ۲۰۱۱،کابل

ملی امنیت او ملی پولیسو کارکوونکی وپوهیږی چی شکنجه څه شی دی او پوه شی چی د دی لارو اسعمال د افغانستان د اساسی قانون، جزا قانون او نړیوالو قوانینو له مخی غیر قانونی دی، او د داسی اعمالو کوونکی او هغوی چی سترګی ورڅخه پټی کړی باید عدلی تعقیب او انظباطی جزاء سره مخ شی، ځانګړی او بیړنیز داخلی تعلیم ته ضرورت دی.

نړیوال حمایت او مرستی کولای شی په دی قوی رول ولوبوی. د مرستندویه هیوادونو د تمویل پریکړی باید پر دی ولاړی وی چی ملی امنیت او ملی پولیس د شکنجی له منځه وړلو او د تحقیق د ناوړه لارو څخه د نه استفادی لپاره اقدام وکړی چی باید د مناسبو خوندیتوبونو سره یوځای وی. باید د تحقیق په هغه میتودونو کی چی فشار په کی نه وی، د محابسو معاصر مدیریت او اداره او د شکنجی د منع او د قانونی تحفظ د احترام په برخه کی د ملی قانونی نورمونو او نړیوالو معیارونو، او قانونی طی مراحلو حق په برخه کی ټریننګ ورکول ډیر حیاتی ارزښت لری. په اوسنیو حالاتو کی چی له نړیوالو امنیتی ځواکونو څخه امنیتی مسؤولیت ملی امنیتی ځواکونو ته انتقالیږی، دا لازمی او ډیره مهمه ده چی ملی امنیت او ملی پولیس توقیفیانو سره ناوړه سلوک نه کوی او د خپل سری توقیف او غلط سلوک له وجی نارضایتی ګانی لا ډیری نه کړی.

یوناما د شکنجی او ناوړه سلوک او د پخپل سر توقیف د ستونزو د له منځه وړلو په موخه مشخصی سپارښتنی کوی چی د اصلاح او پر وخت مرستی او همکاری په روحیه یی افغان چارواکو او نړیوالو شریکبانو ته وړاندی کوی.

## ۱۰- سپارښتنې

**د ملی امنیت ریاست ته:**

- د ملی امنیت په ټولو توقیف خانو کی باید ژرترژه داسی اقدامات ونیول شی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی بالخصوص په هغه توقیف ځایونو کی چی داسی اعمال د تحقیق د میتود په توګه کارول کیږی:
  - د هرات، کندهار، خوست او لغمان ولایتی دفترونو او په کابل کی د دی ریاست د تروریزم ضد مبارزی د ۱۲۴/۹۰ ریاست په توقیف خانو کی د ملی امنیت د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله دی تحقیق وکړی. هغه کارکوونکی چی مسؤول ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب او مجازات شی. خپلواکه ناظرینو ته دی اجازه ورکړ شی تر څو له دغو تحقیقاتو څخه نظارت وکړی. د دغو تحقیقاتو د موندنو او اصلاحی اقداماتو په هکله دی په ښکاره راپور ورکړی شی.
  - ژرترژره دی لارښونی صادر کړی چی په او ناوړه چلند په ټولو حالتونو کی او د ملی امنیت ریاست ټولو کارکوونکو لپاره منع کړی. او هغوی او د دوی امرین دی له دی څخه خبر کړی چی د دغسی اعمالو د ارتکاب، امرورکوونی یا پټونی په صورت کی به عدلی تعقیب او مجازات کیږی.
  - ټولو مستقلو ناظرینو ته، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو ته دی د ملی امنیت په ټولو توقیف ځایونو کی د بشپړ، دوامداره او بی له ځنډه نظارت اجازه ورکړی.
- د ملی امنیت ریاست د فعالیتونو او د توقیف خانو څخه د نظارت د کمیسیون د کار طریقی ته دی بیا کتنه وشی، تشخیص دی کړی چی ولی دغه کمیسیون په یادو شوو توقیف خانو کی ترسره شوی شکنجی نه دی رابرسیره کړی. داسی روشونه دی خپل کړی چی په راتلونکی کی د توقیف خانو موثر نظارت تأمین کړی.
- د بهرنی احتساب یو میکانیزم دی تطبیق کړی چی د ملی امنیت په توقیف خانو کی د ناوړه چلند راپورونو په برخه کی خپلواکه او رښو تحقیقاتو ته اجازه ورکړی.
- ډاډمنه دی کړی چی د ملی امنیت ټول مستنطقین او د هغوی آمرینو ته د تحقیق د قانونی او مؤثرو کړنلارو، تحقیق د بدیلو لارو (لکه عدلی طب) په برخه کی او د داخلی او نړیوالو قوانینو په هکله چی شکنجه او ناوړه سلوک منع کوی، د نړیوالو شریکانو په مرسته ټریننګ ورکړل شی.
- هغه پالیسی ګانی او کړنی دی تعدیل کړی چی مدافع وکیلانو ته اجازه ورکوی تر څو توقیفیانو ته لاس رسی ولری. مدافع وکیلانو ته د دی اجازه هم ورکړ شی چی له ټولو توقیف خانو څخه لیدنه وکړی او حقوقی خدمات ټولو توقیفیانوته د محاکمی په هره مرحله کی د افغانستان د قوانینو سره سم وړاندی کړی.
- توقیفی سره د کورنی د غړو د لیدنی پ هکله پالیسی دی تعدیل کړای شی. ژر تر ژره دی د توقیفی کورنۍ د توقیفی له حال څخه خبره کړی او د ملی امنیت د نیونی په صورت کی د ډیر مشخص او معقول دلیل په موجودیت کی دی که د کورنی بیرنی خبرونه ممکنه نه وی، حد اکثر تر ۱۸ ساعتونو پوری کورنی خبره کړی. د کورنۍ غړو ته دی د توقیفی د لیدلو اجازه ورکړی.

**دافغانستان ملی پولیس ته:**

- ژر تر ژره دی داسی اقدامات ونیسی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی:
  - د ملی پولیسو په ټولو نظارتخانو کی دی د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله تحقیق وکړی، او هغه کارکوونکی چی مسؤول ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب، اظباطی اقداماتو سره مخ او مجازات شی.

- د ټولو تحقیقاتو خپلواکه نظارت او د موندنو او اصلاحی اقداماتو په هکله په آزاده توګه رپورټ ورکولو ته دی اجازه ورکړی.

- د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو خپلواکه ناظرینوت دی د ملی پولیسو او داخله وزارت په ټولو نظارتخانو کی د نظارت اجاره وکړی.

- داسی هدایات دی صادر او عملی کړی چی په هغو کی پولیسو ته هدایت ورکړ شی چی د جنایی تحقیقاتو د څانګی، د تروریزم سره د مبارزی څانګی او یا دی ته ورته نورو څانګو څخه یوازی یو شمیر محدود افسران کولای شی تحقیقات تر سره کړی. د قانونی او مؤثرو تحقیقاتو او د شکنجی او ناوړه چلند د منع کولو قانونی منع کیدلو په هکله دی د معیاری اجراآتو پروسیجر او لارښودونه صادر کړای شی.

**د افغانستان حکومت ته:**

- هغه قانونی چوکاټ او پروسیجرونه دی طرح کړی چی د ملی امنیت اجراآت علنی او شفافه کړی، او داډمنه دی کړی چی دا قانونی پروسیجرونه د شدیدو جرمی خطاګانو، د ملی امنیت له خوا د بندیانو د شکنجی او ناوړه چلند په شمول، خارجی تحقیقاتو او عدلی تعقیب او په ملکی عدلی سیستم کی رسیده ګۍ ته زمینه برابره کړی.

- د هر ډول نظارتی اداری او د بشری حقونو سازمانونو، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او یوناما په شمول، ته دی توقیف ځایونو او زندانونو ته لاسرسی تأمین کړی.

- په هر ولایت کی دی په کافی اندازه د مسلکی مدافع وکیلانو شتون داډمن کړی.

- د شکنجی او ناوړه چلند د متأثرینو او مصدومینو لپاره دی د معاوضی او جبران مؤثر او د لاسرسی وړ میکانیزمونه جوړ کړی.

- د شکنجی، نورو ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیروونکو چلندونو او سزا ګانو پر ضد دی اختیاری پروتوکول تصویب کړی او یو محلی مؤثر او خپلواک د نظارت یو سیستتم دی جوړ کړی (چی کیدای شی د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون تر چتر لاندی وی).

**ستری محکمی ته:**

- د ابتداییه او مرافعه محاکمو قاضیانو ته هدایت ورکړ شی چی د شکنجی او جبری اقرارونو ټولی ادعاګانی وڅیړی او څرنګه چی په اساسی قانون او د جزایی اجرااتو په موقت قانون کی تصریح شوی دی د شکنجی له لاری د معلوماتو د لاس ته راوړلو روش په جدی توګه منع کړی.

**ستری محکمی ، عدلیی وزارت ، کورنیو چارو وزارت او پارلمان ته:**

- د جزایی اجرااتو موقت قانون دی بیا وکتل شی او د توقیفی حق چی هرڅه عاجل محکمی ته وړاندی شی باید پیشبینی شی او مخکی د محکمی څخه توقیف باندی اعتراض حق دی د محکمی بیرنی حکم سره سم تضمین شی.

**هغه هیوادونو ته چی افغانستان کی سرتیری لری او نورو ذیدخله هیوادونو ته:**

- د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو توقیف خانو او مرکزونو ته چی هلته د شکنجی او ناوړه چلند ادعاګانی موجود دی د توقیفیانو انتقال دی وځنډول شی. د ملی امنیت ریاست د هغو توقیف خانو د نظارتی میکانیزم بیا کتنه دی وکړی چی توقیفیان هلته انتقالیږی او د دی ډاډ دی حاصل شی چی توقیفیان د شکنجی له خطر سره نه مخامخ کیږی.

- د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیس توقیف خانو ته د انتقال د پالیسی گانو بیا کتنه دی وشی تر څو مناسب ضمانتونه تأمین شی او په ګډو عملیاتو کی برخه اخیستل، د مالی منابعو برابرول، د انتقال پروسه، ګډی استخباراتی اړیکی او نور روشونو څخه دی د شکنجی د مخنیوی او د پولیس او ملی امنیت د اصلاح د وسایلو په توګه استفاده وشی.

- د ملی پولیسو او ملی امنیت د پرسونل او تسهیلاتو ظرفیت ته دی د توقیفیانو پر بشری حقونو او د توقیف پر طریقو ټریننګ او تربیی له لاری د نړیوالو بشری حقونو معیارونو مطابق وده ورکړای شی.

- د ملی امنیت او ملی پولیسو ټولو مستنطقینو او د هغوی آمرینو ته دی د تحقیقاتو پر قانونی او مؤثرو میتودونو او بدیلو د تحقیق روشونو (لکه عدلی طب) ټریننګ په موخه هڅی لا زیاتی کړی.

# ضمیمه :۱ د تطبیق وړ قانون

## ۱. د شکنجی ، ظالمانه ،غیر انسانی او سپکاوی نه ډک چلند څخه قانونی مخنیوی

### د نړیوال قانون له مخی مکلفیت

څو نړیوال تړونونه، چی افغانستان د هغی عضوه دی ،شکنجه یی منع کړی ده. د دی له جملی څخه د شکنجی ، غیر انساني او سپکاوی نه ډک چلند او سزاګانو پر ضد کنوانسیون ، د سیاسی او مدنی حقونو کنوانسیون( آیی سی سی پی ار) ، د ژنیو د ۱۹۴۹ کال تړونونه ، د روم منشور او نړیوال جنایی محکمه او د ماشومانی د حقونو نړیوال قانونو ( سی ار سی) ۳۷ مادی لومړی بند څخه عبارت دی[203] .

دولت مکلفیت لری چی د شکنجی پر ضد ، د هغی منع والی ته درناوی وکړی، او نه تجزیه کیدو نه مفهوم یی دادی چی د دی تعلیق کول او بندیز لګولو کی پاتی راتلل هیڅ جواز نه لری . پرته له کومی استثنا ، که د جنګ حالت وی او یا د جنګ ګواښ وی ، خپل منځی سیاسی شخړی وی یا عمومی اضطراری حالت ، شاید د شکنجی لپاره لاره برابره کړی، چی په هر حالت کی تعذیب منع دی[204] . د دی سره ، د سیاسی او مدنی حقونو د ۴,۲ مادی په رڼا کی هیوادونه د شکنجی ، ظالمانه ، غیر انسانی، تحقیر امیز سلوک د ممانعت په هکله ، د سیاسی او مدنی حقونو نړیوال کنوانسیون د ۷ مادی مطابق د خفت مجاز نه لری .

### د ملی قانون له مخی مکلفیت

د افغانستان اساسی قانون له مخی د انسان تعذیب منع دی , هیڅوک نشی کولای چی له بل شخص څخه حتی د حقایقو تر لاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب ، نیونی یا توقیف لاندی وی او یا په جزا محکوم وی ، د هغه د تعذیب اقدام وکړی یا یی د تعذیب امر ورکړی[205] . د ۲۰۰۵ کال د اطفالو قانون د ماشومانوپر وړاندی د شدید مجازاتو مخنیوی کوی[206] .

د افغانستان د جزا قانون له مخی شکنجه جرم دی . د دی قانوی د ۲۷۵ مادی مطابق که یو رسمی مامور د تورن څخه د اعتراف اخستلو په موخه تعذیب کړی ،نو د اوږدی مودی په حبس محکومیږی چی د پنځه کلونو څخه تر ۱۵ کلونو پوری وی[207] .

### د تعذیب تعریف

په دی راپور کی د تعذیب په هکله تعریف ، د شکنجی پر ضد کنواسیون څخه اخستل شوی دی .

د دی کنوانسیون په هدف ،د تعذیب کلمی مفهوم ، هغه عمل چی له امله یی په ارادی ډول یو کس ته فزیکی یا روانی، شدید درد او یا زورونه ورکړل کیږی ،چی په پایله کی د نوموړی څخه په خپله یا د بل کس په هکله معلومات او یا اعتراف تر لاسه کړی ، د یو فعل له امله چی یو کس تر سره کړی وی یا بل څوک د یو فعل مرتکب شوی وی، سزا ورکړل کیږی ،یا یو مظنون چی ګوندی د یوفعل مرتکب شوی او دا ورباندی په خپله یا دریم کس تهدیدیږی او زور باندی اچول کیږی ، یا د یو رنګ تبعیض له امله چی د نورو وجوهاتو پر اساس وی ، د کوم

---

